# دَ لُوقا په مُطابق دَ مالِک عيسىٰ مسيح زيرے

## لُوقا باب ۱

### دَ تيوفيلوس په نُوم

۱ اَئِے خوږَ تيوفيلوسه! ډيرو خلقو په دے لاس پورے کړے دے چه دَ هغه واقعاتو ترتيب وار بيان وکړى
کُوم چه زمُونږ په مينځ کښے تير شوى دى. ۲ بلکه هغوئ مُونږ ته خبرے حواله کړے دى اَؤ چا چه دا
واقعات دَ سر نه په خپلو سترګو ليدلى وُو اَؤ دَ زيرى خادمان وُو. ۳ نو زَهٔ هم په خپل وار،اَئِے خوږه
تيوفيلوسه! ستا دَ پاره دَ پُوره تحقيق نه پس دا ټولے خبرے په تر تيب سره نقل کوم. ٤ دا دَ دے دَ پاره
چه تا ته دَ هغه خبرو په حقله صحيح معلُومات درکړم دَ کُومو نه چه تهٔ خبر کړے شوے يئے.

### دَ يحيىٰ بپتسمه ورکوُونکى دَ پيدايښت پيشن ګوئى

٥ دَ يهُوديه دَ هيروديس بادشاه په زمانه کښے يو کاهن وُو چه نُوم ئے ذکرياه وُو. دے دَ ابياه په فرقه
کښے وُو. دَ هغهٔ ښځه هم دَ هارُون دَ اولاده وه. دَ هغے نوم اليشبع وُو. ٦ دوئ دواړه دَ خُدائے رښتينى
اَؤ حُکم منُونکى وُو اَؤ دَ رب ټول حُکمُونه اَؤ قانُونُونه ئے بے عيبَ منل. ٧ خو دَ هغوئ اولاد نهٔ وُو ځکه
چه اليشبع شنډه وه اَؤ دوئ دواړه دَ ډير عُمر وُو. ٨ يو ځلے چه ذکرياه دَ فرقے وار وُو اَؤ هغهٔ دَ کاهنئ
فرض پُوره کاوو، ٩ نو دَ کاهنئ دَ دستُور په موافق دَ هغهٔ هسک راوختو چه دَ خُدائے کور ته ننوزى اَؤ
خوشبوئ ئے وسيزى. ١٠ اَؤ بهر ټوله جمع په عبادت کښے مشغُوله وه. ١١ دا دَ خوشبوئ دَ سيزولو وخت
وُو چه دَ خُدائے يوه فرښته په دغه وخت دَ خوشبوئ دَ قُربانګاه ښى طرف ته ولاړه ښکاره شوه. ١٢ دَ
دے په ليدلو ذکرياه حيران شو اَؤ ويرے واخستو. ١٣ خو فرښتے هغهٔ ته ووئيل،"ذکرياه! ويرېږه مه! ستا
دُعا قبوله شوه،ستا ښځه اليشبع به تا له يو زوئے راؤرى اَؤ تهٔ به دَ هغهٔ نُوم يحيىٰ کيږدے. ١٤ ستا زړهٔ به
دَ خوشحالئ نه ډک وى اَؤ ډير به دَ هغهٔ په پيدايښت خوشحاله شى، ١٥ ځکه چه هغه به دَ خُدائے په
نزد لوئے وى. هغه به مَئے ته چرے ګوتے نهٔ وروړى اَؤ نهٔ به څهٔ نور شراب وڅښى،دَ مور دَ ګيډے نه به
هغه په رُوحُ القُدس معمُور وى، ١٦ اَؤ هغه به ډير بنى اِسرائيل دَ رب لارے ته راواړَوى. ١٧ هغه به دَ
مالک وړاندے دَ اِلياس په رُوح اَؤ طاقت په شان روان وى چه دَ پلارُونو اَؤ دَ زامنو ترون راولى اَؤ نافرمانه
به دَ رښتينو په لار روان کړى اَؤ چه دَ رب دَ پاره يو فرمانبردار اُمت تيار کړى."

١٨ ذکرياه فرښتے ته ووئيل،"زَهٔ څنګه په دے باور کولے شم؟ زَهٔ په خپله بُوډا سړے يم اَؤ زما ښځه هم
عُمر خوړلے ده."

١٩ فرښتے جواب ورکړو چه "زَهٔ جبرائيل يم،زَهٔ دَ خُدائے په حضُور کښے ودريږم اَؤ زَهٔ ئے ستا سره دَ
خبرو کولو اَؤ دَ دے زيرى در کولو دَ پاره راليږلے يم. ٢٠ خو اوس واؤره چه تهٔ به دَ خبرو طاقت بائلے اَؤ
دَ دے کار دَ کيدو پورے به ستا خُلهٔ بنده وى ځکه چه تا په ما باور ونهٔ کړو. ځکه چه په خپل مُقرر
وخت به زما خبره درسته ثابته شى."

۲۱ په دے دوران کښے خلق دَ ذکرياه په اِنتظار وُو اَوُ حيران وُو چه هغه دَ خُدائے په کور کښے دومره
ولے ايسار شو. ۲۲ کله چه هغه راووتو نو دَ هغوئ سره ئے خبرے نۀ شوے کولے اَوُ هغوئ پوهه شُو چه
هغۀ دَ خُدائے په کور کښے څۀ رويا وليده. هغه هلته کښے ودريدو اَوُ هغوئ ته ئے اِشارے کولے خو ژبه
ئے نۀ چليده. ۲۳ هر کله چه دَ هغۀ دَ ذمه وارئ ورځے ختمے شوے نو ذکرياه کور ته لاړو. ۲٤ دَ دے
نه پس دَ ذکرياه ښځه اليشبع اُميدواره شوه اَوُ پنځهٔ مياشتے هغے خپل ځان پټ وساتلو. ٤٥ دا ئے ووئيل
چه”دا دَ خُدائے امر دے،آخر هغۀ په ما نظر وکړو اَوُ زۀ ئے دَ بنی آدمو په وړاندے دَ سپکاوی نه
وساتلم!“

## دَ عيسیٰ دَ پيدايښت پيشن گوئی

۲٦ بيا په شپږمه مياشت خُدائے جبرائيل فرښته دَ گليل په ناصرت نومے ښار کښے يوے پيغلے ته راواستوله
۲۷ چه کوژدن ئے دَ داؤد دَ خاندان يُوسف نومے سړی سره شوے وه اَوُ دَ دے پيغلے نُوم مريم وُو. ۲۸
فرښته دَ ننه لاړه اَوُ هغے ته ئے ووئيل،”په تا سلام چه درباندے ډير فضل شوے دے،رب ستا مل دے!“

۲۹ هغے چه څۀ ووئيل په هغے ډيره فکرمنده شوه اَوُ حيرانه وه چه دَ دے مُبارکئ څۀ مطلب دے. ۳۰ بيا
فرښتے هغے ته ووئيل چه”مريمے! ويريږه مه! خُدائے په تا مهربانه شوے دے. ۳۱ تۀ به اُميدواره شے اَوُ يو
زوئے به دِ وشی اَوُ تۀ به دَ هغۀ نُوم عيسیٰ کيږدے. ۳۲ هغه به لوئے وی اَوُ هغه به دَ الاعلیٰ زوئے وبللے
شی. مالِک خُدائے به هغۀ ته دَ نيکهٔ داؤد تخت ورکړی. ۳۳ هغه به دَ تل دَ پاره دَ يعقُوب په خاندان
بادشاهی کوی اَوُ بادشاهی به ئے هيڅکله نۀ ختميږی!“ ۳٤ مريمے ووئيل چه”دا څنگه کيدے شی؟ زۀ
خو لا وادۀ شوے هم نۀ يم.“

۳۵ فرښتے جواب ورکړو،”رُوحُ القُدس به په تا نازل شی اَوُ دَ الاعلیٰ قُدرت به په تا سورے وکړی اَوُ په
دے وجه به هغه پاک پيدا کيدُونکے ماشُوم دَ خُدائے زوئے بللے شی. ۳٦ بله دا چه ستا خپلوانه اليشبع
هم اُميدواره ده اَوُ په زوړ عُمر به زوئے راوړی اَوُ خوک چه په شنډه مشهُوره وه،دَ هغے دَ اُميدوارئ شپږمه
مياشت ده. ۳۷ ځکه چه دَ خُدائے وعدے به هيڅکله بے طاقته پاتے نۀ شی.“

۳۸ مريم ووئيل چه”زۀ دَ رب وينځه يم. تا چه څۀ وئيلی دی،داسے دِ وشی.“بيا فرښته دَ هغے نه لاړه.

## دَ مريمے دَ اليشبع سره مُلاقات

۳۹ په دغه وخت مريم پاځيده اَوُ نيغه يو کلی ته لاړه کُوم چه دَ يهوداه په غريزه علاقه کښے وُو. ٤٠ هغه
دَ ذکرياه کره ورغله اَوُ اليشبع ته ئے سلام وکړو. ٤١ اَوُ هر کله چه اليشبع دَ مريمے سلام واؤريدو نو بچی
دَ هغے په گيډه کښے ټوپ ووهلو اَوُ بيا اليشبع دَ رُوحُ القُدس نه معمُوره شوه. ٤۲ اَوُ په زوره ئے
ووئيل،”په ټولو ښځو کښے تۀ دَ خُدائے په نزد مُبارکه يئے اَوُ دا لوئے والے ستا دَ گيډے دَ ميوے په
وسيله دے! ٤۳ زۀ څوک يم چه زما دَ مالِک مور دِ زما ليدو له راشی؟ ٤٤ زۀ تا ته دا وايم چه څوک هر
کله چه ستا سلام زما تر غوږو شو نو زما په گيډه کښے زما بچی ټوپ ووهلو. ٤٥ څومره بختوره ده هغه
چه په دے ئے ايمان دے چه دَ خُدائے قول به پُوره شی!“

## دَ مریمے دَ حمد گیت

٤٦ اَؤ مریمے ووئیل چه

ائے زما زړۀ! دَ رب لوئی بیان کړه!”

٤٧ اَئے زما زړۀ ! خوشحالی وکړه،خوشحالی وکړه!

زما دَ خلاصوُونکی خُدائے په نُوم،

٤٨ چه هغۀ دَ خپلے عاجزے وینځے په حال

دومره لوئے نظر کړے دے!

دَ نن ورځے نه پس به راتلُونکے ټولے پیړئ

ما ته بختوره وائی.

٤٩ هغۀ زما دَ پاره دومره لوئے کارُونه کړی دی.

دَ هغۀ نُوم پاک دے.

٥٠ اَؤ څوک چه دَ هغۀ نه ویریږی،

په هغو دَ هغۀ رحم پیړئ په پیړئ دے.

٥١ اَؤ هغه کارُونه چه دَ هغۀ لاس کړی دی،

دَ هغۀ قوت څرگندوی.

دَ زړۀ اَؤ رُوح کبرژن ئے خوارۀ وارۀ کړی دی.

٥٢ هغۀ بادشاهان دَ تختُونو نه راغورزولی دی

خو غریبان ئے لویو مرتبو ته رسولی دی.

٥٣ وږی ئے په ښۀ څیزُونو مارۀ کړی دی

اَؤ مالدار ئے تش لاس بیرته لیږلی دی.

٥٤ هغۀ دَ خپل خادم اِسرائیل مدد کړے دے،

لکه چه زمُونږ نیکُونو ته هغهٔ وئیلی وُو،

٥٥ هغهٔ په اِبراهیم اَوُ دَ هغهٔ په اَوُلاد رحم کول

چرے هیر نۀ کړو.“

٥٦ مریم دَ هغې سره درے میاشتے پاتے شوه اَوُ بیا کور ته واپس راغله.

## دَ یحییٰ بپتسمه ورکوُونکی پیدایښت

٥٧ بیا دَ الیشبع دَ بچی پیدا کیدو نیټه پُوره شوه اَوُ دَ هغې زوئے پیدا شو. ٥٨ هر کله چه دَ هغې ګاونډیانو
اَوُ خپلوانو دا واؤریدل نو ډیره زیاته خوشحالی ئے ورسره وکړه چه رب پرے دا رحم وکړو.

٥٩ اَوُ هغوئ په اتمه ورځ بیا راغلل چه ماشُوم سُنت کړی اَوُ هغوئ دَ هغهٔ دَ پلار نُوم پرے ذکریاه
کیښودلو. ٦٠ خو دَ هغهٔ مور ورته ووئیل چه”نه! دا به یحییٰ بللے شی.“

٦١ خو هغوئ ووئیل چه”ستا په خاندان کښے خو دَ هیچا هم داسے نُوم نِشته!“ ٦٢ بیا هغوئ دَ هغهٔ دَ
پلار نه په اِشارو تپوس وکړو چه”دَ دَهٔ نُوم څهٔ په کار دے؟“

٦٣ هغهٔ دَ لیکلو تختئ راوغوښته اَوُ په دے ټول حیران شول چه هغهٔ دا ولیکل چه”دَ دَهٔ نُوم یحییٰ دے.“
٦٤ سمدستی دَ هغهٔ شُونډے اَوُ ژبه آزاد شول اَوُ هغه ګویا شو اَوُ دَ خُدائے ثنا ئے ووئیله. ٦٥ ټول ګاونډیان
په دے هیبت واخستل اَوُ دا خبرے دَ یهُودیه په غریزه علاقه کښے هر پلو خورے شولے. ٦٦ چا چه دا
واؤریدل په هغوئ ډیر اثر وشو اَوُ وئے وئیل چه”دَ دے ماشُوم نه به څهٔ جوړیږی؟“ځکه چه دَ خُدائے
لاس دَ دَهٔ په سر دے.

## دَ ذکریاه نبُوت

٦٧ دَ هغهٔ پلار ذکریاه په رُوحُ القُدس معمُور شو اَوُ دا پیشن ګوئی ئے وکړه،

٦٨ ”ثنا ده دَ اِسرائیل دَ خُدائے!

ځکه چه هغهٔ په خپل اُمت نظر وکړو،

هغه ئے بچ کړو اَوُ آزاد ئے کړو.

٦٩ اَوُ دَ خپل خادم داؤد په کور کښے ئے دَ خلاصُون

دَ پاره طاقتور سړے پیدا کړو.

٧٠ اَوُ لکه چه هغهٔ دَ وړُومبو پاکو نبیانو په خُلهٔ

پیړئ په پیړئ وعده کړے وه

۷۱ چه هغه به مُونږ دَ خپلو دُښمنانو نه خلاص کړی

اَؤ دَ هغو ټولو دَ لاسو نه څوک چه راسره کینه لری.

۷۲ اَؤ دا چه هغه به زمُونږ په پلارُونو نیکُونو رحم وکړی

اَؤ خپله پاکه وعده به یاده لری.

۷۳ هم دغه سوګند هغهٔ زمُونږ دَ پلار اِبراهیم سره کړے وُو

۷۴ چه هغه به مُونږ دَ دښمنانو دَ لاسه بچ ساتی،

۷۵ اَؤ دَ ویرے نه به امان راکړی

چه مُونږ ټول عُمر په پاکئ اَؤ دَ زړهٔ په صداقت

دَ هغهٔ عبادت وکړو.

۷۶ اَؤ اَئے زما وړوکیه! تهٔ به دَ لوئے الاعلیٰ نبی بللے شے

ځکه چه تهٔ به دَ مالِک په وړاندے تیر شے

چه دَ هغهٔ لارے تیارے کړے،

۷۷ اَؤ دَ هغهٔ په عِلم به دَ هغهٔ اُمت ته دَ ګُناهُونو

معافئ مُوندلو په وسیله هغوئ ته دَ خلاصُون لار وښائے.

۷۸ زمُونږ دَ خُدائے دَ خالص رحم په وجه

به دَ سحر نمر په مُونږ راوخیژی،

۷۹ اَؤ په هغو به وځلیږی څوک چه په تیارهٔ کښے

اَؤ دَ مرګ په سُوری کښے ناست وی

اَؤ چه زمُونږ قدمُونه دَ سلامتئ په لاره سم کړی.“

۸۰ ځنګه چه دغه ماشُوم لوئیدو نو رُوحانی قوت ئے مُوندو اَؤ تر هغے ورځے پورے په بیابان کښے

اوسیدو تر څو چه هغه بنی اِسرائیل ته ښکاره راڅرګند شو.

# لُوقا باب ۲

## دَ عیسیٰ پیدایښت

**(متی ۱: ۱۸ - ۲۵)**

۱ په هغه ورځو کښې دَ رُومی قیصر اَؤ ګُوستوس دَ لوری دا فرمان جاری شو چه په رُومی بادشاهئ کښې
دِ دَ ټولو خلقو نومُونه ولیکلے شی. ۲ دا وړُومبئ مردُم شماری وه چه دَ شام دَ حاکم کیرینیوس په وخت
کښې وشوه. ۳ دَ دے عرض دَ پاره هر یو کس خپلے خپلے ښارئے ته لاړو. ۴ اؤ دغه شان یُوسف هم دَ
ګلیل دَ ناصرت نه یهُودیه ته لاړو چه دَ داؤد په ښاریه بیت بیتُ لحم کښې خپل نُوم ولیکی ځکه چه
هغه دَ داؤد دَ خاندان دَ اَؤلاده وُو. ۵ اَؤ دَ هغهٔ سره مریم هم لاړه څوک چه دَ هغهٔ چنغله وه اَؤ هغه
اُمیدواره وه. ۶ اَؤ هر کله چه هغوئ لا هلته کښې وُو نو دَ هغے دَ بچی دَ زیږیدو ورځے پُوره شوے، ۷ اَؤ
دَ هغے وړُومبے زوئے پیدا شو. هغے هغه په اُوړنی کښے ونغښتو اَؤ په یو اخور کښې ئے کیښود ځکه چه
په سرائے کښې دَ هغوئ دَ اوسیدو دَ پاره ځائے نهٔ وُو.

## شپُونکی اَؤ فرښتے

۸ هم په دغه وطن کښې څهٔ شپُونکی وُو چه په میره کښې ئے دَ شپے دَ خپلو رمو څوکئ کوله، ۹ چه
ناڅاپی دَ رب فرښته دَ هغوئ په وړاندے ودریده اَؤ دَ رب نُور دَ هغوئ چارچاپیره خور شو اَؤ هغوئ
ویرے واخستل. ۱۰ خو فرښتے ووئیل چه"ویریږئ مه! ما تاسو ته یو زیرے راوړے دے چه دَ خلقو دَ پاره
به یوه لویه خوشحالی وی، ۱۱ چه نن دَ داؤد په ښار کښې ستاسو خلاصُونکے پیدا شوے دے چه هغه
مسیح مالِک دے! ۱۲ اَؤ ستاسو دَ پاره به دَ هغهٔ دا نخښه ده چه یو ماشُوم به په اُوړنی کښې نغښتے په
اخور کښې پروت ومُومئ." ۱۳ ناڅاپه دَ هغے فرښتے سره دَ آسمانی لښکر یوه ډله راڅرګنده شوه اَؤ دَ
رب دا ثنا ئے ووئیله چه ۱٤ "دَ خُدائے حمد دِ وی پاس په آسمان کښې،اَؤ په مزکه دِ دَ هغه خلقو دَ پاره
سلامتی وی په چا چه هغه مهربان دے!" ۱۵ هر کله چه فرښتے دَ هغه ځایه آسمان پلو رُخصت شوے نو
شپُونکو یو تر بله ووے، "ځئ چه اوس سمدستی بیتُ لحم ته لاړ شُو اَؤ دا شوے کار ووینو کُوم چه رب
مُونږ ته څرګند کړے دے." ۱٦ هغوئ په منډه لاړل اَؤ دَ مریمے اَؤ یُوسف پته ئے ولګوله اَؤ ماشُوم چه په
اخور کښې پروت وُو. ۱۷ کله چه هغوئ دَئے ولیدو نو هغه خبره ئے رایاده شوه چه دَ دے ماشُوم په
حقله هغوئ ته وئیلے شوه. ۱۸ اَؤ دَ دے شپُونکو خبره چه چا واؤریده،ټول حق حیران شول. ۱۹ خو
مریمے دا ټولے خبرے زړهٔ ته واچولے اَؤ سوچ ئے پرے کاوو. ۲۰ په دے دوران کښې شپُونکی بیرته لاړل
اَؤ څهٔ چه ئے لیدلی اَؤ آؤریدلی وُو په هغے ئے دَ خُدائے ثنا وئیله لکه څنګه چه هغوئ ته وئیلی شوی وُو.

## دَ عیسیٰ نُوم ایښودل

۲۱ اتهٔ ورځے پس هغه سُنت شو اَؤ دَ هغهٔ نوم ئے عیسیٰ کیښودو. دا هغه نوم وُو چه دَ هغهٔ په ګیډه کیدو
نه مخکښې فرښتے په هغهٔ ایښے وُو.

## دَ عیسیٰ دَ خُدائے په کور کښے پیش کول

۲۲ اَۆ مُوسیٰ دَ شریعت په مُطابق چه دَ هغوئ دَ پاکیدو ورځے پُوره شوے نو بیتُ المُقدس ته ئے بوتلو
چه رب ته ئے پیش کړی، ۲۳ لکه چه دَ رب په شریعت کښے لیکلی دی چه « هر وړُومبے نر ماشُوم چه
پیدا شی هغه به رب ته مخصوص شی.» ۲۴ اَۆ دا هم چه دَ رب دَ شریعت مُطابق قُربانی وکړی یعنے یوه
دَ کړکوړو جوړه یا دَ کونترو دوه بچی. ۲۵ په هغه ورځو کښے دَ خُدائے په لوئے ښار کښے شمعُون نُومے
یو سړے وُو. دا سړے رښتینے اَۆ ایماندار وُو،دا هغه سړے وُو چه دَ اِسرائیل په ځائے کولو په اِنتظار وُو اَۆ
رُوحُ القُدس په هغهٔ نازل وُو. ۲۶ رُوحُ القُدس هغهٔ ته دا وئیلی وُو چه تر څو چه هغهٔ مسیح لیدلے نهٔ وی
تر هغے به هغه نهٔ مری. ۲۷ نو دَ هغه دَ رُوحُ القُدس په لار ښودنه دَ خُدائے کور ته راغے اَۆ هر کله چه دَ
عیسیٰ مور پلار هغه ماشُوم عیسیٰ دَ ننه راوړو چه دَ هغهٔ دَ پاره دَ شریعت په لارے عمل وکړی، ۲۸ هغهٔ
هغه په غیږه کښے واخستو اَۆ دَ خُدائے ثنا ئے ووئیله،اَۆ داسے ئے ووئیل چه

۲۹ ”اَئے مالِکه! نن تهٔ خپل غُلام

دَ خپل قول په مُطابق په سلامتیٔ رُخصتوے،

۳۰ ځکه چه ما په خپلو سترګو ستا هغه خلاصُون ولیدلو

۳۱ چه تا دَ ټولو قومُونو په وړاندے تیار کړے دے،

۳۲ هغه نُور چه دَ نورو قومُونو دَ پاره رڼا وی

اَۆ ستا دَ اُمت اِسرائیل لوئی.“

۳۳ دَ ماشُوم مور اَۆ پلار هغه خبرو ته ګوته په خلُهٔ حق حیران وُو کُومے خبرے چه دَ هغهٔ په حقله وئیلے
کیدے. ۳۴ شمعُون دَ هغهٔ دَ پاره برکت وغوښتو اَۆ دَ هغهٔ مور مریمے ته ئے ووئیل چه”دا په بنی اِسرائیلو
کښے دَ ډیرو دَ هلاکت اَۆ دَ خلاصُون دَ پاره مُقرر شوے دے،اَۆ هغه به دَ خُدائے له طرفه داسے نخښه
وی چه ډیر خلق به دَ هغهٔ مُخالفت وکړی ۳۵ چه دَ هغوئ دَ زړُونو پټ خیالُونه ښکاره شی. اَۆ دَ غم په
وجه به ستا حال داسے وی لکه چه ستا زړهٔ په تُورے سورے شوے وی.“

۳۶ په دغه ورځو کښے دَ اشیر په خیل کښے حناه نُومے یوه نبیه وه څوک چه دَ فنوایل لُور وه. هغه ډیره
بُوډئ ښځه وه اَۆ دَ پیغلتوب نه پس هغے دَ خپل خاوند سره اُووهٔ کاله تیر کړی وُو، ۳۷ اَۆ بیا دَ څلورو
اَتیاؤ کالو پورے کونډه اَۆ یواځے وه. هغه دَ خُدائے دَ کور نه چرے هم بهر نهٔ وه وتے خو شپه اَۆ ورځ به
ئے عبادت اَۆ دُعا کوله اَۆ روژے به ئے ساتلے. ۳۸ نو په هغه ساعت هلته راغله اَۆ دَ خُدائے شُکر ئے
وکړو . هغه ټولو خلقو ته ئے چه دَ بیتُ المُقدس دَ آزادئ په اِنتظار وُو،دَ هغه ماشُوم په حقله خبرے
وکړے.

## ناصرت ته واپسی

۳۹ هر کله چه هغوئ دَ رب دَ شريعت په مُطابق هر څۀ پُوره کړل نو بيرته په ګليل کښې خپلے ښارئے
ناصرت ته واپس شول. ۴۰ هلک لوئيدو،حکمت اَؤ طاقت ئے مُوندو اَؤ دَ خُدائے فضل ورسره وُو .

## هلک عيسىٰ دَ خُدائے په کور کښې

۴۱ دَ عيسىٰ مور پلار به هر کال بيتُ المُقدس ته دَ فسح اختر له تلل. ۴۲ اَؤ چه هغه دَ دولسو کالو شو نو
هغوئ لکه دَ نور کله دَ اختر دَ پاره لاړل. ۴۳ نو چه دَ ميلے ورځے پُوره شوے اَؤ هغوئ کورته روان شول
نو هلک عيسىٰ په بيتُ المُقدس کښې ايسار شو خو مور پلار ته ئے پته نۀ وه. ۴۴ اَؤ هغوئ ټوله ورځ په
دے خيال سفر وکړو چه ګنې هغه به په قافله کښې چرته وی اَؤ بيا ئے په خپلو خپلوانو اؤ واقفانو کښې
دَ هغۀ لټُون شروع کړو. ۴۵ چه وئے نۀ مُوندلو نو بيتُ المُقدس ته راستانۀ شول چه هلته ئے ولټوی. ۴۶ په
دريمه ورځ ئے هغه دَ خُدائے په کور کښې ناست ومُوندلو چه اُستاذان ترے راتاؤ وُو اَؤ دَ هغوئ خبرے
ئے آؤريدے اَؤ تپوسونه ئے ترے کول. ۴۷ اَؤ دَ ټولو خلقو چه هغۀ ته غوږ وُو،دَ هغۀ په پوهه اَؤ په ځوابُونو
اريان دريان وُو. ۴۸ مور پلار دَ هغۀ په ليدو حيران شول اَؤ دَ هغۀ مور ورته ووئيل چه”زويه! تا مُونږ سره
داسے ولے وکړل؟ ستا پلار اَؤ ما تۀ ډير په فکرمندئ سره لټولے.“

۴۹ هغۀ ورته ووئيل چه”تاسو زۀ ولے لټولم؟ تاسو ته دا نۀ وه معلُومه چه ما ته دَ خپل پلار په کور کښې
پاتے کيدل په کار وُو؟“. ۵۰ خو هغوئ دَ هغۀ دَ خبرے په مطلب ونۀ رسيدل. ۵۱ بيا هغه دَ هغوئ سره
ناصرت ته لاړو اَؤ دَ هغوئ دَ حُکم لاندے ئے وخت تيرولو. مور ئے دا ټولے خبرے په زړۀ کښې پټے
وساتلے. ۵۲ اَؤ دَ عيسىٰ حِکمت اَؤ ونه لوئے شول اَؤ دَ خُدائے اَؤ دَ بنی آدمو په نظر کښې ئے قبُوليت
ومُوندو .

# لُوقا باب ۳

## دَ يحيىٰ بپتسمه ور کوُونکی وعظ کول

**(متی ۳: ۱ - ۱۲،مرقوس ۱: ۱ - ۸،يوحنا ۱: ۱۹ - ۲۸)**

۱ دَ قيصر تيبريوس دَ حُکومت په پنځلسم کال کښې پُنطوس پيلاطوس دَ يهُوديه ګورنر وُو اَؤ هيروديس دَ
ګليل شهزاده،دَ هغۀ ورور فيليپوس دَ اِتُوريه اَؤ تراخونيتيس اَؤ ليسانياس دَ ابيلينے واليان وُو. ۲ دَ مشرانو
کاهنانو حناه اَؤ کائفا په وخت کښې دَ ذکرياه په زوی يحيىٰ باندے په بيابان کښې دَ خُدائے کلام نازل
شو. ۳ اَؤ هغه دَ اُردن په وادئ کښې ګير چاپير وګرزيدو اَؤ دَ ګُناهونو دَ معافئ دَ پاره ئے دَ توبے دَ
بپتسمے وعظ کولو. ۴ لکه چه يشعياه نبی دَ پيشن ګويو په صحيفو کښې ليکلی دی چه:

«په بيابان کښې دَ نعرے وهُونکی آواز دے،

دَ مالِک لار جوړه کړئ،هغۀ ته سړک نيغ کړئ!

۵ هره دره به ډکه شی،هره غونډئ اَؤ غر به هوار شی.

کاږهٔ به نیغ کړے شی،اَؤ ناهموار به هوار کړے شی.

۶ اَؤ ټول مخلوق به دَ خُدائے خلاصُون ووینی!»

۷ کښ خلق بهر راووتل چه دَ یحییٰ نه بپتسمه واخلی اَؤ هغهٔ هغوئ ته ووئیل چه''اَئے دَ مارانو بچو! تاسو
چا خبر کړئ چه دَ راتلُونکی غضب نه وتښتئ؟ ۸ نو توبے لائقه میوه پیدا کړئ اَؤ په زړُونو کښے دا مه
راولئ چه گنی اِبراهیم زمُونږ پلار دے. زهٔ تاسو ته دا وایم چه خُدائے دلته دَ دے کاڼو نه هم دَ اِبراهیم دَ
پاره اَؤلاد پیدا کولے شی! ۹ تبر خو دَ ونو په جړړو ایښے شوے دے اَؤ هره ونه چه ښه میوه نهٔ راوړی،به
پریکړے شی اَؤ اور ته به وغورزولے شی.'' ۱۰ خلقو ترے تپوس وکړو،''نو بیا مُونږ څهٔ وکړو؟''

۱۱ هغهٔ جواب ورکړو چه''دَ کُوم سړی سره چه دوه قمیسونه وی،یو دِ هغهٔ له ورکړی دَ چا سره چه یو
هم نهٔ وی اَؤ دَ چا سره چه خوراک وی هغه دِ هم داسے وکړی.''

۱۲ ځوک چه بپتسمے له راغلی وُو په هغوئ کښے محصُولچیان هم وُو چه هغهٔ ته ئے ووئیل چه''اُستاذه!
مُونږ څهٔ وکړو ؟''

۱۳ هغهٔ ورته ووئیل چه''ستاسو دَ پاره چه څهٔ مُقرر دی دَ هغے نه زیات مه آخلئ.''

۱۴ سپاهیانو هم ترے دا تپوس وکړو چه''مُونږ څهٔ وکړو؟'' هغوئ ته ئے ووئیل چه''په چا ظُلم مه کوئ،دَ
چا نه په زوره څهٔ مه آخلئ اَؤ په چا دَ دروغو تُهمت مه لگوئ،په خپله تنخواه صبر کوئ.''

۱۵ هغه خلق چه په اِنتظار وُو اَؤ دَ یحییٰ په حقله ئے په خپلو زړُونو کښے سوچ کولو چه گنی هغه به
مسیح وی. ۱۶ خو هغهٔ هغوئ ټولو ته ووئیل چه''زهٔ تاسو ته په اوبو بپتسمه درکوم خو داسے کس
راتلُونکے دے چه هغه زما نه ډیر طاقتور دے اَؤ زهٔ دَ هغهٔ دَ پیزار دَ تسمو دَ پرانستلو جوگه هم نهٔ یم.
هغه به تاسو ته په رُوحُ القُدس اَؤ اور بپتسمه درکوی. ۱۷ دَ هغهٔ چج دَ هغهٔ په لاس کښے دے چه خپل
درمند به په ښهٔ شان صفا کړی اَؤ غنم به خپلے خمبے ته واچوی،خو بُوس به ئے هغه اور ته واچوی کُوم
چه هیڅکله نهٔ مړی.''

۱۸ په دے شان اَؤ نورو ډیرو طریقو ئے خلقو ته وعظ کاوو اَؤ زیرے ئے ورته واؤرولو. ۱۹ خو هغهٔ
هیرودیس والی دَ خپلے ورندارے هیرودیاس سره په ناجائیز تعلق اَؤ په نورو بدو کارُونو ملامت کړو. ۲۰
خو دَ دے ټولو کارُونو دَ پاسه ئے یحییٰ گرفتار کړو اَؤ په قید خانه کښے ئے واچولو.

## دَ عیسیٰ بپتسمه

**(متی ۳: ۱۳ - ۱۷،مرقوس ۱: ۹ - ۱۱)**

۲۱ دَ خلقو دَ بپتسمے په وخت چه عیسیٰ له هم بپتسمه ورکړے شوے وه اَؤ دُعا ئے کوله نو آسمان
پرانستے شو، ۲۲ اَؤ رُوحُ القُدس دَ یوے کونترے په شکل په عیسیٰ نازل شو اَؤ دَ آسمان نه یو آواز راغے

چه”تهٔ زما زوئے ئے،زما محبوب یئے . زۀ ستا نه رضا یم.“

## دَ عیسیٰ نسب نامه

**(متی ۱: ۱ - ۱۷)**

۲۳ څۀ وخت چه عیسیٰ خپل کار شروع کړو نو دَ دیرشو کالو وُو اَوَ دَ خلقو په خیال دے دَ یُوسف زوئے
وُو،زوئے دَ عیلی. ۲٤ زوئے دَ متات،زوئے دَ لیوی،زوئے دَ مِلکی،زوئے دَ ینای،زوئے دَ یُوسف،۲۵ زوئے دَ
متتیاه،زوئے دَ اموس،زوئے دَ نحُوم،زوئے دَ اِسلیاه،زوئے دَ نکی، ۲٦ زوئے دَ ماعت،زوئے دَ متتیاه،زوئے دَ
شمعی،زوئے دَ یوسیخ،زوئے دَ یوداه، ۲۷ زوئے دَ یوحنا،زوئے دَ ریسا،زوئے دَ زرُوبابل،زوئے دَ شلتئ ایل
،زوئے دَ نیری، ۲۸ زوئے دَ مِلکی،زوئے دَ ادی،زوئے دَ قوسام،زوئے دَ اِلمدام،زوئے دَ عیر، ۲۹ زوئے دَ
یشوع،زوئے دَ اِلعازار،زوئے دَ یوریم،زوئے دَ متات،زوئے دَ لیوی، ۳۰ زوئے دَ شمعُون،زوئے دَ یهُوداه،زوئے
دَ یُوسف،زوئے دَ یُونان،زوئے دَ اِلیاقیم، ۳۱ زوئے دَ ملیاه،زوئے دَ مِناه،زوئے دَ متتاه،زوئے دَ ناتان،زوئے دَ
داؤد،۳۲ زوئے دَ یشی،زوئے دَ عوبید،زوئے دَ بوعز،زوئے دَ سلمون،زوئے دَ نحشون، ۳۳ زوئے دَ
عمیناداب،زوئے دَ ادمین،زوئے دَ ارنی،زوئے دَ حصرون،زوئے دَ فرص،زوئے دَ دَ یهُوداه، ۳٤ زوئے دَ
یعقُوب،زوئے دَ اِسحاق،زوئے دَ ابراهیم،زوئے دَ تِره،زوئے دَ ناحور، ۳۵ زوئے دَ سروگ،زوئے دَ رعو،زوئے
دَ فِلِگ،زوئے دَ عیبر،زوئے دَ شله، ۳٦ زوئے دَ قینان،زوئے دَ ارفکشد،زوئے دَ شیم،زوئے دَ نُوح،زوئے دَ
لمک، ۳۷ زوئے دَ مِتهوشله،زوئے دَ حنوک،زوئے دَ یارد،زوئے دَ مهلل ایل،زوئے دَ قینان، ۳۸ زوئے دَ
انوش،زوئے دَ شیت،زوئے دَ آدم چه دَ خُدائے له طرفه وُو.

# لُوقا باب ۴

## دَ عیسیٰ لمسُون

**(متی ٤: ۱ - ۱۱،مرقوس ۱: ۱۲ - ۱۳)**

۱ عیسیٰ چه دَ رُوحُ القُدس نه معمُور دَ اُردن سیند نه واپس شو اَوَ رُوحُ القُدس هغه بیابان ته بوتلو، ۲ اَوَ تر
څلویښتو ورځو پورے په بیابان کښے دَ اِبلیس په لمسُون کښے وُو. په دے دوران کښے هغهٔ هیڅ نۀ وُو
خوړلی اَوَ په آخر کښے هغه وږے شو.

۳ اِبلیس هغهٔ ته ووئیل چه”که تهٔ دَ خُدائے زوئے یئے نو دے کاڼی ته ووایه چه ډوډئ شی.“

٤ عیسیٰ جواب ورکړو چه”صحیفے وائی چه،«اِنسان تش په ډوډئ نۀ پائی.»“

۵ بیا اِبلیس هغه په لوړه وخیژلو اَوَ دَ دُنیا ټول بادشاهتُونه ئے دَ سترګو په رَپ کښے ورښکاره کړل. ٦ اَوَ
ورته ئے ووئیل چه”زَۀ به دَ دے ټولو اِختیار تا له درکوم اَوَ هغه شان اَوَ شوکت هم چه دَ دے سره تړلی
وی ځکه چه دا زما په اِختیار کښے راکړی شوی دی اَوَ زۀ چه چا ته غواړم دا ورکولے شم. ۷ که تهٔ ما
ته سجده وکړے نو دا هر څۀ به ستا شی.“

۸ عیسیٰ هغهٔ ته جواب ورکړو “ صحیفے وائی چه،«تهٔ تش خُدائے ته سجده کوه اَوَ یواځے دَ هغهٔ

عبادت کوه!»“

۹ بیا شیطان هغه بیتُ المُقدس ته بوتلو اَوْ دَ خُدائے دَ کور په مناره ئے ودرولو اَوْ ورته ئے ووئیل چه“که
تهٔ دَ خُدائے زوئے یئے نو ځان ښکته ګُذار کړه، ۱۰ ځکه چه صحیفے وائی چه،«هغه به خپلو فرښتو ته
حُکم ورکړی چه ستا حفاظت وکړی.» ۱۱ اَوْ «هغوئ به دِ په خپلو لاسُونو کښے دَ دے ویرے پورته
کړی چه هسے نه چه ستا پښه په کاڼو غوځه شی.»“

۱۲ عیسیٰ هغهٔ ته ځواب ورکړو،”دا وئیلی شوی دی چه،«تهٔ خپل مالِک خُدائے مه لمسوه.»“

۱۳ دغه شان چه دَ اِبلیس ټول لمسُون ختم شو نو دَ څهٔ وخت دَ پاره ترے نه لاړو.

## په ګلیل کښے خدمت شروع کول

**(متی ٤: ١٢ - ١٧،مرقوس١: ١٤ - ١٥)**

۱٤ بیا عیسیٰ دَ رُوحُ القُدس په قُدرت ګلیل ته واپس شو اَوْ په ټول وطن کښے دَ هغهٔ آوازه ګیر چاپیره
خوره شوه. ۱۵ اَوْ هغهٔ دَ هغوئ په عبادت خانے کښے وعظ کولو اَوْ ټولو خلقو دَ هغهٔ لوئی بیانوله.

## په ناصرت کښے دَ عیسیٰ ناقبلیدل

**(متی ١٣: ٥٣ - ٥٨،مرقوس ٦: ١ - ٦)**

۱٦ بیا هغه ناصرت ته راغے چرته چه هغه لوئے شوے وُو اَوْ دَ سبت په ورځ عبادت خانے ته دَ خپل
دستُور په مُطابق لاړو. هغه دَ سبق لوستو دَ پاره ودریدلو، ۱۷ اَوْ ورته دَ یشعیاه نبی کتاب ورکړے شو. هغهٔ
هغه کتاب پرانستو اَوْ هغه پاڼے ئے راواړولے چه په کښے لیکلی وُو چه:

۱۸ «دَ رب رُوح په ما نازل دے ځکه چه زَهٔ هغهٔ مسح کړے یم،

اَوْ دے له ئے را استولے یم چه عاجزانو ته زیرے ورکړم،

چه قیدیانو ته دَ آزادئ اَوْ ړندو ته دَ بینائی اِعلان وکړم

اَوْ چه ژوبل شوی مظلُومان آزاد کړم،

۱۹ اَوْ دَ رب دَ قبُول شوی کال وعظ وکړم.»

۲۰ هغهٔ کتاب بند کړو،خادم ته ئے واپس ورکړو اَوْ کښیناستو اَوْ په عبادت خانے کښے دَ ټولو خلقو
سترګے په هغهٔ باندے وے. ۲۱ هغهٔ بیا خبرے شروع کړے اَوْ وئے وئیل،”نن چه تاسو دا کلام واوْریدو
،دا پُوره شو.“ ۲۲ هلته ټولو خلقو په جمع دَ هغهٔ شاهدی وکړه اَوْ په دے حیران شول چه داسے دَ فضل
خبرے دَ هغهٔ دَ شُونډو نه راووتلے. هغوئ تپوس وکړو،”آیا دا دَ یُوسف زوئے نهٔ دے؟“

۲۳ بیا عیسیٰ ووئیل،”بے شکه چه تاسو به ما ته دا متل ضرور واوْروئ چه حکیمه! خپل ځان روغ کړه اَوْ

دا به ووایئ چه تا چه هر څۀ په کُفرنحوم کښې کړی دی مُونږه هغه آؤریدلی دی،هغه څۀ دلته په خپله
ښاریه کښې هم وکړه. ۲٤ زۀ تاسو ته دا وایم چه یو نبی هم په خپل وطن کښې په اِسرائیلو کښې چا
قبُول کړے نۀ دے. ۲۵ په حقیقت کښې دَ اِلیاس په ورځو کښې په اِسرائیلو کښې ډیرے کونډے وے
تاسو ته به معلومه وی چه په هغه زمانه کښې درے نیم کاله باران نۀ وُو شوے اَؤ په ټول وطن باندے
سخت قحط راغلے وُو. ۲٦ خو اِلیاس په دوئ کښې هیچا ته وانۀ ستولے شو بے دَ صیدا دَ مُلک په
صارِفت ښاریه کښې دَ یوے کونډے ښځے نه. ۲۷ اَؤ بیا دَ اِلیشع نبی په زمانه کښې په اِسرائیلو کښې
ډیر جُزامیان وُو خو دَ نعمان شامی نه بغیر په هغوئ کښې یو هم پاک نۀ کړے شو.“

۲۸ په دے خبرو دَ عبادت خانے ټول خلق قهرژن شول. ۲۹ هغوئ پورته شول،هغه ئے دَ ښاریئے نه بهر
وویستو اَؤ دَ هغه غرۀ سر ته ئے بوتلو چه دغه ښاریه پرے آباده وه،مطلب ئے دا وُو چه دَ هلته نه ئے
ښکته گُزار کړی. ۳۰ خو هغه دَ هغوئ دَ مینځ نه ووتو اَؤ لاړو.

## نا پاک رُوح نیولے سړے

**(مرقوس ۱: ۲۱ - ۲۸)**

۳۱ دَ گلیل کفرنحُوم ښاریئے ته په راکُوزیدو عیسیٰ دَ سبت په ورځ خلقو ته تعلیم ورکاوو. ۳۲ اَؤ هغوئ دَ
دَۀ په تعلیم حیران شول ځکه چه هغۀ په پُوره اِختیار خبرے کولے. ۳۳ دلته په عبادت خانے کښې یو
سړے وُو چه پیریانو نیولے وُو. هغۀ په زوره چغے کړلے، ۳٤ ”تۀ زمُونږ نه څۀ غواړے اَئے عیسیٰ ناصری؟
تۀ راغلے چه مُونږ هلاک کړے څۀ؟ زۀ دِ پیژنم چه تۀ څوک یئے تۀ دَ خُدائے قُدوس یئے.“

۳۵ عیسیٰ هغه ورټلو اَؤ وئے وئیل چه”غلے شه اَؤ دَ دَۀ نه راوزه!“ بیا پیری هغه سړے دَ خلقو په مینځ
کښې په مزکه راوویښتو اَؤ بغیر دَ څۀ نقصان نه ئے هغه پریښودو.

۳٦ ټول حق حیران شول اَؤ یو بل ته ئے ووئیل،”دَ دے سړی په ژبه کښې څۀ کمال دے؟هغه پُوره په
اِختیار پیریانو ته حُکم ورکوی اَؤ هغوئ وځی!“ ۳۷ دغه شان دا خبره په ټول وطن کښې خوره شوه اَؤ
خلقو پرے بحث کوو.

## دَ ډیرو خلقو روغول

**(متی ۸: ١٤ - ١۷،مرقوس ۱: ۲۹ - ۳٤)**

۳۸ دَ عبادت خانے نه په وتو هغه دَ شمعُون کره لاړو،دَ شمعُون خواښې سختے تبے نیولے وه هغوئ هغۀ
ته سوال وکړو چه مدد ئے وکړه. ۳۹ هغه ورغے اَؤ دَ هغے په خوا کښې ودریدلو اَؤ تبه ئے ورټله،هغه تبے
پریښوده،سمدستی پورته شوه اَؤ دَ هغۀ خدمت ته ودریده.

٤۰ دَ نمر پریوتو په وخت ټولو خلقو خپل دوستان خپلوان په مُختلفو رنځُونو آخته وُو،هغۀ ته راوستل اَؤ هغۀ
په یو یو باندے خپل لاسُونه کیښودل اَؤ روغ ئے کړل. ۳۱ دَ ډیرو نه پیریان هم پاشیدل اَؤ دا چغے ئے
وهلے چه”تۀ دَ خُدائے زوئے یئے!“

خو هغوئ هغه ورټل اَؤ دَ خبرو نه ئے منع کړل ځکه چه هغوئ ته پته وه چه دَے مسیح دے.

## تبلیغی دوره

**(مرقوس ۱: ۳۵ - ۳۹)**

۴۲ چه صبا شو نو عیسیٰ بهر یو خوشی ځائے ته لاړو خو خلق دَ هغهٔ په لټُون پسے ووتل اَؤ چه وئے
مُوندلو په ټینګه ئے ورته ووئیل چه”مُونږ نه مه ځه.“ ۴۳ خو هغهٔ ورته ووئیل،”په کار دی چه زَهٔ دَ خُدائے
دَ بادشاهئ زیرے نورو ښارُونو ته هم ورسوم ځکه چه زَهٔ دَ دے دَ پاره رالیږلے شوے یم.“

۴۴ دغه شان دَ یهُودیه په عبادت خانو کښے ئے وعظ کاوو.

## لُوقا باب ۵

## دَ اولنو مُریدانو بلل

**(متی ٤: ۱۸ - ۲۲،مرقوس ۱: ۱٦ - ۲۰)**

۱ یوه ورځ چه عیسیٰ دَ ګِنیسریت سیند په غاړه ولاړ وُو اَؤ خلق پرے راپنډ شوی وُو چه دَ دَهٔ کلام
واؤری، ۲ نو هغهٔ دوه کِشتئ دَ اوبو په غاړے ولیدلے چه ماهی ګیران ترے غاړے ته راکُوز شوی وُو اَؤ
خپل جالُونه ئے وینځل. ۳ هغه یوے کِشتئ ته وروختو کُومه چه دَ شمعُون وه اَؤ هغهٔ ته ئے ووئیل چه”دَ
غاړے نه لږه ورایسته کړه.“ بیا هغهٔ په کِشتئ کښے په ناسته باندے خلقو ته وعظ شروع کړو.

٤ هر کله چه هغهٔ خبرے بس کړے نو شمعُون ته ئے ووئیل چه”ژورو اوبو ته لاړ شه اَؤ دَ ښکار دَ پاره
خپل جالُونه واچوه.

٥ شمعُون ورته جواب ورکړو،”اُستاذه! مُونږ ټوله شپه خواری وکړه خو هیڅ مو ونهٔ نیول خو چه تهٔ داسے
وائے نو زَهٔ به جالُونه ور واچوم.“ ٦ هغوئ داسے وکړل اَؤ ډیر ماهیان ئے راونیول اَؤ دَ هغوئ جالُونه په
شلیدو شول. ۷ نو هغوئ دَ بلے کِشتئ ملګرو ته چغے کړے چه”راشئ اَؤ زمُونږ مدد وکړئ!“ هغوئ
داسے وکړل اَؤ دواړه کشتئ ئے داسے ډکے کړے چه ډوبیدو له راغلے. ۸ هر کله چه شمعُون دا نظاره
ولیده نو دَ عیسیٰ په پښو پریوتو اَؤ وئے وئیل چه”اَئے مالِکه! له ما نه لاړ شه ځکه چه زَهٔ ګُناه ګار سړے
یم!“ ۹ هغه اَؤ دَ هغهٔ ټول ملګری دَ کبانو په لیدو سخت حیران شوی وُو، ۱۰ اَؤ دغه شان دَ زبدی زامن
یعقُوب اَؤ یوحنا چه شمعُون ملګری هم وُو. عیسیٰ شمعُون ته ووئیل چه”مه ویریږه،دَ دے نه پس به تهٔ دَ
بنی آدمو لټُون کوے.“

۱۱ هر کله چه هغوئ کِشتئ غاړے ته راوسته نو هر څهٔ ئے پریښودل اَؤ په هغهٔ پسے روان شول.

## دَ یو جُزامی پاکول

**(متی ۸: ۱ - ٤،مرقوس ۱: ٤۰ - ٤٥)**

۱۲ یو ځلے هغه په یوه ښاریه کښے وُو چه هلته یو سړے وُو چه سخت جُزام پرے لګیدلے وُو. هغهٔ چه

عیسیٰ ولیدو نو هغۀ په مزکه سر کیښودو اَو سوال ئے ورته وکړو چه"مالِکه! که چرے تۀ تش وغواړے نو
ما پاکولے شے!" ۱۳ عیسیٰ خپل لاسُونه ور اُوږدۀ کړل،هغه ئے مسح کړو اَو وئے وئیل چه"بے شکه چه
زۀ داسے غواړم،پاک شه!"اَو دَ هغۀ جُذام په هغه ساعت لاړو. ۱۴ عیسیٰ هغۀ ته حُکم ورکړو چه"هیچا
ته دا حال ونۀ وائے."اَو ورته ئے ووئیل چه"لاړ شه اَو کاهن ته خپل ځان وښایه اَو دَ خپلو جوړیدو دَ پاره
دَ مُوسیٰ مُقرر کړے شُکراه ورکړه چه دا به دَ هغوئ دَ پاره شاهدی شی."

۱۵ خو دَ هغۀ په حقله دا خبرے نورے هم خورے شوے. ډیر خلق دَ هغۀ آوریدو له راغونډیدل اَو دَ
خپلو رنځُونو نه جوړیدل. ۱۶ اَو هغه به دَ دُعا دَ پاره خوشو ځایُونو ته تلو .

## دَ یو شل سړی روغول

**(متی ۹: ۱ - ۸،مرقوس ۲: ۱ - ۱۲)**

۱۷ یوه ورځ عیسیٰ تعلیم ور کاوو اَو فریسیان اَو دَ شرعے عالمان ورته هم ناست وُو چه دَ گلیل،دَ یهودیه
اَو دَ بیتُ المُقدس دَ هر کلی نه راغلی وُو،اَو دَ خلقو دَ روغولو دَ رب قوت دَ هغۀ سره وُو. ۱۸ یو څو تنو
یو شل سړے په کټ راوړو. هغوئ کوشش وکړو چه هغه وردننه کړی اَو دَ عیسیٰ په مخکښے ئے
کیږدی. ۱۹ خو گڼه دومره زیاته وه چه هیڅ لاره ئے ونۀ مُونده. نو هغوئ پاس وختل اَو دَ چت دَ پاسه نه
ئے په برگه کښے سُورے وکړو اَو په بانگئ کښے راښکته کړو اَو دَ خلقو په مینځ کښے ئے دَ عیسیٰ په
مخ کښے کیښودو. ۲۰ هر کله چه عیسیٰ دَ هغوئ ایمان ولیدو نو وئے وئیل،"سړیه! تا ته ستا گُناهُونه
معاف شول."

۲۱ نو دَ شرعے عالمانو اَو فریسیانو یو بل ته ووئیل چه"دا څوک دے چه کُفر غروی؟ دَ خُدائے نه بغیر لا
بل څوک هم گُناهونه معاف کولے شی؟"

۲۲ خو عیسیٰ په دے پوهه وُو چه دوئ څۀ خیال کوی نو جواب ئے ورکړو چه"تاسو په خپلو زړُونو
کښے داسے خیالُونه ولے کوئ؟ ۲۳ آیا دا آسانه ده چه څوک ووائی چه ستا گُناهُونه معاف شُو اَو که دا
چه پاڅه اَو وگرزه؟ ۲۴ خو دا دَ دے دَ پاره چه تاسو ته معلُومه شی چه اِبن آدم په مزکه دَ گُناهُونو معاف
کولو اِختیار لری."هغۀ شل سړی ته مخ ور واړَوو اَو وئے وئیل چه"زۀ تا ته دا وایم چه ودریږه،خپل کټ
واخله اَو کورته ځۀ."

۲۵ اَو هغه دَ هغوئ په وړاندے سمدستی پاڅیدو اَو هغه کټ چه دَئے پرے پروت وُو،ئے واخستو اَو کور
پلو روان شو اَو دَ خُدائے ثنا ئے ووئیله. ۲۶ هغوئ ټول سخت حیران شول اَو دَ خُدائ ثنا ووئیله اَو ویرے
واخستل اَو وئے وئیل چه"نن مُونږ څۀ عجیبه کارُونه ولیدل!"

## دَ لیوی بلنه

**(متی ۹: ۹ - ۱۳،مرقوس ۲: ۱۳ - ۱۷)**

۲۷ وروستو چه بیا عیسیٰ بهر لاړو نو هغۀ لیوی نومے یو محصُولچی ولیدو چه دَ محصُول په څوکئ کښے
په خپل ځائے ناست وُو اَو هغۀ ته ئے ووئیل چه"ما پسے راځه." ۲۸ اَو هغه دَ خپله ځایه پاڅیدو،هر څۀ

ئے پریخودل اَؤ په هغهٔ پسے روان شو.

۲۹ وروستو لیوی بیا دَ عیسیٰ لویه میلمستیا وکړه. په دے میلمنو کښے ګڼ محصُولچیان اَؤ نور خلق
شریک شوی وُو. ۳۰ فریسیانو اَؤ دَ هغوئ دَ فرقے دَ شرعے عالمانو دَ عیسیٰ مُریدانو ته دا ګله وکړله
چه''تاسو دَ محصُولچیانو اَؤ ګُناه ګارو سره ولے خورئ اَؤ څښئ؟'' ۳۱ عیسیٰ هغوئ ته جواب ورکړو
چه''روغو خلقو ته دَ ډاکټر حاجت نۀ وی خو رنځورانو ته ئے وی. ۳۲ زۀ دَ رښتینو خلقو دَ پاره نۀ یم
راغلے بلکه دَ ګُناه ګارو دَ پاره چه توبه وکړی.''

## دَ روژے په حقله تپوس

**(متی ۹: ۱٤ - ۱۷،مرقوس ۲: ۱۸ - ۲۲)**

۳۳ بیا هغوئ عیسیٰ ته ووئیل چه''دَ یحییٰ مُریدان خو روژے نیسی اَؤ ډیرے دُعاګانے کوی اَؤ دغه شان دَ
فریسیانو مُریدان هم، خوستا مُریدان خوری څښی.''

۳٤ عیسیٰ جواب ورکړو،''آیا تاسو په جنجیانو هغه وخت روژه نیولے شئ کُوم وخت چه چنغول دَ هغو
سره وی؟ ۳۵ خو یو وخت به راشی چه چنغول به دَ دوئ نه بوتلے شی اَؤ دغه وخت به دوئ روژے
نیسی.''

۳٦ عیسیٰ هغوئ ته دا مِثال هم ووے چه''هیڅوک هم دَ نوے چُوغے نه دَ دے دَ پاره ټوټه نۀ شلوی چه
زړے پرے وګنډی. که چرے هغه داسے وکړی نو هغه به په نوی چُوغے کښے سُورے وکړی اَؤ دا
نوے ټُکړه به دَ زړے سره هیڅ سمُون ونۀ خوری. ۳۷ اَؤ نۀ څوک نوی شراب په زړو مشکُونو کښے
اچوی.اَؤ که څوک داسے وکړی نو نوی شراب به دغه مشک وشلوی اَؤ شراب به ضائع شی اَؤ مشکُونه
به بے کاره شی. ۳۸ نوی شراب په نوو مشکُونو کښے اچول غواړی. ۳۹ اَؤ هر چا چه زاړۀ شراب څښلی
وی دَ نوو شرابو خواهش به نۀ کوی ځکه چه هغه وائی چه زاړۀ شراب ښۀ دی.''

# لُوقا باب ۶

## دَ سبت په ورځ وږی شُو کول

**(متی ۱۲: ۱ - ۸،مرقوس ۲: ۲۳ - ۲۸)**

۱ یو ځل دَ سبت په ورځ عیسیٰ دَ خپلو مُریدانو سره په پټو تیریدو اَؤ دَ هغهٔ مُریدانو وَږی شُو کول،هغه ئے
په لاسُونو کښے مړل اَؤ خوړل ئے. ۲ څنو فریسیانو دا ووئیل چه''تاسو هغه کار ولے کوئ کُوم چه دَ
سبت په ورځ روا نۀ دے؟'' ۳ عیسیٰ جواب ورکړو،''تاسو دا نۀ دی لوستی چه هر کله چه داؤد اَؤ دَ هغهٔ
ملګری وږی وُو نو هغوئ څۀ وکړل؟ ٤ هغه دَ خُدائے کور ته لاړو اَؤ دَ شُکرانے ډوډئ ئے راواخسته،په
خپله ئے هم وخوړه اَؤ ملګرو ته ئے هم ورکړه باوجُود دَ دے چه بغیر دَ کاهنانو نه په بل چا دا روا نۀ
وه.''

۵ هغهٔ دا ووئیل چه''اِبن آدم هم دَ سبت مالِک دے.''

## دَ يو وچ لاسه سړی روغول

**(متی ۱۲: ۹ - ۱٤،مرقوس ۳: ۱ - ٦)**

٦ دَ يو بل سبت په ورځ عيسیٰ عبادت خانې ته لاړو اَوْ تعليم ئې ور کاوو. هلته په ګڼه کښې يو سړے وُو
چه ښئ لاس ئې وچ شوے وُو. ۷ اَوْ دَ شرعې عالمان اَوْ فريسيان په دے اِنتظار وُو چه آيا عيسیٰ به دَ
سبت په ورځ دَئې روغ کړی اَوْ که نه؟ دَ دے دَ پاره چه په هغهٔ باندے دَ هغهٔ خلاف څهٔ اِلزام ولګوی.
۸ خو هغه پوهيدو چه دَ دوئ په زړُونو کښې څهٔ دی. نو هغهٔ هغه سړی ته چه لاس ئې وچ وُو
،ووئيل،"پاڅه اَوْ دلته ودريږه." نو هغه پاڅيدو آوْ هلته ودريدلو. ۹ عيسیٰ بيا هغوی ووئيل " زَهٔ له تاسو نه
يو سوال کوم چه آيا دَ سبت په ورځ ښهٔ کول روا دی که بد،ژوند بچ کول که هلاکول؟" ۱۰ هغهٔ ټولو ته
ګير چاپيره وکتل اَوْ بيا ئې هغه سړی ته ووئيل چه"خپل لاس وغزوه." نو هغهٔ داسې وکړل اَوْ دَ هغهٔ لاس
جوړ شو.

۱۱ خو هغوئ دَ غُصے نه سرهٔ شول اَوْ يو بل ته ئې ووئيل چه"مُونږ دَ عيسیٰ سره څهٔ وکړُو؟"

## دَ دولسو رسُولانو غوره کول

**(متی ۱۰: ۱ - ٤،مرقوس ۳: ۱۳ - ۱۹)**

۱۲ هم په دغه ورځو کښې عيسیٰ غرُونو ته لاړو چه دُعا وکړی اَوْ ټوله شپه ئې له خُدائے نه دُعا وغوښتله.
۱۳ چه سحر شو نو هغهٔ خپل مُريدان راوبلل اَوْ دَ هغوئ نه ئې دولس کسه غوره کړل اَوْ هغوئ ئې
رسُولان وبلل. ۱٤ دَ شمعُون نُوم ئې پطروس کيښودلو اَوْ دَ هغهٔ ورور اَندرياس اَوْ يعقُوب اَوْ يوحنا اَوْ
فيليپوس اَوْ برتلمائی، ۱۵ اَوْ متی اَوْ توما اَوْ دَ حلفئ زوئے يعقُوب اَوْ شمعُون چه ورته ننګيالے هم وئيلی
شی، ۱٦ اَوْ دَ يعقُوب زوئے يهُوداه اسکريوتی چا چه وروستو دَ هغهٔ مخبری وکړله.

## دَ يوے لوئے ګڼے خدمت کول

**(متی ٤: ۲۳ - ۲۵)**

۱۷ عيسیٰ دَ هغوئ سره دَ غرهٔ نه راکُوز شو اَوْ په هوار ميدان کښې ودريدو. په دغه ځائے کښې دَ هغهٔ
ګڼ مُريدان اَوْ ډير خلق چه ټول دَ يهُوديه اَوْ بيتُ المُقدس دَ صور اَوْ دَ صيدا دَ سمندری غاړے نه راټول
شوی وُو اَوْ دَ هغهٔ آوْريدو ته راغلی وُو اَوْ چه دوئ دَ خپلو رنځُونو نه شفا ومُومی. ۱۸ اَوْ هغه څوک چه
پيريانو نيولی وُو،روغ شول. ۱۹ ټولو خلقو کوشش کاوو چه لاس وروړی ځکه چه دَ هغهٔ نه يو طاقت
راووتلو اَوْ ټول ئې روغ کړل.

## برکتُونه اَوْ غمُونه

**(متی ٥: ۱ - ۱۲)**

۲۰ بيا عيسیٰ خپلو مُريدانو ته مخ راواړوو اَوْ وئے وئيل چه

تاسو بختور يئ چه غريبان يئ،دَ خُدائے بادشاهی ستاسو ده!"

۲۱ تاسو بختور يئ چه وږى يئ، ستاسو لوږه به په مړيدو بدله شى!

تاسو بختور يئ چه اوس ژاړئ، ستاسو ژړا به په خندا بدله شى!

۲۲ تاسو بختور يئ چه کله چه خلق تاسو ته په نفرت ګورى اَوْ دَ خپل مينځ نه مُو شړى اَوْ تاسو سپکوى
اَوْ ستاسو نُوم په بده آخلى اَوْ دَ اِبن آدم په وجه ستاسو نُوم دَ خپل مينځ نه لرے کوى. ۲۳ نو په هغه ورځ
تاسو خوشحالى کوئ اَوْ په ښادئ ټوپُونه وهئ ځکه چه ستاسو دَ پاره په آسمان کښے ډير لوئے اَجر دے.
هم په دغه شان دَ دوئ پلارُونو هم دَ نبيانو سره دغه سلُوک کړے وُو

۲٤ خو اَئے مالدارو! په تاسو اَفسوس دے

ځکه چه تاسو خپل دَ خوشحالئ دور تير کړو!

۲۵ په تاسو اَفسوس چه نن ماړهٔ يئ

ځکه چه تاسو به اوږى شئ!

په تاسو اَفسوس چه نن خاندئ،

تاسو به په غم آخته شئ اَوْ ژاړئ به!

۲٦ اَفسوس دے په تاسو چه کُوم وخت به ټول خلق ستاسو په باب کښے ښے خبرے کوى اَوْ هم دغسے
دَ هغوئ پلارُونو دَ دروغو نبيانو په باب کښے وئيل.“

## دَ دُښمنانو سره مينه

**(متى ٥: ۳۸ - ٤۸)**

۲۷ ”خو تاسو چه آوْرئ، زهٔ تاسو ته دا وايم چه دَ خپل دُښمن سره مينه کوئ اَوْ هغه څوک چه تاسو سره
کينه لرى دَ هغوئ سره ښهٔ کوئ. ۲۸ دَ هغوئ دَ پاره برکت غواړئ څوک چه په تاسو لعنت کوى اَوْ دَ
هغوئ دَ پاره دُعا کوئ څوک چه په تاسو تُهمتُونه لګوى. ۲۹ که يو سړے تاسو په يو مخ ووهى نو هغهٔ
ته بل مخ هم سيلمه کړئ. که يو سړے ستاسو چُوغه واخلى نو هغهٔ ته خپل کميس هم ورکړئ. ۳۰
څوک چه ستاسو نه څهٔ وغواړى هغوئ له هغه څهٔ ورکړئ. کله چه يو سړے هغه څهٔ دَ تاسو نه واخلى
کُوم چه ستاسو دى نو دَ هغهٔ نه ئے بيرته مه آخلئ. ۳۱ دَ خلقو سره داسے سلوک کوئ لکه چه تاسو
غواړئ چه هغوئ دِ دَ تاسو سره وکړى. ۳۲ ”که تاسو تش دَ هغه چا سره مينه کوئ څوک چه تاسو سره
مينه لرى نو ستاسو څهٔ مهربانى ده؟ ځکه چه ګُناه ګار هم دَ هغه چا سره مينه کوى څوک چه دَ هغوئ
سره مينه لرى. ۳۳ بيا دا چه که چرے تاسو دَ هغه چا سره نيکى کوئ څوک چه تاسو سره ښيګړه کوى
نو ستاسو څهٔ مهربانى ده؟ ځکه چه ګُناه ګار خو هم دغسے کوى. ۳٤ اَوْ که چرے تاسو تش هغه ځائے
قرض ورکوئ چرته چه ستاسو باور وى چه تاسو ته به پسته کړے شى نو ستاسو څهٔ مهربانى ده؟ ځکه
چه ګُناه ګار هم يو بل ته قرض ورکوى اَوْ يو بل ته ئے پُوره واپس کوى. ۳۵ خو تاسو دَ خپلو دُښمنانو

سره مينه اَؤ نيکی کوئ اَؤ قرض بغير دَ څۀ طمعے ورکوئ! نو تاسو به ډير لوئے اَجر ومُومئ. تاسو به بيا دَ
الاعلیٰ زامن شئ ځکه چه هغه په خپله هم په ناشُکرو اَؤ په شريرانو مهربانی کوی. ٣٦ ترس ناک شئ
ځکه چه ستاسو پلار هم ترس کُوونکے دے.

## نور خلق مُجرم گڼل

**(متی ٧: ١ - ٥)**

٣٧ غيبت مه کوئ نو ستاسو غيبت به هم ونۀ کړے شی. بل څوک مه مُجرموئ نو تاسو به هم مُجرم ونۀ
گڼلے شئ. معاف کوئ نو تاسو به هم معاف کړئے شئ. ٣٨ ورکوئ نو تاسو ته به هم درکړے شی. ښه
پيمانه منډلے دربلے ښۀ ډکه کړئ اَؤ تر موړگو موړگو به ستاسو په جولئ کښے واچولے شی اَؤ په کُومه
پيمانه چه تاسو ميچ کوئ هم په هغے به تاسوته ميچ وکړے شی.“

٣٩ اَؤ عيسیٰ هغوئ ته يو مِثال ووے چه”آيا يو ړُوند بل ړُوند ته لار ښودے شی څۀ؟ دواړه به په کنده
کښے ونۀ غورزيږی څۀ؟ ٤٠ شاگرد دَ اُستاذ نه لوئے نۀ دے خو هر هغه څوک چه پُوره تربيت ئے وشی
هغه به دَ دَ خپل اُستاذ په شان شی.

٤١ تۀ دَ خپل ورور په سترگه کښے دَ بُورے خسنی ته ولے گورے اَؤ په خپله سترگه کښے لوئے غوړکے
نۀ وينے؟ ٤٢ تۀ خپل ورور ته دا څنگه وئيلے شے چه زما خوږه وروره! راشه چه ستا دَ سترگے نه دا
خسنے وباسم چه خپله سترگه دِ په غوړکی ړنده ده؟ اَئے مُنافقه! اول دَ خپلے سترگے نه غوړکے وباسه نو
بيا به په آسانه دَ ورور دَ سترگے نه خسنے ويستے شے.

## ونه دَ ميوے نه پيژندل

**(متی ٧: ١٦ - ٢٠، ١٢: ٣٣ - ٣٥)**

٤٣ ”ښه ونه بده ميوه هيڅکله نۀ راوړی اَؤ هيڅکله په بده ونه کښے ښه ميوه نۀ پيدا کيږی، ٤٤ ځکه چه
هره ونه په خپلے ميوے پيژندلے کيږی. تۀ دَ ازغو نه انځير نۀ شے راټولولے اَؤ نۀ دَ جاړو نه انگور
راشُوکولے شے. ٤٥ ښۀ سړے به دَ خپل زړۀ دَ خزانے نه ښۀ خيزُونه راوباسی اَؤ بد سړے به دَ خپل زړۀ دَ
بدے خزانے نه بدے خبرے وباسی،ځکه چه کُومے خبرے چه په زړۀ کښے وی هم هغه په خُلۀ راځی
.

## دوه بُنيادُونه

**(متی ٧: ٢٤ - ٢٧)**

٤٦ ”تاسو ما ته ولے مالِک مالِک وايئ اَؤ هغه کار کله هم نۀ کوئ چه زۀ ئے درته وايم؟ ٤٧ هر هغه
څوک چه ماله راځی اَؤ زما خبرے آؤری اَؤ عمل پرے کوی نو زۀ به تاسو ته وښيم چه هغه دَ چا په شان
دے. ٤٨ هغه دَ يو داسے سړی په شان دے چا چه دَ کور جوړولو دَ پاره ښۀ ژور بُنيادُونه وکنستل اَؤ بُنياد
ئے په پوخ گټ کيښودلو. اَؤ هر کله چه سيلاب راغے نو سيند په کور وروختو خو هغه ئے ونۀ خوزولے
شو ځکه چه هغه پوخ ودان کړے شوے وُو. ٤٩ خو څوک چه زما خبرے آؤری اَؤ عمل پرے نۀ کوی
نو هغه دَ داسے سړی په شان دے چا چه خپل کور په کچه مزکه باندے بے بُنياده جوړ کړو. هر کله چه

سیلاب راغے اَؤ سیند وختو نو کور ونړیدو اَؤ په درز راولویدو.

## لُوقا باب ۷

## دَ صوبه دار دَ نوکر روغول

**(متی ۸: ۵ - ۱۳)**

۱ هر کله چه ئے خبرے خلقو ته خلاصے کړلے نو عیسیٰ کفرنحُوم ته لاړو. ۲ هلته دَ یو صوبه دار یو
معتبر نوکر وُو اَؤ هغه په مالِک ډیر گران وُو. نوکر مرگی حال ناجوړه وُو. ۳ هر کله چه هغهٔ دَ عیسیٰ په
حقله واؤریدل نو هغهٔ یو څو یهُودیان مشران ورواستول اَؤ سوال ئے ورته وکړو چه هغه راشی اَؤ دَ هغهٔ دَ
نوکر ژوند بچ کړی. ٤ هغوئ عیسیٰ ته راغلل اَؤ ډیر په ښه طریقه ئے ورته عرض وړاندے کړو اَؤ ورته ئے
ووئیل چه"هغه ستا دَ مهربانئ حقدار دے، ٥ ځکه چه هغه زمونږ دَ خلقو خوږمن دے اَؤ هغهٔ زمُونږ دَ
پاره عبادت خانه ودانه کړے ده."٦ عیسیٰ دَ هغوئ سره لاړو. نو چه هغه کور ته نزدے شو نو صوبه دار
یو څو دوستان په دے غرض ورواستول چه"مالِکه! نور تکلیف مه کوه ځکه چه زما دَ کور چت دَ دے
جوگه نهٔ دے چه تهٔ ورلاندے راشے. ۷ ځکه خو زهٔ په خپله تاسو ته حاضر نهٔ شوم. خو تهٔ دَ خُلے نه یو
ټکے ووایه نو زما نوکر به جوړ شی. ۸ ځکه چه زهٔ پوهیږم چه زهٔ په خپله دَ بل دَ حُکم دَ لاندے یم. کله
چه زما سپاهیان زما دَ حُکم دَ لاندے دی اَؤ چه زهٔ یو ته ووایم چه لاړ شه،نو هغه ځی اَؤ بل ته چه
ووایم چه دے خوا راشه،نو هغه راځی اَؤ خپل نوکر ته چه ووایم چه داسے وکړه،نو هغه ئے کوی."

۹ کله چه عیسیٰ دا واؤریدل نو هغه حیران شو،دَ هغه سړی ئے ډیر تعریف وکړو اَؤ کُوم خلق چه ورپسے
روان وُو هغوئ ته ئے مخ راواړوو اَؤ ورته ئے ووئیل چه"زهٔ تاسو ته وایم چه ما عن په اِسرائیلو کښے هم
داسے ایمان نهٔ وُو لیدلے!"

۱۰ اَؤ قاصِدان چه کور ته واپس راغلل نو هغوئ هغه نوکر روغ رمټ ولیدو.

دَ نائن دَ کونډے ښځے زوئے ژوندے کول

۱۱ پس له هغے عیسیٰ نائن نومے ښاریئے ته لاړو. دَ هغهٔ سره خپل مُریدان اَؤ نور ګڼ خلق ملگری وُو. ۱۲
کله چه هغه دَ ښاریئے دروازے ته ورسیدو نو یوه جنازه ئے ولیده. دغه مړے دَ یوے گُونډے یو زوئے وُو
اَؤ دَ دے سره دَ ښاریئے ګڼ خلق وُو. ۱۳ هر کله چه مالِک هغه ولیده نو زړهٔ ئے پرے وسویزیدلو اَؤ وئے
وئیل،"بس نوره ژړا مه کوه." ۱٤ دَ دے سره هغه وروړاندے شو اَؤ په جنازه ئے لاس کیښودلو اَؤ جنازه
وړُونکی ودریدل. بیا هغهٔ ووئیل چه"پورته شه زلمیه!" ۱٥ هغه مړے کښیناستو اَؤ خبرے ئے وکړلے اَؤ
عیسیٰ هغه خپلے مور ته بیا حواله کړو.

۱٦ په هغه ټولو حاضرینو باندے یوه زبردسته ویره خوره شوه اَؤ هغوئ ټولو دَ خُدائے ثنا ووئیله اَؤ وئے وئیل
چه"په مُونږ کښے یو لوئے نبی راپورته شوے دے اَؤ خُدائے پاک په خپلو خلقو دَ مهربانئ نظر کړے
دے." ۱۷ عیسیٰ چه څهٔ کړی وُو هغه قیصه دَ یهُودیه په ټوله علاقه اَؤ خوا اَؤ شا کښے خوره شوه.

## دَ يحيىٰ اَستازى

**(متى ١١: ٢ - ١٩)**

١٨ دَ يحيىٰ مُريدانو هغه په دے هر څۀ خبر کړو. ١٩ هغۀ خپل دوه مُريدان راوغوښتل اَوُ مالِک ته ئے
واستول چه تپوس وکړى چه”آيا تۀ هغه راتلُونکے يئے يا دا چه مُونږ دَ بل چا اِنتظار وکړُو؟“

٢٠ هغه اَستازى عيسىٰ له لاړل اَوُ ورته ئے ووئيل،”بپتسمه ورکوُونکى يحيىٰ مُونږ تا ته راليږلى يُو چه تپوس
وکړو چه تۀ هغه راتلُونکے يئے که مُونږ دَ بل چا اِنتظار وکړُو؟“

٢١ بيا هم په هغه ساعت عيسىٰ ډير خلق دَ رنځُونو نه روغ کړل،طاعون اَوُ بد رُوحونه ئے لرے کړل اَوُ
ډيرو ړاندو له ئے بينائى ورکړه. ٢٢ بيا هغۀ هغه اَستازو ته جواب ورکړو چه ”لاړ شئ اَوُ هر څۀ چه تاسو
وليدل اَوُ واوريدل په هغے يحيىٰ خبر کړئ اَوُ دا چه څنګه ړانده بينا کيږى،شل ګرزى،جُزامان پاکيږى
،کانۀ آؤرى،مړى بيا ژوندى کيږى اَوُ غريبان ښه زيرے آؤرى. ٢٣ اَوُ بختور دے هغه څوک چه په ما
شک نۀ کوى!“

٢٤ هر کله چه دَ يحيىٰ اَستازى رُخصت شول نو عيسىٰ دَ هغۀ په حقله خلقو ته ووئيل چه”تاسو دَ څۀ
ليدلو دَ پاره بيابان ته تلى وئ؟يوه لوخه چه باد خوزوله څۀ؟ ٢٥ نو بيا تاسو دَ څۀ په ليدو پسے بهر وتى
وئ؟ يو سړے چه ريښمينے جامے ئے آغوستے وے؟ يقينًا چه ښکلى جامے اَوُ دَ عيش څيزُونه تاسو په
محلُونو کښے مُوندلے شئ! ٢٦ نو بيا تاسو دَ څۀ په ليدو پسے وتى وئ؟ يو نبى ليدو له؟ هو،دَ نبى نه هم
څۀ ډير لوئے. ٢٧ دا هغه سړے دے چه دَ چا په حقله چه صحيفے وائى چه «ګورئ زۀ خپل پيغمبر ستا
دَ وړاندے ليږم چه ستا دَ پاره ستا نه وړاندے لاره جوړه کړى. » ٢٨ زۀ تاسو ته وايم چه دَ يحيىٰ نه بل
مور راوړے لوئے نِشته خو بيا هم دَ خُدائے په بادشاهئ کښے دَ ټولو نه وړوکے دَ هغۀ نه لوئے دے.

٢٩ اَوُ هم چه هغو ټولو خلقو چه دَ هغۀ خبرے واوريدے نو سره دَ محصُولچيانو ئے خُدائے ريښتينے
وګڼلو ځکه چه يحيىٰ په بپتسمے ئے بپتسمه آخستے وه. ٣٠ خو بے دَ فريسيانو اَوُ دَ شرعے دَ عالمانو نه
چا چه دَ هغۀ دَ بپتسمے نه اِنکار کړے وُو اَوُ دَ ځان دَ پاره ئے دَ خُدائے دَ حُکم نه مخ اَړولے وُو.

٣١ ”دَ دے پيړئ دَ خلقو مِثال په څۀ درکړم؟ ٣٢ هغوئ دَ چا په شان دى؟ هغوئ په بازار کښے دَ ناستو
هلکانو په شان دى څوک چه يو بل ته چغے وهى اَوُ وائى چه مُونږ تاسو ته شپيلئ وغږولے اَوُ تاسو ګډا
ونۀ کړه! مُونږ ژړا انګولا وکړه اَوُ تاسو وير ونۀ کړو! ٣٣ ځکه چه هر کله چه بپتسمه ور کوُونکے يحيىٰ
راغے چه نۀ ئے ډوډئ خوړه اَوُ نۀ ئے شراب څښل نو تاسو وايئ چه په هغۀ پيريان ناست دى! ٣٤ اَوُ هر
کله چه اِبنِ آدم راغے چه خورى څښى نو تاسو وايئ چه دَۀ ته وګورئ! دا ګيډور شرابى دَ محصُولچيانو
اَوُ ګناه ګارو آشنا دے! ٣٥ خو بيا هم دَ خُدائے پاک حِکمت دَ خپلو ټولو زامنو په حقله رښتينے ثابت
شو.“

## يوه ګُناه ګاره ښځه معاف کول

٣٦ یو فریسی دَ عیسیٰ میلمستیا وکړله. هغه دَ فریسی کور ته لاړو اَؤ خوراک ته کښیناستو. ٣٧ نو په هغه
ښار کښې یوه گُناه گاره ښځه چه دَ عیسیٰ دَ راتلو نه خبر شوه چه دَ یو فریسی په کور کښې میلمه دے
نو په عطردان کښې ئے خوشبُویه عطر راؤړل. ٣٨ هغه دَ عیسیٰ دَ پښو سره وروستو ودریده اَؤ په ژړا شوه
اَؤ دَ هغهٔ پښې دَ هغې په اوښکو لمدے شوے اَؤ هغه هغې په خپلو ویښتو وچے کړے اَؤ کښل ئے کړے
اَؤ عطر ئے پرے واچول. ٣٩ کله چه دَ هغهٔ کوربه فریسی دا ولیدل نو دَ ځان سره ئے ووئیل،”که دا
سړے چرے رښتینے نبی وئے نو هغه به په دے خبر وئے چه دا لاس وروړُونکے ښځه څوک ده اَؤ دا دَ
کُوم قبیل ښځه ده یعنے یوه گُناه گاره.“

٤٠ عیسیٰ دَ هغهٔ په زړهٔ پوهه شو اَؤ ورته ئے ووئیل چه”شمعُونه! زهٔ تا ته څهٔ وئیل غواړم.“هغهٔ ووئیل
چه”وفرمایه مالکه!“

٤١ عیسیٰ ورته ووئیل چه”دَ یو بنیا دوه قرضداری وُو. یو ته ئے پنځهٔ سوه دیناره قرض وُو اَؤ بل پنځوس.
٤٢ هر کله چه دَ دواړو سره دَ قرض پرے کولو هیڅ دَرک نهٔ وُو نو دواړو ته ئے وبخښل. نو اوس ووایه
چه په دے دواړو کښې به دَ هغهٔ سره زیاته مینه کُوم یو کوی؟“

٤٣ شمعُون جواب ورکړو،”زما په خیال چه کُوم سړی ته ئے زیاتے وبخښلے.“

عیسیٰ ووئیل چه”بے شکه تهٔ دُرست وائے.“ ٤٤ بیا ښځے ته مخ واړَوو اَؤ شمعُون ته ئے ووئیل چه”تهٔ دا
ښځه وینے څهٔ؟ زهٔ ستا کور ته راغلم اَؤ تا زما دَ پښو دَ پاره اوبهٔ قدرے هم رانهٔ کړلے خو دے ښځے زما
پښے په خپلو اوښکو لمدے کړے اَؤ هغه ئے په خپلو ویښتو وچے کړے. ٤٥ تا زهٔ کښل قدرے نهٔ کړم
خو دَ کُوم وخت نه چه زهٔ راغلے یم هغه لګیا ده زما پښے کښلوی. ٤٦ تا زما سر په تیلو غوړ نهٔ کړو اَؤ
هغے زما په پښو عطر واچول. ٤٧ ځکه زهٔ تا ته دا وایم چه هغے ځکه دومره مینه وکړله چه دَ هغے ډیر
گُناهونه بخښلی شوی دی. دَ چا چه لږ بخښلی شوی وی هغه لږه مینه کوی.“

٤٨ بیا عیسیٰ هغے ته ووئیل چه”ستا گُناهونه وبخښلے شول.“

٤٩ نو میلمنو په خپلو کښې ووئیل چه”دے لا څوک دے چه گُناهُونه بخښی؟“

٥٠ خو عیسیٰ هغے ښځے ته ووئیل چه”تهٔ خپل ایمان بچ کړلے،په خیر لاړه شه.“

## لُوقا باب ٨

## دَ یو څو ښځو دَ عیسیٰ سره ملګرتیا

١ دَ دے نه پس عیسیٰ ښار په ښار اَؤ کلی په کلی گرزیدو،وعظ ئے کاوو اَؤ دَ خُدائے دَ بادشاهئ زیرے
ئے آؤرولو. اَؤ دَ هغهٔ سره هغه دولس تنه وُو، ٢ اَؤ یو څو ښځے وے څوک چه دَ پیریانو نه خلاصے کړے
اَؤ دَ رنځُونو نه ئے جوړے کړے شوے وے مریم چه دَ مګدلینی په نُوم بللے کیږی دَ چا نه چه اُووهٔ

پیریان پاخولے شوی وُو، ۳ اَوْ یوانه دَ هیرودیس دَ خُوزه نومے ناظر ښځه اَوْ سُوسناه اَوْ نورے ډیرے ښځے
چه په خپل مال ئے دَ هغوئ خدمت کاوو.

## دَ کروندے مِثال

**(متی ۱۳: ۱ - ۹،مرقوس ٤: ۱ - ۹)**

٤ اَوْ ډیر خلق دَ یو بل ښار نه عیسیٰ ته راجمع کیدل اَوْ هغهٔ په دے مِثال کښے خبرے وکړلے ٥ چه یو
زمیندار دَ تُخم کرلو دَ پاره ووتو اَوْ دَ کروندے تُخم څهٔ دَ لارے په غاړه پریوتو چه هغه خور وور شو اَوْ
مرغو وخوړو. ٦ څهٔ تُخم په کټه پریوتو اَوْ څهٔ وخت پس زرغون شو اَوْ وُچ شو ځکه چه دَ نم کمے وُو. ۷
اَوْ څهٔ تُخم په اغزو کښے پریوتو اَوْ اغزی لوئ شول اَوْ هغه ئے لاندے کړو. ۸ اَوْ څهٔ تُخم په ښه مزکه
پریوتو اَوْ راوټو کیدو اَوْ یو په سل بار ئے وکړو.''

هر کله چه عیسیٰ دا ووئیل نو آواز ئے وکړو،''که چرے تاسو دَ آؤریدو غوږوُنه لرئ نو واؤرئ!''

دَ مِثالونو مطلب

۹ دَ هغهٔ مُریدانو تپوس ترے وکړو چه دَ دے مِثال مطلب څهٔ وُو؟ ۱۰ نو هغهٔ ووئیل چه''دا مِثال ځکه
درکړے شو چه دَ خُدائے دَ بادشاهئ په رازُونو پوهه شئ خو دَ نورو دَ پاره دا تش مِثال دے چه «هغوئ
وګوری خو هیڅ ونهٔ وینی، واؤرئ خو هیڅ پرے پوهه نهٔ شی.»

## دَ کروندے دَ مِثال تشریح

**(متی ۱۳: ۱۸ - ۲۳،مرقوس ٤: ۱۳ - ۲۰)**

۱۱ دَ دے مِثال مطلب دا دے چه تُخم دَ خُدائے کلام دے. ۱۲ اَوْ دَ لارے په غاړه هغه ښوک دی چه
ښوک دا آؤری خو وروستو اِبلیس راشی اَوْ هغه کلام دَ هغوئ دَ زړهٔ نه یوسی،هسے نه چه ایمان راؤړی
اَوْ خلاصُون بیا مُومی. ۱۳ په کټه دَ کرلی شوی تُخم مِثال دَ هغه چا دے چه هر کله چه کلام واؤری په
خوشحالئ ئے قبُول کړی خو جرړے ئے نهٔ وی اَوْ دَ لږ وخت دَ پاره پرے ایمان راؤړی نو دَ آزمیښت په
وخت کښے وتښتی. ۱٤ اَوْ په اغزو کښے دَ پریوتلی تُخم مِثال دَ هغه چا دے چه وائے وری خو نوره وده
ئے دَ دولت اَوْ سودا اَوْ دَ ژوند دَ خوشحالو په وجه ونیولے شی اَوْ میوه ئے نهٔ پخیږی. ۱٥ خو دَ ښے
مزکے مِثال دَ هغه چا دے ښوک چه په ښهٔ اَوْ پاک زړهٔ سره کلام واؤری اَوْ پرے مضبوط شی اَوْ په دے
دَ صبر میوه راؤړی.

## دَ لوښی دَ لاندے ډیوه

**(مرقوس ٤: ۲۱ - ۲٥)**

۱٦ داسے هیڅوک نِشته چه ډیوه بله کړی اَوْ بیا ئے دَ لوښی دَ لاندے پټه کړی اَوْ یا ئے دَ کټ لاندے
کیږدی بلکه هغه ئے په ډیوټ کیږدی چه دَ ننه راتلُونکی ئے رڼا ووینی. ۱۷ داسے هیڅ څیز پټ نِشته چه
ښکاره به نهٔ شی اَوْ داسے هیڅ څیز په پړده کښے نِشته چه څرګند به نهٔ شی.

۱۸ خو خبردار شئ چه تاسو څنګه آؤرئ ځکه چه دَ چا سره چه څۀ وى هغۀ له به زيات ورکړے
شى اَوْ دَ چا سره چه څۀ نۀ وى نو دَ هغۀ نه به چه څۀ ورسره وى هغه به هم ترے واخستے شى
.“

## دَ عيسىٰ مور اَوْ ورُونه

**(متى ۱۲: ٤٦ - ٥٠،مرقوس ۳: ۳۱ - ۳٥)**

۱۹ دَ عيسىٰ مور اَوْ ورُونه راغلل خو دَ ګڼې له کبله هغۀ ته ور ونۀ رسيدل. ۲۰ چا هغۀ ته ووئيل چه ”ستا
مور اَوْ ورُونه بهر ولاړ دى اَوْ تا ليدل غواړى.“

۲۱ هغۀ جواب ورکړو،”زما مور اَوْ زما ورُونه هغه څوک دى چه دَ خُدائے کلام آؤرى اَوْ عمل پرے
کوى.“

## دَ طوفان قلارول

**(متى ۸: ۲۳ - ۲۷،مرقوس ٤: ۳٥ - ٤۱)**

۲۲ يوه ورځ عيسىٰ دَ خپلو مُريدانو سره کِشتئ ته وختلو اَوْ ورته ئے ووئيل،”راځئ چه دَ درياب بلے غاړے
ته پورے وزُو.“نو هغوئ روان شول. ۲۳ اَوْ کله چه هغوئ په کِشتئ کښې روان وُو،نو دَ هغۀ سترګے
ورغلے. په درياب کښې يو زبردست طوفان راغے،کِشتئ چپو واخسته اَوْ هغوئ په سخته خطره کښې
ګير وُو. ۲٤ هغوئ هغۀ له ورغلل اَوْ په دے چغو ئے رابيدار کړو،”مالکه!مالکه! مُونږ غرقيږُو!“

عيسىٰ بيدار شو اَوْ سيلئ اَوْ دَ اوبو طوفان ئے ورټلو. طوفان ودريدلو اَوْ قلاره قلارى شوه. ۲٥ هغۀ تپوس
وکړو،”ستاسو ايمان چرته دے؟“هغوئ په ويره اَوْ حيرانتيا يو بل ته ووئيل،”دا څوک دے چه بادُونه اَوْ
چپو ته حُکم ورکوى اَوْ هغوئ ئے منى؟“

## په ګِراسينيانو کښې دَ ډيرو پيريانو نيولى سړى روغول

**(متى ۸: ۲۸ - ۳٤،مرقوس ٥: ۱ - ۲۰)**

۲٦ دغه شان عيسىٰ دَ خپلو مُريدانو سره دَ ګِراسينيانو وطن ته ورسيدلو کُوم چه دَ ګليل په بله غاړه وُو. ۲۷
چه عيسىٰ وُچے ته کُوز شو نو هلته ئے يو سړے وليدو چه پيريانو نيولے وُو اَوْ دَ ډير وخت نه ئے نۀ خو
جامے آغوستے وے اَوْ نۀ ئے کور ليدلے وُو خو په مقبره کښې ډيره وُو. ۲۸ کله چه هغۀ عيسىٰ وليدلو نو
چغے ئے کړے اَوْ دَ هغۀ په پښو پريوتو اَوْ دا نعرے ئے وهلے،”اَئے دَ الاعلىٰ زويه عيسىٰ! تۀ زما نه څۀ
غواړے؟ زَۀ درته زارى کوم چه ما مه په عذابوه!“ ۲۹ ځکه چه عيسىٰ پيريانو ته حُکم کړے وُو چه دغه
سړى نه راوزئ. ډير ځله ئے هغه نيولے وُو اَوْ دَ حفاظت دَ کبله به په زنځيرونو کښې وتړلے شو اَوْ زولنئ
به ورواچولے شوے خو هر وار به هغۀ ځان خلاص کړو اَوْ پيريانو به هغه بيابان ته بوتلو. ۳۰ عيسىٰ دَ هغۀ
نه پتوس وکړو،”نُوم دِ څۀ دے؟“

هغۀ ووئيل چه”لښکر.“ دا ځکه چه هغه ډيرو پيريانو نيولے وُو. ۳۱ هغوئ ډيره زارى ورته وکړه چه دا
حُکم مه راکوه چه تاترين ته ولوېږئ.

٣٢ هغه نزدے دَ خنزيرانو يوه لويه رمه وه چه په غرهٔ کښے څريده اَوْ پيريانو خواست ورته وکړو چه"مُونږ
پريږده چه په دوئ کښے ورننوزو."هغهٔ هغوئ ته اِجازت ورکړو. ٣٣ پيريان دَ سړی نه ووتل اَوْ په خزيرانو
کښے ورننوتل اَوْ ټوله رمه دَ کمر نه کښته په دَوْ شوه اَوْ په درياب کښے غرقه شوه.

٣٤ شپُونکو چه دا وليدل نو وتښتيدل. هغوئ ښاريو اَوْ بانډو ته دا خبر ورسولو. ٣٥ اَوْ خلق دَ دے تماشے
دَ پاره بهر راووتل. کله چه هغوئ عيسیٰ له راغلل اَوْ هغه پيريانو نيولے سړے ئے جک جوړ وليدو چه
جامے ئے آغوستے سم دم دَ عيسیٰ په پښو کښے ناست وۀ نو هغوئ ويريدل. ٣٦ کُومو خلقو چه دا کار
ليدلے وُو هغوئ نورو ته حال ووے چه دا پيريانو نيولے سړے څنګه جوړ شو. ٣٧ نو دَ ګِراسينيانو دَ وطن
ټولو خلقو عيسیٰ ته خواست وکړو چه دَ دے ځائے نه لاړ شه ځکه چه هغوئ ډير ويرے آخستی وُو. نو
هغه کِشتئ ته وختلو اَوْ واپس لاړو. ٣٨ دَ کُوم سړی نه چه پيريان پاڅيدلی وُو هغهٔ دا اِجازت وغوښتو چه
دَ هغهٔ ملګرے شی. خو عيسیٰ هغه رُخصت کړو اَوْ ورته ئے ووئيل چه ٣٩ "څهٔ،کورته واپس لاړ شه اَوْ
هغوئ ته هر څهٔ بيان کړه چه خُدائے ستا دَ پاره کړی دی." هغه سړے په ښار کښے هر پلو وګرزيدو اَوْ
عيسیٰ چه دَ هغهٔ دَ پاره څهٔ کړی وُو هغه ئے خلقو ته بيان کړل.

## دَ يائير لُور اَوْ هغه ښځه روغول چه دَ عيسیٰ چُوغے له ئے لاس وروړے وُو

**(متی ٩: ١٨ - ٢٦،مرقوس ٥: ٢١ - ٤٣)**

٤٠ هر کله چه عيسیٰ بيرته راستُون شو نو خلقو ورته هر کلے ووے ځکه چه هغوئ ټول ورته په اِنتظار
وُو. ٤١ بيا ګوره يائير نومے يو سړے راغے اَوْ هغه دَ يوے عبادت خانے مشر وُو. هغه دَ عيسیٰ په پښو
پريوتو اَوْ زاری ئے ورته وکړه چه "ما سره لاړ شه. ٤٢ ځکه چه زما دَ دولسو کالو يکی يوه لُور ده چه
مرګی حاله پرته ده."

کله چه عيسیٰ تلو نو دَ خلقو دَ ګڼے له کبله ورته تلل ګران وُو. ٤٣ په هغوئ کښے يوه ښځه وه چه دَ
دولسو کالو راسے ئے وينه بهيدله اَوْ هيچا ئے علاج نهٔ شو کولے. ٤٤ هغه دَ شا نه راغله اَوْ دَ هغهٔ دَ
چُوغے لمنے له ئے لاس وروړو اَوْ سمدستی ئے وينه ودريده.

٤٥ عيسیٰ ووئيل،"دا څوک ده چه ما ته ئے لاس راوړو؟"

ټول مُنکر شول اَوْ پطروس اَوْ دَ هغهٔ ملګرو ووئيل،"مالِکه! ګڼه دربانده راټوله ده اَوْ خلق درته راجُختيږی."

٤٦ خو عيسیٰ ووئيل چه"چا خو ما ته لاس راوړے دے ځکه چه زهٔ پوهه شوم چه له ما نه يو قُوت بهر
وتلے دے." ٤٧ بيا ښځه پوهه شوه چه هغه پيژندلے شوے ده،نو په لړزيدو راغله اَوْ دَ هغهٔ په پښو کښے
پريوته اَوْ دَ ټولو خلقو په وړاندے ئے دَ دے اِقرار وکړو چه هغے ولے هغهٔ له لاس وروړو اَوْ څنګه هغه
سمدستی جوړه شوه. ٤٨ هغهٔ هغے ته ووئيل چه"زما لُورے! تهٔ خپل يقين جوړه کړے،په خير لاړه شه."

٤٩ عیسیٰ لا دا خبرے کولے چه دَ عبادت خانے دَ مشر دَ کوره یو سړے راغے اَؤ دا خبر ئے راؤړو
چه"ستا لُور مړه ده اَؤ اُستاذ له نور تکلیف مه ورکوه."

٥٠ خو عیسیٰ چه دا واؤریدل نو هغهٔ ته ئے ووئیل چه"ویریږه مه! تش ایمان لره اَؤ هغه به بچ شی."

٥١ کور ته په رسیدو هغهٔ دَ پطروس،یوحنا،،یعقُوب اَؤ دَ جینئ دَ مور پلار نه علاوه نور ټول خلق کور ته دَ
ننوتلو نه منع کړل. ٥٢ هغو ټولو دَ هغے جینئ دَ پاره ژړا انګولا کوله. هغهٔ ووئیل چه"نور مه ژاړئ،هغه
مړه نهٔ ده،هغه خو اُوده ده!"

٥٣ اَؤ هغوئ وریورے خندا جوړه کړه ځکه چه ښهٔ خبر وُو چه هغه مړه ده. ٥٤ خو عیسیٰ هغه دَ لاسه
ونیوه اَؤ ورته ئے ووئیل چه"پاځهٔ زما بچئ!" ٥٥ دَ هغے رُوح بیرته راغے،هغه سمدستی پاځیده اَؤ هغهٔ
هغوئ ته ووئیل چه"هغے ته خوړلو له څهٔ ورکړئ. ٥٦ دَ هغے مور پلار حق حیران شول خو هغهٔ هغوئ ته
حُکم ورکړو چه"هر څهٔ چه شوی دی دَ دے حال چاته مه وایئ."

# لُوقا باب ۹

## دَ دولسو رسُولانو لیږل

**(متی ١٠: ٥ - ١٥،مرقوس ٦: ٧ - ١٣)**

١ عیسیٰ بیا هغه دولس تنه راوبلل اَؤ هغوئ له ئے اِختیار ورکړو چه پیریان وباسی اَؤ رنځُونه روغوی. ٢ اَؤ
هغوئ ئے دَ خُدائے دَ بادشاهئ دَ وعظ کولو اَؤ دَ رنځُورانو دَ روغولو دَ پاره واستول. ٣ اَؤ هغوئ ته ئے
ووئیل چه"دَ ځان سره هیڅ مه آخلئ،نهٔ لښته،نه بټوے،نهٔ ډوډئ اَؤ نهٔ پیسے اَؤ نهٔ به دَ ځان سره بل
قمیس وړئ. ٤ اَؤ هر کله چه تاسو یو کور ته ورشئ نو په هغه کښے پاتے شئ اَؤ هم دَ هغه ځائے نه
رُخصت شئ. ٥ اَؤ کُوم خلق چه تاسو قبُول نهٔ کړی نو هر کله چه تاسو دَ هغوئ ښار پریږدئ نو دَ خپلو
پښو نه دُوړے وڅنډئ چه په هغوئ ګواهی شی." ٦ نو هغوئ روان شول،کلی په کلی ګرزیدل اَؤ په هر
ځائے کښے ئے دغه زیرے خور کړو اَؤ رنځُوران ئے روغ کړل.

## دَ هیرودیس پریشانی

**(متی ١٤: ١ - ١٢،مرقوس ٦: ١٤ - ٢٩)**

٧ والی هیردیس هم دَ دے ټول هر څهٔ نه خبر شو اَؤ په هیڅ بُود بے بُود ئے نهٔ رسیدو ځکه چه څنو به
وئیل چه یحییٰ له مړو نه بیا ژوندے شوے دے. ٨ اَؤ نورو به وئیل چه اِلیاس راپیدا شوے دے اَؤ نورو به
وئیل چه دَ زاړو پیغمبرانو نه یو بیا راژوندے شوے دے. ٩ هیرودیس ووئیل چه"دَ یحییٰ سر ما په خپله
پریکړے دے خو دا لا څوک دے چه دا دومره خبرے ئے کیږی؟"اَؤ هغه دَ عیسیٰ لیدو ته لیوا له وُو.

## پنځو زرو خلقو ته خوراک ورکول

**(متی ١٤: ١٣ - ٢١،مرقوس ٦: ٣ - ٤٤،یوحنا ٦: ١ - ١٤)**

۱۰ هر کله چه رسُولان بيرته راغلل نو عيسىٰ ته ئے خپله کار گُزارى تيره کړه اَؤ هغۀ هغوئ دَ ځان سره
روان کړل اَؤ بيتِ صيدا نومے ښارېئے ته ځان له لاړل. ۱۱ خو خلق خبر شول اَؤ ورپسے لاړل. هغۀ خلقو
ته هر کلے ووے اَؤ هغوئ ته ئے دَ خُدائے دَ بادشاهئ په حقله خبرے وکړے اَؤ څوک چه دَ علاج
حاجتمند وُو،هغوئ ئے روغ کړل.

۱۲ کله چه ماښام شو نو هغه دولس تنه هغۀ له راغلل اَؤ ورته ئے ووئيل،"دا خلق رُخصت کړه چه خوا اَؤ
شا کلو اَؤ بانډو ته لاړ شى اَؤ ځان ته دَ شپے تيرولو اَؤ خوراک غور وکړى ځکه چه مُونږ دلته په خوشى
بيابان کښے يُو." ۱۳ عيسىٰ جواب ورکړو چه"دوئ ته له ځانه څۀ ورکړئ چه وخورى."نو هغوئ ووئيل
چه"مُونږ سره خو صرف پنځۀ ډوډئ اَؤ دوه کبان دى،نور هيڅ نِشته،تر څو چه مُونږ په خپله لاړ نۀ شُو اَؤ
دَ دوى دَ پاره دَ خوراک څښاک څيزُونه وانۀ خلُو." ۱۴ دا خوا اَؤ شا پنځۀ زره سړى وُو. هغۀ خپلو
مُريدانو ته ووئيل چه"دوئ دَ پنځوسو پنځوسو په قطارُونو کښے کښينوئ." ۱۵ هغوئ داسے وکړل اَؤ ټول
ئے کښينول. ۱۶ بيا عيسىٰ هغه پنځۀ ډوډئ اَؤ دوه کبان واخستل اَؤ آسمان ته ئے پورته وکتل،په هغے ئے
شُکر وُويستو،ماتے ئے کړے اَؤ مُريدانو له ئے ورکړے چه په خلقو ئے وويشى. ۱۷ هغوئ ټولو ښۀ په مړه
گيډه ډوډئ وخوړه اَؤ کله چه پاتے شوے ټُکړے راجمع کړے شوے نو دولس شکرئ ترے ډکے
شوے.

## دَ عيسىٰ په باره کښے دَ پطروس اِقرار

**(متى ۱۶: ۱۳ - ۱۹،مرقوس ۸: ۲۷ - ۲۹)**

۱۸ يوه ورځ چه عيسىٰ يواځے دُعا کوله اَؤ دَ هغۀ مُريدان هم حاضر وُو نو هغۀ دَ هغوئ نه تپوس وکړو
چه"خلق څۀ وائى چه زۀ څوک يم؟"

۱۹ هغوئ جواب ورکړو،"څوک خو وائى چه بپتسمه ورکُونکے يحيىٰ دے،نور دِ اِلياس گڼى اَؤ څنے دا
وائى چه دَ پخوانو نبيانو نه څوک بيا ژوندے شوے دے." ۲۰ نو هغۀ ورته ووئيل چه"تاسو څۀ وايئ چه
زۀ څوک يم؟" پطروس جواب ورکړو،"دَ خُدائے مسيح."

## دَ عيسىٰ دَ خپل مرګ اَؤ بيا ژوندے کيدلو په باره کښے پيشن گوئى

**(متى ۱۶: ۲۰ - ۲۸،مرقوس۸: ۳۰ - ۹: ۱)**

۲۱ بيا عيسىٰ هغوئ په کلکه منع کړل چه"دا حال به گورے چا ته نۀ وايئ." ۲۲ اَؤ هغۀ ووئيل چه"اِبن
آدم به ډيرے سختئ زغمى چه مشران، کاهنان اَؤ دَ شرعے عالمان به ئے رد کوى،چه قتل کړے شى اَؤ
بيا به په دريمه ورځ ژوندے پاڅولے شى." ۲۳ اَؤ هغۀ ټولو ته ووئيل،"که څوک زما مُريدى خوښوى نو
هغه دِ خپل خواهشات شاته وغورزوى اَؤ هره ورځ دِ هغه خپله سولئ پورته کوى اَؤ په ما پسے دِ راځى.
۲۴ څوک چه خپل ژوندُون بچ کول غواړى هغه به ورک شى،خو چه کوم سړے زما دَ خاطره ځان
ورکول غواړى هغه به بچ شى. ۲۵ که بنى آدم دا ټوله دُنيا دَ خپل ځان په بدل کښے حاصله کړى نو څۀ
به ومُومى؟ ۲۶ ځکه چه هر هغه څوک چه په ما يا زما په کلام وشرميږى نو اِبن آدم به دَ هغۀ نه

وشرمیږی،هر کله چه هغه په خپله اَو دَ خپل پلار اَو دَ پاکو فرښتو دَ شان و شوکت سره راشی. ۲۷ اَو زهٔ
تاسو ته دا وایم چه دلته ځنې داسې کسان ولاړ دی چه هغوئ به مرګ تر هغې ونهٔ وینی تر څو ئې چه دَ
خُدائې بادشاهی لیدلې نهٔ وی.“

## دَ عیسیٰ شکل بدلیدل

**(متی ۱۷: ۱ - ۸،مرقوس ۹: ۲ - ۸)**

۲۸ دَ دې خبرو نه اَتهٔ ورځې پس هغهٔ پطروس،یوحنا اَو یعقُوب دَ ځان سره کړل اَو دَ دُعا دَ پاره غرهٔ ته
لاړل. ۲۹ هر کله چه هغهٔ دُعا کوله نو دَ هغهٔ شکل بدل شو اَو جامې ئې سپینې وځلیدلې. ۳۰ اَو وګورئ
دوه سړی ورسره په خبرو وُو چه دا اِلیاس اَو مُوسیٰ وُو ۳۱ چه هغوئ په جلال کښې ښکاره شول اَو دَ
هغهٔ دَ مرګ په حقله ئې خبرې وکړې چه هغه په بیتُ المُقدس کښې پُوره کیدُونکې وې. ۳۲ په دې
وخت کښې پطروس اَو دَ هغهٔ ملګری په ښهٔ خوب ورغلی وُو، خو هر کله چه هغوئ بیدار شُو نو هغوئ
دَ دَهٔ شان ولیدو اَو ورسره ئې هغه دوه سړی هم په څنګ کښې ولاړ ولیدل. ۳۳ اَو کله چه هغوئ دَ
عیسیٰ نه جُدا کیدل نو پطروس هغهٔ ته ووئیل،”مالِکه! زمُونږ دَ پاره دلته پاتې کیدل ښهٔ دی! نو مُونږ به
درې کوټګئ،یوه ستا دَ پاره،یوه دَ مُوسیٰ اَو یوه دَ اِلیاس دَ پاره جوړې کړُو.“خو هغهٔ چه څهٔ ووئیل په
هغې نهٔ پوهیدو.

۳٤ دا خبرې لا دَ هغهٔ په شُونډو وې چه په دې کښې یوه وریځ راغله اَو په دوئ سورې شو. هغوئ چه
په وریځ کښې راګیر شول نو ویرې واخستل. ۳۵ اَو دَ دې وریځې نه یو آواز راغې،”دا زما زوئې دې،زما
غوره کړې. دَهٔ ته غوږ ونیسئ!“ ۳٦ هر کله چه آواز وشو نو عیسیٰ ئې یواځې ولیدو. نو مُریدان غلی پاتې
شول اَو هر څهٔ چه ئې لیدلی وُو،په هغه وخت کښې ئې هیچا ته هم حال ونهٔ وې.

## یو دَ پیریانو نیولې هلک روغول

**(متی ۱۷: ۱٤ - ۱۸،مرقوس ۹: ۱٤ - ۲۷)**

۳۷ بله ورځ چه هغوئ دَ غرهٔ نه راکُوز شول نو ډیره لویه ګڼه ورته راټوله شوه. ۳۸ په ګڼه کښې ناڅاپه یو
سړی چغه کړه،”اُستاذه! زاری درته کوم چه زما په یکی یو زوی نظر وکړه! ۳۹ وخت په وخت ئې رُوح
نیسی،چغې ترې وباسی،تاؤ راتاؤ ئې کړی اَو وئې غورزوی اَو په خُلې ئې ځګُونه رامات کړی اَو چه بد
بد ئې ژوبل کړی نو ایله ترې لاړ شی! ٤۰ ما ستا مُریدانو ته خواست وکړو چه ترې ئې وباسئ خو هغوئ
پاتې راغلل.“ ٤۱ عیسیٰ جواب ورکړو،”اَئې بد راه اَو بې ایمانه پیړئ! زهٔ به تر څو تاسو سره یم اَو ستاسو
ناکړدې به زغمم؟ خپل زوئې دلته راوله.“ ٤۲ خو دَ راوستو نه مخکښې ناپاک رُوح هغه ماشُوم راوپرزوو
اَو تاؤ راتاؤ ئې کړو. عیسیٰ ناپاک رُوح ورټلو،هلک ئې روغ کړو اَو پلار ته ئې بیرته حواله کړو. ٤۳ اَو
هغوئ دَ خُدائې په لوئی اَو شان ویرې واخستل.

## دَ عیسیٰ په دویم ځل دَ خپل مرګ په حقله پیشن ګوئی

**(متی ۱۷: ۲۲ - ۲۳،مرقوس ۹: ۳۰ - ۳۲)**

ټول خلق دَ دَهٔ په دې ټولو کارُونو حیران شول اَو عیسیٰ په دې حال کښې خپلو مُریدانو ته ووئیل، ٤٤

”زۀ چه اوس څۀ وئيل غواړم په هغه خبرو غور وکړئ ځکه چه دا ستاسو دَ پاره دی! اِبن آدم به دَ بنی
آدمو په واک کښې ورکړے شی.“ ٤٥ خو هغوئ دَ هغۀ په دے وينا پوهه نۀ شول ځکه چه دَ دے
مطلب دَ هغوئ نه پټ وُو دَ دے دَ پاره چه هغوئ په دے ونه رسی اَو هغوئ په دے حقله دَ هغۀ نه دَ
تپوس کولو نه هم ويريدل.

## دَ ټولو نه لوئے څوک دے؟

**(متی ١٨: ١ - ٥،مرقوس ٩: ٣٣ - ٣٨)**

٤٦ دَ هغوئ په مينځ کښې تکرار وشو چه په دوئ کښې څوک لوئے دے. ٤٧ عيسیٰ په دے پوهه وُو چه
دَ دوئ په زړُونو کښې څۀ تيريږی نو هغۀ يو ماشُوم دَ لاسه ونيولو اَو په خپله خوا کښې ئے ودرولو ٤٨ اَو
وے وئيل،”هغه څوک چه زما په نُوم دا ماشُوم قبول کړی هغه ما قبلوی،اَو هغه څوک چه ما قبلوی هغه
هغه څوک قبلوی چه زۀ ئے را آستولے يم. ځکه چه په تاسو ټولو کښې ورکوټے په تاسو ټولو کښې لوئے
دے.“

## هغه څوک چه ستا مُخالف نۀ دے،ستا طرفدار دے

**(مرقوس ٩: ٣٨ - ٤٠)**

٤٩ يوحنا ووئيل،”مالِکه! مُونږ يو سړے وليدو چه ستا په نُوم ئے پيريان ايستل خو چه هغه زمُونږ نه نۀ وُو
نو له دے کبله مُونږ دَ هغۀ دَ منع کولو کوشِش وکړو.“ ٥٠ عيسیٰ هغۀ ته ووئيل،”هغه مه منع کوئ ځکه
چه کُوم سړے چه ستاسو مُخالف نۀ دے،هغه ستاسو طرفدار دے.“

## دَ سامريه دَ يو کلی دَ عيسیٰ دَ قبلولو نه اِنکار

٥١ هر کله چه هغه رانزدے شو چه عيسیٰ پاس آسمان ته بوتلُونکے وُو نو هغۀ بيتُ المُقدس ته په پخه
اِراده مخه وکړه. ٥٢ اَو دَ ځان نه ئے وړاندے اَستازی واستول. هغوئ لاړل اَو دَ سامريه يو کلی ته ورغلل
چه دَ هغۀ دَ پاره تيارى وکړی. ٥٣ خو دَ کلی خلقو هغه قبُول نۀ کړو چه دَ هغۀ مخه دَ بيتُ المُقدس په
لور وه. ٥٤ هر کله چه دَ هغۀ مُريدانو يعقُوب اَو يوحنا دا وليدل نو وئے وئيل،”مالکه! مُونږ دَ آسمان نه دَ
دے کلی دَ سوزولو دَ پاره اور غواړُو څۀ؟“

٥٥ خو هغۀ ورته مخ ور واړوو اَو وئے رټل. ٥٦ نو بيا هغوئ بل کلی ته لاړل.

## دَ عيسیٰ دَ مُريدان کيدلو امکان

**(متی ٨: ١٩ - ٢٢)**

٥٧ کله چه هغوئ په لاره روان وُو نو يو سړی هغۀ ته ووئيل،”تۀ چه هر چرته ځے،زۀ به درپسے يم.“

٥٨ عيسیٰ جواب ورکړو،”دَ لُومبړو غارُونه شته اَو دَ مراغانو جالے،خو دَ اِبن آدم دومره قدرِ ځائے هم نِشته
چه خپل سر پرے ولګوی.“

٥٩ بل چا ته هغۀ ووئيل،”په ما پسے راځه.“

خو سړی جواب ورکړو،”ما ته دومره اِجازت راکړه چه اول خپل پلار ښخ کړم.“

٦٠ خو عیسیٰ ورته ووئیل،”مړی پرېږدئ چه مړی ښخوی خو تهٔ خامخا لاړ شه اَؤ دَ خُدائے دَ بادشاهئ زیرے خور کړه.“

٦١ اَؤ بیا یو بل ووئیل،”مالِکه! زَهٔ به درپسے یم خو دومره اِجازت راکړه چه دَ خپل کور دَ خلقو نه رُخصت واخلم.“

٦٢ عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل،”کُوم سړے چه دَ یوی په مُوټئ لاس کیږدی اَؤ بیا شاته ګوری هغه دَ خُدائے دَ بادشاهئ لائق نهٔ دے.“

# لُوقا باب ١٠

## دوه اویا مُریدان لیږل

١ پس له هغے بیا مالِک نور دوه اویا مُقرر کړل اَؤ هغوئ ئے دوه دوه مُختلفو کلو اَؤ بانډو ته دَ ځان نه
وړاندے واستول،کُومو ته چه دَ هغهٔ دَ ورتلو اِراده وه. ٢ هغهٔ هغوئ ته ووئیل،”فصل ډیر دے خو مزدُوران
کم دی. دَ دے دَ پاره تاسو دَ فصل خاوند ته سوال وکړئ چه دَ خپل فصل دَ پاره مزدُوران راولیږی. ٣ په
خپله لاره ځئ اَؤ ګورئ،زَهٔ تاسو لکه ګډے دَ شرمخانو په مینځ کښې لیږم. ٤ مه دَ ځان سره پیسے
وړئ،نهٔ بټوے اَؤ نهٔ پیزار. په لاره په هیچا په سلام اَؤ دُعا باندے وخت مه ضائع کوئ. ٥ اَؤ هر کله چه
یو کور ته ننوزئ نو تاسو اول داسے ووایئ، په دے کور کښے دِ خیر وی! ٦ که چرے هلته یو کس خیر
خواه وی نو ستاسو سلامتی به دَ هغهٔ دَ پاره وی اَؤ که نه، نو هغه به تاسو ته بیرته راشی. ٧ هم په هغه یو
کور کښے پاتے شئ اَؤ دَ هغوئ په خوراک څښاک کښے شریک شئ ځکه چه مزدُور دَ مزدُورئ حقدار
وی. دَ یو کور نه بل کور ته مه ځئ. ٨ هر کله چه تاسو یوے ښارئے ته ورشئ اَؤ هغوئ تاسو ته هر کلے
ووائی نو کُوم خوراک چه تاسو ته کیښودے شی،هغه وخورئ. ٩ هلته رنځُوران روغ کړئ اَؤ ووایئ چه دَ
خُدائے بادشاهی ستاسو په سر راغلے ده. ١٠ هر کله چه تاسو یوے ښارئے ته دَننه شئ اَؤ هغوئ درته هر
کلے ونهٔ وائی نو دَ دے کلی بهر کُوڅو ته ووزئ اَؤ ووایئ، ١١ ستاسو دَ ښاریئے دا دُوړه چه زمُونږ په پښو
پورے نښتی ده،مُونږ ئے ستاسو خلاف څنډو. خو دا خبره یاده لرئ چه دَ خُدائے بادشاهی رانزدے ده!
١٢ زَهٔ تاسو ته دا وایم چه په لویه ورځ به دَ صدُوم حال دَ دغه ښار نه زیات دَ زغملو وی!

## په ناتوبه ګار ښار باندے اَفسوس

**(متی ١١: ٢٠ - ٢٤)**

١٣ اَئے خورازینه! په تا دِ اَفسوس وی! اَئے بیتِ صیدا! په تا دِ اَفسوس وی! که چرے دا معجزے کُومے
چه په تاسو کښے ښکندے کړے شوے په صور اَؤ صیدا کښے ښکندے کړے شوے وئے نو هغوئ
به دَ دے نه ډیر پخوا چه دَ تباهئ اَؤ بربادئ سره مخامخ شوی وُو،ټاټ لنګ کړے اَؤ په ایرو کښے

ناست توبه ګار شوی وُو! ۱۴ خو دَ قیامت په ورځ به دَ صُور اَؤ صیدا حالت ستاسو نه ډیر غوره وی. ۱۵
اَؤ اَئے کفرنحُومه! آیا تهٔ دا ګمنے چه تهٔ به تر آسمانه پورته کړے شے څهٔ؟ نه،تهٔ به تاترین ته وغورزولے
شے!

۱۶ هر څوک چه تاسو ته غوږ نیسی،هغه ما ته غوږ نیسی اَؤ هر څوک چه تاسو رد کوی،هغه ما رد کوی
اَؤ څوک چه ما رد کوی،هغه هم هغه رد کوی چه زَهٔ ئے را استولے یم.“

## دَ دوؤ اؤیاؤ مُریدانو واپس راتلل

۱۷ بیا هغه دوه اویا کسان خوشحاله واپس راغلل اَؤ وئے وئیل چه”اَئے مالِکه! ستا په نُوم پیریان هم زمُونږ
تابعداری کوی.“

۱۸ هغهٔ ځواب ورکړو،”ما دا ولیدل چه څنګه شیطان دَ بریښنا په شان دَ آسمان نه راکُوز شو. ۱۹ اوس
تاسو ګورئ چه اِختیار مے تاسو ته درکړو چه په لړمانو اَؤ مارانو پښے ږدئ اَؤ دَ دُښمن طاقت هم دَ پښو
لاندے کوئ اَؤ هیڅ شئے هم چرے تاسو ته نقصان نهٔ شی درکولے. ۲۰ خو په دے یواځے مه
خوشحالیږئ چه رُوحُونه ستاسو تابعداری کوی بلکه په دے چه ستاسو نومُونه په آسمان کښے ولیکلے
شول.“

## دَ عیسیٰ خوشحالیدل

**(متی ۱۱: ۲۵ - ۲۷، ۱۳: ۱۶ - ۱۷)**

۲۱ هم په دغه وخت عیسیٰ په رُوحُ القُدس لویه خوشحالی وکړه اَؤ عیسیٰ ووئیل،”اَئے پلاره! دَ آسمان اَؤ
مزکے مالکه! زَهٔ ستا شُکر کوم چه دا خبرے دِ دَ هوښیارانو اَؤ پوهانو نه پټے کړلے اَؤ ماشُومانو ته دِ
ښکاره کړلے. اَئے پلاره! دا ستا رضا وه.

۲۲ زما پلار ما ته هر څهٔ راسپارلی دی اَؤ هیڅوک په دے نهٔ دے پوهه چه زوئے ئے څوک دے بے له
پلاره،اَؤ پلار څوک دے بے له زویه اَؤ دَ هغه سړی نه چه زوئے ئے پرے ظاهرول غواړی.“

۲۳ بیا هغه خپلو مُریدانو ته راوګرزیدلو اَؤ جُدا ئے ورته ووئیل،”هغه سترګے بختوری دیچه هغه څهٔ لیدے
شی چه تاسو ئے وینئ! ۲۴ زَهٔ تاسو ته وایم چه ډیرو نبیانو اَؤ بادشاهانو دا غوښتل چه هغه څهٔ ووینی چه
تاسو ئے وینئ خو چرے ئے ونهٔ لیدل اَؤ هغه څهٔ واؤری چه تاسو ئے آؤرئ خو چرے ئے وانهٔ وریدل.“

نیک سامری

۲۵ په یوه موقع یو دَ شرعے عالم راغے اَؤ په عیسیٰ ئے دَ آزمیښت دَ پاره دا سوال وکړو،”مالکه! زهٔ داسے
څهٔ کار وکړم چه دَ تل ژوندُون وارث شم؟“

۲۶ عیسیٰ ورته ووئیل،”په شریعت کښے ئے څهٔ لیکلی دی؟ تهٔ ئے څنګه لولے؟“

۲۷ هغۀ ورته جواب ورکړو،«دَ خپل خُدائے سره دَ زړۀ په راستئ اَؤ پُوره په رُوح اؤ پُوره په طاقت اَؤ پُوره
په عقل مينه لره» اَؤ «دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په شان مينه کوه.»

۲۸ عيسىٰ ورته ووئيل چه”هم دغه صحيح جواب دے.دغه شان کوه نو ژوندے به اوسے.“

۲۹ خو هغۀ خپل ځان رښتُونے کولو،نو عيسىٰ ته ئے ووئيل،”زما ګاونډی څوک دے؟“

۳۰ عيسىٰ ورته جواب ورکړو چه”يو سړے دَ بيتُ المُقدس نه يريحو ته روان وُو چه په لارے ډاکوانو ګير
کړو،جامے ئے ترے وويستے،وئے وهلو اَؤ مرګی حال ئے پريښودلو اَؤ ترے لاړل. ۳۱ اِتفاقی يو کاهن په
دغه لار تيريدو چه هغه ئے وليدو نو ډډه ئے ترے وکړه اَؤ داسے پرے تير شو. ۳۲ دغه شان يو ليوی هغه
ځائے ته راغے اَؤ چه ئے وليدو نو ډډه ئے ترے وکړه اَؤ لاړو. ۳۳ خو يو سامری مُسافر چه هغۀ ته راغے
اَؤ چه هغه ئے وليدو نو زړۀ ئے پرے وسوزيدو. ۳٤ هغه ورغے،په هغه ئے پټئ ولګوله اَؤ په زخمونو ئے
ورته تيل اَؤ شراب پورے کړل اَؤ بيا ئے په خپل څاروی سور کړو اَؤ يو سرائے ته ئے راوستو اَؤ هلته ئے دَ
هغۀ خدمت وکړو. ۳۵ بله ورځ هغۀ دوه ديناره راوويستل،دَ سرائے مالِک ته ئے ورکړل اَؤ ورته ئے ووئيل
چه دَ دَۀ خدمت کوه اَؤ که نور خرچ پرے راغے نو په واپسئ به ئے درکړم.

۳۶ ستا څۀ خيال دے چه په دے درے واړو کښے دَ هغه سړی کُوم چه دَ غلو په لاس کښے کښيوتے
وُو،ګاونډی څوک دے؟“

۳۷ هغۀ جواب ورکړو،”هغه څوک چا چه په هغۀ رحم وکړو.“

عيسىٰ ورته ووئيل،”لاړ شه اَؤ دغسے کوه لکه چه هغۀ وکړل.“

## دَ عيسىٰ مرتا اَؤ مريم سره ملاقات

۳۸ هر کله چه هغوئ په لاره تلل نو عيسىٰ يو کلی ته راغے چرته چه مرتا نومے يوے ښځے په خپل کور
کښے ميلمه کړو. ۳۹ دَ هغے يوه خور وه چه نُوم ئے مريم وُو. هغه دَ عيسىٰ په پښو کښے کښيناستله اَؤ دَ
هغۀ کلام ئے آؤريدلو. ٤۰ خو چه مرتا دَ ډير کار له کبله زياته ستړے شوه نو ورغله اَؤ ورته ئے
ووئيل،”مالِکه! تۀ دا خيال نۀ کوے چه زما خور زَۀ خدمت ته يواځے پريښودلے يم؟ هغے ته ووايه چه
راشی اَؤ زما مدد وکړی.“

٤۱ مالِک په جواب کښے ورته ووئيل،”مرتا! دَ تۀ ډيرو څيزونو فکر آخستے يئے اَؤ هله ګُله جوړوے. ٤۲
خو يو څيز ضروری دے اَؤ مريمے چه کُومه حِصه خوښه کړے ده،هغه غوره ده اَؤ دا به دَ هغے نه
هيڅکله وانۀ خستے شی.“

## لُوقا باب ۱۱

## دَ دُعا په حق کښې تعليم

**(متی٦: ٩ - ١٣،٧: ٧ - ١١)**

١ داسې وشول چه عيسىٰ په يو ځائے کښې دُعا کوله. هغۀ چه دُعا خلاصه کړه نو دَ هغۀ په مُريدانو
کښې يو تن ورته ووئيل،"مالِکه! مُونږ ته دَ دُعا چل وښيۀ لکه څنګه چه يحيىٰ خپلو مُريدانو ته ښودلے
وُو."

٢ عيسىٰ جواب ورکړو چه"هر کله چه تاسو دُعا کوئ نو داسې وايئ:

اَئے پلاره!

ستا نُوم دِ پاک شی اَؤ ستا بادشاهی دِ راشی.

٣ زمُونږ دَ هرے ورځے رزق مُونږ له راکړے.

٤ اَؤ مُونږ ته زمُونږ ګُناهُونه وبخښې،

ځکه چه مُونږ هم خپل قصُور وار بخښُو،

اَؤ مُونږ په آزميښت کښې مه اچوه."

٥ بيا عيسىٰ هغوئ ته ووئيل،"فرض کړئ چه په تاسو کښې دَ يو سړی يو ملګرے وی ځوک چه په نيمه
شپه کښې ورله راشی اَؤ ورته ووائی زما ملګريه! ماله درے ډوډئ پور راکړه. ٦ ځکه چه زما يو ملګرے دَ
سفر نه راغلے دے اَؤ ما کره هغۀ ته دَ ورکولو دَ پاره هيڅ نِشته. ٧ اَؤ هغه ورته دَ ننه نه په جواب کښې
ووائی چه ما مه تنګوه! دَ شپے له کبله وَرُونه بند دی اَؤ زما بچی اَؤ مُونږ ملاست يُو اَؤ زۀ تا ته دَ څۀ
درکولو دَ پاره نۀ شم پاڅيدلے. ٨ زۀ تاسو وايم،که چرے دَ دوستئ له مخه ورله څۀ ورنۀ کړی خو دَ هغۀ
دَ سوالُونو دَ شرمه به هغه پاڅی اَؤ هغۀ له به هر څۀ ورکړی. ٩ اَؤ دغه شان زۀ تاسو ته وايم چه وغواړئ
نو تاسو ته به درکړے شی،ولټوئ نو تاسو به ئے ومُومئ،وډبوئ اَؤ دروازه به درته لرے کړے شی. ١٠
ځکه چه هر څوک چه وغواړی،هغه ئے آخلی اَؤ څوک ئے چه لټوی،هغه ئے مُومی اَؤ څوک چه ور
ټکوی،هغۀ ته دروازه بيرته کيږی. ١١ په تاسو کښې داسے يو پلار هم شته چه زوئے ترے نه ماهی
وغواړی اَؤ دَے ورله مار ورکړی؟ ١٢ اَؤ يا چه هغه اګئ وغواړی نو دئے ورله لړم ورکړی؟ ١٣ ځکه چه که
تاسو هر څومره بد يئ خو په دے پوهيږئ چه خپلو بچو له ښۀ څيزُونه ورکړئ نو ستاسو آسمانی پلار به
څومره زيات هغوئ ته رُوحُ القُدس ورکړی چه څوک ئے غوښتنه کوی!"

## عيسىٰ اَؤ بعلزبول

**(متی ١٢: ٢٢ - ٣٠،مرقوس ٣: ٢٠ - ٢٧)**

١٤ عيسىٰ دَ يو داسے سړی نه پيرے لرے کړو چه هغه چاړا وُو اَؤ هر کله چه دغه پيرے ووتو نو هغه
چاړا سړے په خبرو شو. خلق په دے حيران شول، ١٥ خو څنو په کښې ووئيل چه"دَئے خو دَ پيريانو دَ

سردار بعلزبول په مدد پیریان وباسی.“

۱۶ اَوُ نورو دَ آزمیښت په طور ترے نه څهٔ آسمانی نخښه وغوښتله. ۱۷ خو هغه دَ هغوئ په نیتُونو پوهیدو
اَوُ ورته ئے ووئیل چه”په هره بادشاهئ کښے چه دَ ننه مُخالفت را اُوچت شی نو هغه بربادیږی اَوُ په
اِتفاقئ کور ړنګیږی. ۱۸ هم دغه شان که چرے شیطان دَ خپل ځان نه خلاف شی نو بادشاهی به ئے
څنګه پاتے شی؟ اَوُ لکه چه تاسو وایئ چه زَهٔ دَ بعلزبول په مدد پیریان وباسم، ۱۹ نو که چرے زَهٔ دَ
بعلزبول په مدد پیریان وباسم نو ستاسو زامن ئے دَ چا په مدد وباسی؟ ځکه هم هغوئ به ستاسو مُنصفان
شی ۲۰ خو که چرے زَهٔ دَ خُدائے په قُدرت پیریان وباسم نو بیا پوهه شئ چه دَ خُدائے بادشاهی تاسو ته
نزدے ده.

۲۱ هر کله چه یو زورَور وسله کړے سړے دَ خپل کور ساتنه کوی نو دَ هغهٔ کور به په حفاظت وی. ۲۲
خو هر کله چه دَ هغهٔ نه زیات زورَور سړے په هغهٔ راشی اَوُ دَئے دَ قابو لاندے کړی نو هغه دَ هغهٔ وسله
واخلی چه دَ دَهٔ پرے توکل وی اَوُ هر څهٔ ئے تالا کړی اَوُ دَ لُوټ مال ئے وویشی.

۲۳ هغه څوک چه ماسره نهٔ دے،زما مخالف دے اَوُ څوک چه ئے زما سره نهٔ جمع کوی نو هغه ئے
تالاترغه کوی.

## دَ یو پیری واپس راتلل

**(متی ۱۲: ۴۳ - ۴۵)**

۲۴ هر کله چه دَ بنی آدم نه یو پیرے راوزی نو هغه په صحراګانو کښے ناقلاره ګرځی اَوُ دَ آرام ځائے
لټوی اَوُ هر کله چه هغه داسے ځائے ونهٔ مُومی نو وائی چه ځه یره هغه کورته به لاړ شم چه دَ کُوم نه
راوُتے یم. ۲۵ دغه شان هغه بیرته لاړ شی اَوُ هغه کور صفا اَوُ جارُو کړے بیا مُومی. ۲۶ بیا دَئے لاړ شی
اَوُ دَ ځان سره نور اُووهٔ پیریان دَ ځان نه زیات خراب راولی اَوُ هغه ټول راشی،ورننوزی اَوُ هلته دیره شی اَوُ
په آخر کښے دَ هغه سړی حال دَ اول نه هم زیات خراب شی.“

## دَ رښتُونی برکت

۲۷ هر کله چه عیسیٰ دا خبره کوله په ګڼه کښے یوے ښځے چغے کړے،”بختوره ده هغه ګیډه چه تهٔ
په کښے پاتے شوے ئے اَوُ هغه سینه بختوره ده چه تا ورودله!“

۲۸ نو هغهٔ جواب ورکړو،”نه،بختور هغه دے څوک چه دَ خُدائے کلام آوُری اَوُ پرے عمل کوی!“

## نخښنه غوښتل

**(متی ۱۲: ۳۸ - ۴۲)**

۲۹ هر کله چه خلق عیسیٰ ته راټولیدل نو هغهٔ داسے ووئیل،”دا یوه بده پیړئ ده! دوئ نخښنه غواړی خو
یکی یوه نښخه چه دوئ ته ورکیدے شی،هغه دَ یُونس نخښنه ده. ۳۰ لکه څنګه چه یُونس دَ نینیواه دَ
خلقو دَ پاره نخښنه شو،دغه شان به اِبن آدم دَ دے پیړئ دَ پاره نخښنه شی. ۳۱ اَوُ هر کله چه به دَ قیامت

په ورځ دَ سهيل مَلِکه دَ دے پيړئ دَ خلقو په خلاف ګواهی کوی اَؤ دوئ به مُجرمان ثابت کړی،ځکه
چه هغه خو دَ سليمان دَ حِکمت دَ آؤريدو دَ پاره دَ دُنيا دَ بل سر نه راغلے وه،اَؤ چه دلته دے،هغه دَ
سليمان نه هم ډير لوئے دے. ۳۲ دَ نينيوا خلق به هم دَ دے زمانے دَ خلقو سره دَ قيامت په ورځ ودريږی
اَؤ دا پيړئ به مُجرمه ثابته کړی ځکه چه هغوئ دَ يُونس په وعظ توبه ګار شول،اَؤ څوک چه دلته دے
،هغه دَ يُونس نه هم ډير لوئے دے.

## دَ وجُود رڼا

**(متی ٥: ١٥، ٦: ٢٢ - ٢٣)**

۳۳ ”هيڅوک هم ډيوه په دے غرض نۀ بلوی چه دَ اوړی دَ لاندے ئے کړی خو دَ دے دَ پاره چه په
ډيوټ ئے کيږدی چه هر راتلُونکے سړے رڼا ليدے شی. ۳٤ ستا دَ وجود ډيوه ستا سترګه ده. هر کله چه
ستا سترګه جوړه وی نو ستا ټول وجُود به هم رڼا وی. هر کله چه سترګه خرابه وی نو ستا په وجُود
کښے به تورتم وی. ۳٥ نو بيا پام کوه چه کُومه رڼا په تا کښے ده چه تور تم نۀ وی ۳٦ که چرے ستا په
ټول وجُود کښے رڼا وی اَؤ يو اَندام هم په تورتم کښے نۀ وی نو درته به داسے رڼا وی لکه چه يوه ډيوه
ستا په وړاندے بليږی.“

## دَ فريسی اَؤ دَ شرعے عالم ملامتول

**(متی ۲۳: ١ - ۳٦، مرقوس ١۲: ۳۸ - ٤٠)**

۳۷ هر کله چه عيسیٰ خبرے ختمے کړے نو يو فريسی هغه ډوډئ ته وبللو. هغه دَ ننه ورغے اَؤ
کښيناستو. ۳۸ فريسی په دے ليدو حيران شو کله چه هغه دَ ناوينځلو لاسُونو سره خوراک ته کښيناستو.
۳۹ خو مالِک هغۀ ته ووئيل،”تاسو فريسيان دَ کنډول اَؤ رکابئ تش بهر مخ وينځئ خو دَ ننه دَ حرص اَؤ
بد کارئ نه ډک يئ. ٤٠ اَئے کم عقلو! چا چه بهرنئ حصه جوړه کړے ده،آيا هغۀ دَ ننه حِصه نۀ ده
جوړه کړے څۀ؟ ٤١ خو ځئ،هر څۀ چه په کښے دی هغه دِ خيراتی ورکړے شی. ګورئ،هر څۀ ستاسو
دَ پاره پاک دی.

٤۲ اَئے فريسيانو! په تاسو دِ اَفسوس وی! تاسو دَ باغ دَ ويلنی اَؤ دَ سپيلنی اَؤ دَ هر قِسم سبزئ عُشر خو
ورکوئ خو نۀ دَ اِنصاف خيال ساتئ اَؤ نۀ درسره دَ خُدائے مينه شته. په اصل کښے په کار دا وُو چه
تاسو په دے هم عمل کولے اَؤ هغه مو نۀ پريښولے.

٤۳ اَئے فريسيانو! په تاسو دِ اَفسوس وی! تاسو په عبادت خانو کښے دَ مشرئ کُرسئ خوښوئ اَؤ په
بازارُونو کښے په سلامُونو خوشحاليږئ. ٤٤ اَفسوس،چه تاسو دَ هغه قبرُونو په شان يئ چه نخښه ئے نۀ
معلُوميږی اَؤ خلق پرے په بے خيالئ کښے دَ پاسه ګرځی.“

٤٥ دَ دے په جواب کښے يو دَ شرعے عالم ووئيل،”اُستاذه! تۀ چه داسے خبرے کوے نو دا زمُونږ
سپکاوے کوے.“ ٤٦ عيسیٰ ورته ووئيل،”بے شکه دَ شرعے عالمانو! ستاسو هم دغه حال دے! ځکه
چه تاسو په خلقو بے اندازے بوج وراچوئ ولے په خپله دَ دے اُوچتولو دَ پاره يوه ګوته قدرِ هم نۀ
وروړئ. ٤٧ اَفسوس چه تاسو دَ هغه نبيانو ګنبدُونه جوړوئ چه ستاسو پلارُونو نيکُونو وژلی وُو. ٤۸ اَؤ تاسو

په خپله دَ خپلو پلارُونو نيکُونو په کارُونو کښې گواهى کوئ، هغوئ قتلونه وکړل اَؤ تاسو پرے گنبدُونه
جوړ کړل.

۴۹ ځکه خو دَ خُدائے حِکمت وئيلى دى چه زَهٔ به نبيان اَؤ رسولان درلېږم اَؤ په دوئ کښې به ځنى
رېړولے شى اَؤ ځنى به ووژلے شى. ۵۰ دغه شان به دَ دُنيا دَ پيدايښت نه دَ ټولو نبيانو دَ توئے شوو وينو
جواب دَ دے پيړئ نه وغوښتلے شى، ۵۱ دَ هابيل دَ وينے نه دَ ذکرياه تر وينے پورے څوک چه دَ قُربانگاه
اَؤ دَ خُدائے دَ کور دَ کوټے په مينځ کښې ووژلے شو. زَهٔ تاسو ته وايم چه دا پيړئ به دَ دے ټولو جواب
ورکوى.

۵۲ اَئے دَ شرعے عالمانو! په تاسو دِ اَفسوس وى! تاسو دَ عِلم کُنجيانے قبضه کړى دى،تاسو په خپله هم
داخل نهٔ شوئ اَؤ څوک چه داخليدل،هغه مو هم نهٔ پريښول!“

۵۳ کله چه عيسىٰ دَ کوره بهر شو نو فريسيانو اَؤ دَ شرعے عالمانو دا کوشِش وکړو چه سخت ټيل جوړ
کړى اَؤ دَ دَهٔ نه بے واره بے واره تپوسُونه وکړى. ۵۴ اَؤ په دے اِنتظار وُو چه هغه په خپلو خبرو کښې
راگير کړى.

## لُوقا باب ۱۲

## دَ مُنافقت خلاف خبردارے

**(متى ۱۰: ۲۶ - ۲۷)**

۱ په دے دوران کښې دَ زرگُونو خلقو گڼه جوړه شوے وه اَؤ داسے جقه شوى وه چه خلق په يو بل
ورختل. نو عيسىٰ اول خپلو مُريدانو ته خبرے شروع کړے چه”دَ فريسيانو دَ خمبيرے نه ځان ساتئ! زما
مطلب دَ هغوئ دَ مُنافقت نه دے. ۲ داسے هيڅ پټ شئے نِشته چه هغه به څرگند نهٔ کړے شى اَؤ
داسے هيڅ څيز نامعلُومه نِشته چه هغه به ونهٔ پيژندا‌ے شى. ۳ نو هر هغه څهٔ چه تاسو په تورتم کښې
وايئ،هغه به په رڼا ورځ واؤريدلے شى اَؤ هغه څهٔ چه تاسو په بندو دروازو يو بل ته په غوږ کښې وئيلى
دى،هغه به دَ کوټے دَ چته په چغه واؤرولى شى.

## دَ چا نه ويريدل

**(متى ۱۰: ۲۸ - ۳۱)**

۴ اَئے زما دوستانو! زَهٔ تاسو ته دا وايم،دَ هغه چا نه مه ويرېږئ څوک چه وجُود وژنى خو دَ هغے نه پس
نور هيڅ نهٔ شى کولے. ۵ زَهٔ به تاسو خبردار کړم چه دَ چا نه ويره په کار ده. دَ هغهٔ نه ويرېږئ څوک چه
دَ وژلو نه پس دوزخ ته دَ اچولو طاقت هم لرى. زَهٔ تاسو ته وايم چه له هغهٔ نه ويره کوئ!

۶ ولے پنځهٔ چڼچڼے په دوؤ پيسو نهٔ خرڅيږى څهٔ؟ اَؤ بيا هم خُدائے په دوئ کښې يوه هم نهٔ هيروى. ۷
لا دَ دے نه سيوا ستاسو دَ سر ټول ويښتهٔ هم شمارلى شوى دى. هيڅ ويره مه کوئ،تاسو دَ بے شميره
چڼچڼو نه زيات قيمتى يئ!

## دَ بنی آدمو په مخ کښې دَ عیسیٰ اِقرار
(متی ۱۰: ۳۲ - ۳۳، ۱۲: ۳۲، ۱۰: ۱۹ - ۲۰)
۸ زَهٔ تاسو ته دا وایم چه هر هغه څوک چه دَ خلقو په مخکښې زما اِقرار کوی نو اِبن آدم به هم دَ خُدائے
دَ فرښتو په مخکښې دَ هغهٔ اِقرار کوی. ۹ خو څوک چه دَ بنی آدمو په وړاندے زما نه مُنکریږی نو دَ
خُدائے دَ فرښتو په مخکښې به دَ هغهٔ نه اِنکار وشی.

۱۰ هر هغه څوک چه دَ اِبن آدم بر خلاف څهٔ خبره وکړی نو هغه به معاف کړے شی،خو څوک چه دَ
رُوحُ القُدس بر خلاف کُفر ووائی نو دَ هغهٔ دَ پاره به هیڅ معافی نهٔ وی.

۱۱ هر کله چه تاسو دَ عبادت خانو اَؤ دَ حاکمانو اَؤ دَ اِختیار دَ خاوندانو په وړاندے راوستے شئ نو په
دے اندیښنه مه کوئ چه تاسو به دَ دوئ په وړاندے په خپله صفائی کښې څهٔ وایئ. ۱۲ کله چه وخت
راشی نو رُوحُ القُدس به په خپله تاسو ته په هغه ساعت وښائی چه څهٔ وئیل په کار دی.“

## دَ نادان مالدار مِثال
۱۳ په ګڼه کښې یو سړی عیسیٰ ته ووئیل،”اُستاذه! زما ورور ته ووایه چه زما سره دَ میراث ویش وکړی.“
۱٤ هغهٔ جواب ورکړو چه”سړیه! زَهٔ چا ستاسو مُنصف اَؤ ثالث مُقرر کړے یم؟“ ۱۵ بیا هغهٔ خلقو ته
ووئیل،”خبردار شئ! دَ هر قِسم حرص نه ځان ساتئ ځکه چه که دَ یو سړی سره زیات مال هم وی خو
دولت دَ هغهٔ ژوند نهٔ شی زیاتولے.“

۱٦ اَؤ بیا ورته عیسیٰ دا مِثال پیش کړو چه”یو مالدار سړے وُو چه په مزکه کښې ئے ښهٔ فصل وشو. ۱۷
هغهٔ دَ ځان سره ووئیل،ما ته څهٔ کول پکار دی؟ ما سره خو دومره ځائے هم نِشته چه دا غله په کښې
انبار کړم. ۱۸ هغهٔ ووئیل چه زَهٔ به داسے وکړم چه خپلے خمبے به ونړوم اَؤ لوئے به ئے جوړے کړم اَؤ په
هغے کښې به خپله ټوله غله اَؤ نور څیزُونه سمبال کړم. ۱۹ اَؤ بیا به ځان ته ووایم،سړیه! ډیر ښهٔ ښهٔ
څیزونه دومره چه دَ کلُونو پورے دِ پرے ګذاره کیږی دِ جمع کړل،اوس دَ آرام ژوند تیروه،خوره څښه اَؤ
مزے کوه! ۲۰ خو خُدائے هغهٔ ته ووئیل،اَئے کم عقله! هم په دے شپه به دِ ساه وخیژی. تا چه خپل
دولت جمع کړو،دا به اوس دَ چا شی؟

۲۱ دا دَ هغه سړی مِثال دے چه دَ ځان دَ پاره دُنیا راټوله کړی خو دَ خُدائے په نزد غنی نهٔ دے.“

## اندیښنه اَؤ پریشانی
(متی ٦: ۲۵ - ۳٤، ٦: ۱۹ - ۲۱)
۲۲ هغهٔ خپلو مُریدانو ته ووئیل،”ځکه زَهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ ځان دَ پاره دا اندیښنه مه کوئ چه څهٔ به
خورُو یا څهٔ به آغوندُو. ۲۳ ځکه چه ژوندون دَ ډوډئ اَؤ وجُود دَ جامے نه غوره دے. ۲٤ مارغانو ته لږ پام
وکړئ چه نهٔ خو کری اَؤ نهٔ ریبی،نهٔ ئے کوټے شته،نهٔ خمبے،خو بیا ئے هم خُدائے ساتی! تاسو دَ مارغانو
نه ډیر زیات غوره یئ! ۲۵ په تاسو کښې داسے یو هم څوک شته چه تش په اندیښنو خپل عُمر لږ ساعت

زیاتولے شی؟ ٢٦ که چرے تاسو په ټولو کښے یو معمُولی کار هم نۀ شئے کولے نو بیا دَ نورو سودا ولے
آخستی یئ؟ ٢٧ سوسنو ته پام وکړئ،هغوئ نۀ خو خواری کوی اَوْ نۀ وریشی،خو بیا هم زۀ تاسو ته وایم
چه سلیمان سره دَ خپلے ټولے دبدبے دَ هغوئ په شان ښایسته جامه نۀ وه آغوستے. ٢٨ خو که خُدائے دَ
میدان واښو ته دا قِسم جامه ورکوی کُوم چه نن په پټو کښے راټوکیږی اَوْ صبا په تنُور کښے اچولے شی
،نو اَئے کم ایمانو،هغه به تاسو په څومره ښایسته لباس پټوی.

٢٩ اَئے کم ایمانو! نو ځکه تاسو دَ خوراک څښاک دَ پاره لټُون مه کوئ،تاسو دا فکر مه کوئ. ٣٠ ځکه
چه دَ دُنیا نور قومُونه دَ دے څیزونو لټُون کوی خو ستاسو داسے پلار دے چه هغه ستاسو دَ حاجتُونو نه
ښۀ خبر دے. ٣١ تاسو دَ هغۀ دَ بادشاهت لټُون کوئ نو دا څیزونه به هم ومُومئ.

٣٢ اَئے ورکوټے رمے! مه ویریږئ! ځکه چه ستاسو دَ پلار دا خوښه ده چه تاسو له بادشاهی درکړی. ٣٣
خپل هر څۀ خرڅ کړئ اَوْ خیرات ورکړئ اَوْ دَ ځان دَ پاره داسے بټوے تیارے کړئ چه هیڅکله نه
زړیږی اَوْ په آسمان کښے داسے خزانے چه نۀ تمامیږی،چرته چه غل ورنزدے کیدے نۀ شی اَوْ نۀ ئے
چینجی خوری. ٣٤ ځکه چه چرته چه ستاسو خزانه وی هلته به ستاسو زړۀ هم وی.

بیدار نوکران

٣٥ ملاګانے تړلے اَوْ ډیوے بلے، ٣٦ دَ هغو سړو په شان شئ څوک چه دَ خپل مالِک دَ وادۀ ډوډئ نه
بیرته دَ راتلو په اِنتظار وی دَ دے دَ پاره چه هغه څۀ وخت راشی،ور وټکوی نو چه ئے سمدستی ورته
بیرته کړی. ٣٧ هغه خادمان بختور دی چه مالِک ئے دَ راتلو په وخت بیدار څوکیدار ووینی! زۀ تاسو ته دا
وایم،هغه به خپله ملا وتړی،دوئ به خوراک ته کښینوی اَوْ هغه به راشی دَ دوئ خدمت به کوی. ٣٨ خو
که هغه نیمه شپه وی اَوْ که دَ سحر صبا کیدو وخت،هر کله چه هغه راشی اَوْ دغسے بیدار ئے ووینی نو
دوی بختور دی! ٣٩ اَوْ یاد لرئ که چرے دَ کور مالِک دَ دے نه خبر وئے چه غل به څۀ وخت راځی نو
هغه به هیڅکله هم دَئے په خپل کور کښے کنډر کولو ته پریښے نۀ وُو. ٤٠ بیا نو ځان تیار ساتئ ځکه
چه اِبن آدم به په داسے وخت کښے راځی چه ستاسو په ګمان کښے به هم نۀ وی.“

٤١ پطروس ووئیل چه”مالِکه! تۀ دا مِثال یواځے مُونږ ته وائے اَوْ که دا ټولو ته؟“ ٤٢ مالِک ورته ووئیل
چه”ښه،بیا هغه ایماندار اَوْ هوښیار سړے کُوم چه یو دے،چه مالِک ئے خپل ناظر مُقرر کړی چه دَ
خدمت ګارانو اِنتظام په لاس کښے واخلی اَوْ په مقرر وخت هغوئ ته دَ غلے برخه ورکوی؟ ٤٣ بختور
دے هغه نوکر چه دَ مالِک دَ راتلو په وخت په خپل کار آخته وی! ٤٤ زۀ تاسو ته دا وایم چه مالِک به
هغه دَ خپل ټول جائیداد مُختار کړی. ٤٥ خو که هغه نوکر دَ ځان سره دا ووائی چه بویه چه مالِک راځی
اَوْ دَ نوکرانو اَوْ وینځو په وهلو ټکولو لاس پورے کړی اَوْ خوری څښی اَوْ په نشه کښے وی، ٤٦ نو بیا به
ئے مالِک په داسے ورځ راشی چه دَ هغۀ په خیال کښے به هم نۀ وی اَوْ په داسے وخت کښے چه هغۀ
ته به نۀ وی معلُوم اَوْ هغۀ ته به سخته سزا ورکړی اَوْ دغه شان به هغه په بے ایمانانو کښے شمارلے شی.

٤٧ خو هغه نوکر چه دَ خپل مالِک په طبیعت پوهیږی خو بیا هم دَ هغۀ په مرضئ عمل ونۀ کړی،هغه به

بدے بدے کروړے وخوری. ۴۸ خو هغه په دے نۀ وُو خبر اَوْ دَ وهلو لایق کارُونه ئے وکړل هغه به هم
ووهلے شی خو دومره زیات نه. کُوم سړی ته چه زیات څۀ ورکړے شوی وی دَ هغۀ نه به زیات غوښتلے
کیږی اَوْ څومره زیات چه چاته څۀ سپارلی شوی وی،هومره زیات به دَ هغۀ نه غوښتلی شی.

## دَ عیسیٰ په وجه بیلتُون

**(متی ۱۰: ۳۴ - ۳۶)**

۴۹ زَۀ دے له راغلے یم چه په مزکه اور پورے کړم اَوْ زَۀ دا غواړم چه دا دَ مخکښے نه بل وی! ۵۰ زَۀ به
دَ یوے بپتسمے نه تیریږم اَوْ په ما تر هغے وخته څومره لوئے بوج دے تر څو چه زَۀ دَ دے نه تیر شوے نۀ
یم! ۵۱ ولے تاسو دا فرض کړی دی چه زَۀ په دے دُنیا اَمن خورولو له راغلے یم؟ نه،بے شکه زَۀ دلته
بیلتُون راوستو له راغلے یم. ۵۲ ځکه چه دَ دے نه پس به په یو کور کښے پنځۀ تنه بیل بیل شی،درے دَ
دوؤ خلاف اَوْ دوه دَ دریو خلاف، ۵۳ پلار دَ زوئے خلاف اَوْ زوئے دَ پلار،مور دَ لُور خلاف اَوْ لُور دَ
مور،خواښے دَ اِنږور خلاف اَوْ اِنږور به دَ خواښے خلاف وی.“

## وخت پیژندل

**(متی ۱۶: ۲ - ۳)**

۵۴ عیسیٰ خلقو ته دا هم ووئیل،”هر کله چه تاسو نمر پریواتۀ طرف ته وریځے په راپورته کیدو ووینئ نو
تاسو سمدستی وایئ چه باران راتلُونکے دے اَوْ باران کیږی. ۵۵ اَوْ هر کله چه باد دَ سهیل دَ طرفه وی نو
تاسو وایئ چه دَ ګرمئ چپه راتلُونکے ده اَوْ هم دغسے وشی. ۵۶ تاسو څومره مُنافقان یئ! تاسو دَ مزکے
اَوْ دَ آسمان دا ښکاره نخښے پیژنئ نو بیا تاسو څرنګه دَ هغے مُقرر کړے وخت نۀ پیژنئ؟

## دَ خپل مُدعی سره صُلح

**(متی ۵: ۲۵ - ۲۶)**

۵۷ اَوْ بیا تاسو په خپله دَ ځان دَ پاره سمے فیصلے ولے نۀ شئ کولے چه تاسو له څۀ کول پکار دی؟ ۵۸
هر کله چه تاسو دَ خپل مُدعی سره عدالت ته روان یئ نو دا کوشش کوئ چه په لاره لاره دَ هغۀ سره
صُلح وکړئ. ګنی هغه به تاسو مُنصف ته پیش کړی اَوْ مُنصف به تاسو سپاهی ته حواله کړی اَوْ سپاهی
به مو قید ته واچوی. ۵۹ زَۀ تاسو ته دا وایم چه تاسو به تر هغے خلاص نۀ شئ تر څو چه مو پیسه پیسه
پور پرے کړے نۀ وی.“

## لُوقا باب ۱۳

## توبه ګار کیدل یا هلاک کیدل

۱ هم په دغه وخت کښے څنے داسے کسان موجُود وُو چه هغه ئے دَ ګلیلیانو په باب کښے خبر کړو دَ
چا وینه چه پیلاطوس په قُربانو کښے ګډه کړے وه. ۲ عیسیٰ هغوئ ته جواب ورکړو،”ولے ستاسو دا
خیال دے چه په کُومو ګلیلیانو چه دا زیاتے وشو،هغوئ دَ نورو ګلیلیانو زیات ګُناه ګار وُو څۀ؟ ۳ زَۀ تاسو

ته وايم چه هغوئ نۀ وُو خو كه تاسو هم توبه ګار نۀ شئ نو ستاسو ټولو به دغه اَنجام وى! ٤ يا هغه اتلس
كسان چه په شيلوخ كښے پرے برج راوپرېدو اَؤ دوئ ترے لاندے مړۀ شول،ستاسو دا خيال دے چه
هغوئ په بيتُ المُقدس كښے دَ اوسيدُونكو ټولو خلقو نه زيات ګُناه ګار وُو؟ ٥ زۀ تاسو ته دا وايم چه
دوئ نۀ وُو خو كه تاسو توبه ګار نۀ شوئ نو ستاسو دَ ټولو به هم دغه اَنجام وى!“

## دَ بے ميوے اينځر دَ ونے مِثال

٦ عيسىٰ دا مِثال ووئيلو چه”دَ يو سړى دَ انګُورو په باغ كښے دَ اينځر يوه ونه ولاړه وه. هغه په دے
كښے ميوے لټولو له راغے خو هيڅ ئے په كښے ونۀ مُوندل. ٧ نو هغۀ باغوان ته ووئيل،ګوره،دَ تيرو دريو
كالو راسے زۀ په دے اينځر كښے دَ ميوے په طمع راځم خو هيڅ په كښے نۀ وى. پرے ئے كړه! دے
هسے مزكه ولے نيولے ده؟ ٨ خو هغۀ جواب وركړو،صاحبه! سږ كال ئے پريږده چه زۀ ورته څائے جوړ
كړم سره ورله وركړم. ٩ كه په راتلُونكى موسم كښے ئے ميوه ونيوله نو ښۀ په ښۀ،ګنى بيا ئے وباسه.“

## دَ سبت په ورځ دَ يوے ټيټے ښځے روغول

١٠ دَ سبت په يوه ورځ عيسىٰ په عبادت خانے كښے تعليم وركولو. ١١ نو يوه ښځه وه چه دَ اتلسو كالو
راسے پيريانو نيولى وه اَؤ بے حاله كړے ئے وه اَؤ ملا ئے ورله داسے كږه كړے وه چه نيغيدے نۀ شوه.
١٢ هر كله چه عيسىٰ هغه وليده نو را وئے بلله اَؤ ورته ئے ووئيل،”تۀ دَ خپل تكليف نه خلاصه شوے!“
١٣ اَؤ بيا ئے خپل لاسُونه په هغے كيښول،نو سمدستى هغه نيغه شوه اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے ووئيله.

١٤ خو دَ عبادت خانے مشر دَ سبت په ورځ دَ عيسىٰ دَ روغولو په عمل خفه شو اَؤ موجُودو خلقو ته ئے
ووئيل چه”دَ كار دَ پاره شپږ ورځے مُقرر وى. راځئ اَؤ په هغے كښے صحت مُومئ خو دَ سبت په ورځ
نه!“

١٥ مالِک هغۀ ته په جواب كښے ووئيل،”تاسو څۀ مُنافقان يئ! په تاسو كښے يو بندى كس هم داسے
شته څوک چه دَ سبت په ورځ خپل غوائى يا خر دَ اخور نه نۀ پرانزى اَؤ اوبو له ئے نۀ بيائى. ١٦ اَؤ دلته
دا ښځه دَ اِبراهيم لُور ده چه دَ اتلسو كالو راسے شيطان تړلے وه نو دَ هغے دَ پاره دا بده خبره وه چه دَ
سبت په ورځ دَ هغه قيد نه خلاصه كړے شى؟“ ١٧ دَ هغۀ په دے خبرو دَ هغۀ ټول مُخالفين لُولپه شول
اَؤ دَ خلقو هغه ګڼه دَ دۀ په دے كارُونو ډيره خوشحاله شوه.

## دَ شړشمو دَ تُخم اَؤ دَ خمبيرے مِثالُونه

**(متى ١٣: ٣١ - ٣٢،مرقوس ٤: ٣٠ - ٣٢،متى ١٣: ٣٣)**

١٨ عيسىٰ ووئيل چه”دَ خُدائے بادشاهى په څۀ شان ده؟ زۀ دَ دے تشبيه دَ څۀ سره وركړم؟ ١٩ دا دَ
شړشمو دَ تُخم په مِثال ده چه يو سړى واخستو اَؤ په خپل باغ كښے ئے وكرلو اَؤ چه بُوټے ئے راوټوكيدو
نو لكه دَ ونے په رنګ لوئے شو اَؤ مرغئ به راتلے اَؤ په څانګو كښے به ئے كښيناستے.“

٢٠ هغۀ بيا دا ووئيل،”دَ خُدائے دَ بادشاهئ مِثال زۀ دَ څۀ سره وركړم؟ ٢١ دا په مِثال دَ خمبيرے ده چه
يوے ښځے واخسته اَؤ په دريو اوړو اوړو كښے ئے واچوله اَؤ ټول ئے پرے خمبيره كړل.“

## تنګه دروازه

**(متى ۷: ۱۳ - ۱٤، ۲۱ - ۲۳)**

۲۲ عيسىٰ په کلو اَوْ ښاريو تيريدو اَوْ بيتُ المُقدس ته په لاره ئے خلقو ته ځائے په ځائے تعليم ورکوو. ۲۳
يو کس ترے تپوس وکړو،مالِکه! ولے صرف يو څو تنه به بچ کولے شى؟"

نو هغهٔ ورته په جواب کښے ووئيل، ۲٤ "زور ولګوئ چه له تنګے دروازے نه ور دَ ننه شئ ځکه چه زهٔ
درته دا وايم چه ډير به دَ ننوتو کوشِش کوى خو دَ دے جوګه به نهٔ وى. ۲۵ خو هر کله چه دَ کورمالِک
يو ځل پورته شو اَوْ دروازه ئے بند کړه نو که تاسو بهر ولاړ يئ اَوْ دروازه ټکوئ اَوْ دا وايئ چه مالِکه! مُونږ
دَ ننه پرېږده! خو هغه به تش دغه جواب درکړى چه زهٔ خبر نهٔ يم چه تاسو دَ کُوم ځائے يئ! ۲٦ نو بيا به
تاسو دا وايئ چه مُونږ تا سره خوړلى څښلى دى اَوْ زمُونږ په کُوڅو کښے دِ تعليم ورکړے دے! ۲۷ خو
هغه به دا سر دوباره وائى چه زهٔ تاسو ته دا وايم چه زهٔ خبر نهٔ يم چه تاسو دَ کُوم ځائے يئ. تاسو ټول
زما نه لرے شئ! تاسو ټول بد کاران يئ! ۲۸ هلته به بيا ژاړئ اَوْ غاښُونه به چيچئ ځکه چه تاسو به وينئ
چه اِبراهيم،اِسحاق اَوْ يعقُوب اَوْ نور ټول پيغمبران دَ خُدائے په بادشاهئ کښے دى خو تاسو بهر غورزولى
شوى يئ! ۲۹ خلق به دَ نمر خاتهٔ،نمر پريواتهٔ اَوْ قُطب اَوْ سهيل نه راځى چه دَ خُدائے دَ بادشاهئ په
دعوت کښے شريک شى. ۳۰ اَوْ ځنى هغه چه اوس خو وروستى دى،هغوئ به دَ ټولو نه وړُومبى وى اَوْ
هغه چه اوس مخکښے دى هغوئ به دَ ټولو دَ وروستو وى."

## دَ بيتُ المُقدس په باب کښے وير

**(متى ۲۳: ۳۷ - ۳۹)**

۳۱ په هم دغه وخت يو څو فريسيان راغلل اَوْ عيسىٰ ته ئے ووئيل چه"تهٔ دَ دے ځايه وُوزه اَوْ لاړ شه
ځکه چه هيروديس ستا دَ وژلو نيت کړے دے."

۳۲ خو هغهٔ جواب ورکړو،"لاړ شئ اَوْ هغه لُومبړے ته ووايئ چه واوره! نن صبا به زهٔ پيريان وباسم اَوْ دَ
روغولو کار به کوم اَوْ په دريمه ورځ به خپل کمال ته ورسم. ۳۳ بيا هم پکار دى چه زهٔ نن اَوْ صبا په
خپله لاره يُون وکړم اَوْ په بله ورځ هم،ځکه چه دَ نبى دَ پاره دا ناممکنه ده چه هغه دِ دَ بيتُ المُقدس نه
بغير په بل ځائے کښے مړ شى.

۳٤ اَئے بيتُ المُقدسه،بيتُ المُقدسه! هغه ښارئے چه نبيان وژنے اَوْ رسُولان سنګسارَوے چه تا ته راليږلے
کيږى! څومره ځله ما دا وغوښتل چه ستا بچى داسے راغونډ کړم څنګه چه يوه چرګه خپل چرګُوړى دَ
خپلو وزرو لاندے کوى، خو تا زهٔ دے ته پرے نهٔ ښودلم! ۳۵ وګوره! وګوره! ستا کور تا ته خوشے پاتے
کيږى اَوْ زهٔ تا ته دا وايم چه تهٔ به ما تر هغے ونهٔ وينے تر څو چه تهٔ دا ونهٔ وايئے چه «مُبارک دِ وى هغه
چه دَ خُدائے په نُوم راځى.»

## لُوقا باب ۱۴

## دَ جهوله مرض سړے روغول

۱ دَ سبت په ورځ عيسىٰ دَ يو مشر فريسى په کور کښې ډوډئ خوړلو له ورغے اَؤ هغوئ هغهٔ ته په غور
کتل. ۲ هلته دَ هغهٔ په وړاندے يو سړے وُو چه ورته جهوله مرض وُو. ۳ عيسىٰ دَ شرعے دَ عالمانو اَؤ
فريسيانو نه پوښتنه وکړه چه''دَ سبت په ورځ روغول روا دى اَؤ که نه؟''

٤ هغوئ هيڅ ونهٔ وئيل نو عيسىٰ هغه سړے بوتلو،روغ ئے کړو اَؤ رُخصت ئے کړو. ٥ بيا عيسىٰ هغوئ ته
مخ راواړولو اَؤ وئے وئيل،''که چرے په تاسو کښې دَ يو سړى خر وى يا ئے غوائى وى اَؤ هغه په کُوهى
کښې پريوزى،ولے هغه به ئے دَ سبت په ورځ سمدستى نهٔ راوباسى؟''

٦ نو دَ هغوئ سره دَ دے هيڅ جواب نهٔ وُو.

## دَ کوربه اَؤ ميلمنو دَ پاره نصحيت

۷ کله چه عيسىٰ دا وکتل چه ميلمنو څنګه دَ عزت ځايُونه لټول نو هغهٔ هغوئ ته دا مِثال تير کړو، ۸ ''که
چرے تاسو څوک دَ وادهٔ ډوډئ ته وغواړى نو دَ عزت په ځائے مه کښينئ. کيدے شى چه ستاسو نه
څوک زيات عزتمند رابللے شوے وى. ۹ نو کوربه به راشى اَؤ تاسو ته به ووائى چه دے سړى ته خپل
ځائے پريږده اَؤ بيا به تهٔ په هغه وخت ډير کچه شے کله چه تهٔ دَ ټولو نه وروستو کښينے. ۱۰ هر کله چه
تا ته بلنه درکړے شى نو لاړ شه اَؤ دَ ټولو نه وروستو کښينه ځکه چه کله چه کوربه راشى نو هغه به درته
ووائى،زما آشنا! وړاندے راشه. نو ستا ټول ملګرى ميلمانهٔ به ستا دَ هغه عزت تماشه وکړى،کُوم چه تا ته
در کړے شو. ۱۱ ځکه چه هر هغه څوک چه ځان اُوچتوى،هغه به غريب کړے شى اَؤ هر هغه څوک
چه ځان غريب کړى،هغه به اُوچت کړے شى.''

۱۲ بيا عيسىٰ خپل کوربه ته ووئيل،''هر کله چه تهٔ دَ غرمے يا ماښام دَ ډوډئ دَ پاره څوک راغواړے نو
خپلو دوستانو،ورُونو،عزيزانو اَؤ ماړو ګاونډيانو ته بلنه مه ورکوه ځکه چه هغوئ به هم بيا تا ته بلنه درکړى
اَؤ بدل به دِ خلاص کړى. ۱۳ خو هر کله چه تهٔ دعوت کوے نو غريبان،شل ګوډ اَؤ ړاندهٔ راوبله، ۱٤ اَؤ
دغه شان خوشحالى مُومه،ځکه چه دَ هغوئ سره دَ بدل دَ راګرزولو هيڅ ذريعه نِشته،خو دَ صادِقانو په
قيامت کښې به تهٔ خپل اَجر مُومے.''

## دَ لوئے ميلمستيا مِثال

**(متى ۲۲: ۱ - ۱۰)**

۱۵ په موجُودو خلقو کښې يو کس دَ دے په آوريدو عيسىٰ ته ووئيل،''بختور دى هغه څوک چه دَ خُدائے
په بادشاهئ کښې به په ميلمستيا کښې ګډُون وکړى!''

۱٦ عيسىٰ جواب ورکړو،''يو سړى دَ يوے لوئے ميلمستيا بندوبست کړے وُو اَؤ ګڼ خلق ئے رابللى وُو.
۱۷ دَ ډوډئ په وخت هغهٔ خپل نوکر په ميلمنو پسے واستولو اَؤ ورته ئے ووئيل،مهربانى وکړئ،هر څيز تيار
دے،راشئ! ۱۸ خو هغوئ هر يو څهٔ نه څهٔ بهانه وکړه. وړُومبى ووئيل،ما څهٔ لږه غوندے مزکه آخستے
ده،زَهٔ ځم چه هغه وګورم. نو مهربانى وکړه،ما به معاف کړے. ۱۹ دويم ووئيل،ما پنځهٔ قُلبے غوايان

آخستی دی،زۀ ځم چه هغوئ جوت کړم. نو مهربانی وکړه،ما معاف کړه. ۲۰ بل ووئیل،ما اوس اوس
وادۀ کړے دے،په دے وجه درتلے نۀ شم.

۲۱ کله چه نوکر بیرته راغے نو دا هر څۀ ئے مالِک ته ووئیل. دَ کور مالِک په غصه شو اَؤ هغۀ ته ئے
ووئیل چه زر دَ ښار کوڅو اَؤ بازارونو ته وُوزه اَؤ خواران،مسکینان،شل ګوډ اَؤ ړاندۀ راټول کړه اَؤ رائے
وله. ۲۲ نوکر ووئیل،صاحبه! ستا حُکم په ځائے کړے شو خو بیا هم ځائے شته. ۲۳ مالِک ورته جواب
ورکړو چه لاړ شه اَؤ لویو لارو کوڅُو ته وُوزه اَؤ خلق په منت سره راوله ځکه چه زۀ خپل کور ډک لیدل
غواړم. ۲۴ خو دا درته وایم چه هغه چه رابللی شوی وُو په هغو کښے به یو تن هم دا ډوډئ ونۀ څکی.“

## دَ عیسیٰ دَ مُریدئ قیمت

**(متی ۱۰: ۳۷ - ۳۸)**

۲۵ یو ځل چه یوه لویه ګڼه دَ عیسیٰ سره وه،هغۀ هغوئ ته مخ راواړولو اَؤ ورته ئے ووئیل، ۲۶ ”هغه څوک
چه ماله راځی اَؤ که هغه دَ خپل مور،پلار،ښځے،بچو،وروُڼو،خویندو اَؤ دَ خپل ځان سره کینه نۀ لری نو
هغه زما مُرید کیدے نۀ شی. ۲۷ اَؤ کُوم سړے چه خپله سولئ په خپله نۀ پورته کوی اَؤ په ما پسے نۀ
راځی،هغه زما مُرید کیدے نۀ شی.

۲۸ آیا په تاسو کښے داسے څوک شته چه هغه به یو بُرج ودانول غواړی اَؤ دَ خرڅ دا اندازه به دَ آګاهو نه
نۀ لګوی چه هغه ئے سر ته رسولے شی اَؤ که نه؟ ۲۹ ګنی که چرے هغۀ دَ دے بنیادُونه ایښی وی اَؤ بیا
ئے سر ته نۀ شی رسولے نو ټول لیدُونکی به ورپورے خندا ګانے کوی. ۳۰ هغوئ به وائی چه دۀ ته
ګورئ چه کار ئے شروع کړو اَؤ سر ته ئے ونۀ رسولو!

۳۱ یا کُوم بادشاه به داسے وی چه هغه به دَ بل بادشاه سره دَ جنګیدو نه وړاندے دا اندازه نۀ لګوی چه
دَ لسو زرو کسانو سره زۀ دَ هغه بادشاه مُقابله کولے شم څوک چه دَ شلو زرو کسانو سره په ما حمله
کوی؟ ۳۲ اَؤ که هغه نۀ شی کولے نو دَ حملے نه ډیر مخکښے به هغه خپل قاصد واستوی اَؤ دَ صُلح په
شرطُونو به فیصله وکړی. ۳۳ هم دغه شان په تاسو کښے یو کس هم تر هغے زما مُرید کیدے نه شی تر
څو چه هغۀ خپل هر څۀ پریښے نۀ وی.

## بے خونده مالګه

**(متی ۳: ۱۵،مرقوس ۹: ۵۰)**

۳۴ مالګه ښۀ څیز دے،خو که مالګه په خپله بے خونده شی نو بیا به دَ هغے خوند په څۀ راولی؟ ۳۵ بیا
دا نۀ په مزکه اَؤ نۀ په ډیران په کاریږی،دا بس دَ عبث غورزولو ده. که دَ چا غوږُونه دَ آؤریدو وی نو هغه
دِ واؤری!“

# لُوقا باب ۱۵

## دَ ورکے شوے ګډے مِثال

**(متی ١٨: ١٢ - ١٤)**

١ ټول محصُولچیان اَوُ نور بدکاره خلق راغونډ وُو چه دَ عیسیٰ خبرے واوری. ٢ خو فریسیانو اَوُ دَ شرعے
عالمانو په خپلو کښے ګوریدل شروع کړل اَوُ وئے وئیل،"دا سړے خو ګُناه ګارو ته هر کلے وائی اَوُ
ورسره خوراک هم کوی!" ٣ نو عیسیٰ ورته دا مِثال تیر کړو،

٤ که چرے په تاسو کښے دَ یو تن سره سل ګډے وی اَوُ یوه ترے ورکه شی نو ولے هغه به دغه نورے
یو کم سل صرف تر هغے په ورشو کښے خوشے پرے نهٔ ږدی تر څو چه ئے هغه یوه مُوندلے نهٔ وی؟ ٥
اَوُ په هغه وخت به هغه څومره خوشحاله وی اَوُ هغه به دا خپلو اوږو ته پورته کړی، ٦ اَوُ کور ته به لاړ
شی چه خپل دوستان اَوُ ګاونډیان راغونډ کړی اَوُ ورته په چغه ووائی،ماسره په خوشحالئ کښے شریک
شئ! ما خپله ورکه ګډه بیا مُونده! ٧ دغه شان زهٔ تاسو ته وایم چه په آسمان کښے دا رنګ دَ یو ګُناه ګار
په توبه ګار کیدو بے حسابه خوشحالی کیږی،په نسبت دَ هغه یو کم سلو صادِقانو چه دَ توبے حاجت نهٔ
لری.

## دَ ورکے شوے سِکے مِثال

٨ یا دا چه که دَ یوے ښځے سره لس دَ سپینو زرو سِکے وی اَوُ یوه ترے ورکه شی. آیا هغه ډیوه نهٔ
بلوی،کور نهٔ جارُو کوی اَوُ دَ کور ګُوټ ګُوټ تر هغے نهٔ لټوی تر څو چه ئے مُوندلے نهٔ وی؟ ٩ هر کله
چه ئے ومومی نو خپلے سهیلئ اَوُ ګاونډیانے راټولے کړی اَوُ ورته وائی چه زما سره خوشحالی وکړئ ځکه
چه ما خپله ورکه سِکه بیا مُونده! ١٠ هم په دغه جوړ زهٔ تاسو ته وایم چه دَ یو ګُناه ګار په توبه ګار کیدو
دَ خُدائے په فرښتو کښے هم دغه شان خوشحالی کیږی."

## دَ ورک شوی زوی مِثال

١١ عیسیٰ بیا ووئیل چه"دَ یو سړی دوه زامن وُو. ١٢ اَوُ کشر ئے خپل پلار ته ووئیل،پلاره! زما برخه
جائیداد ما ته راوسپاره. نو پلار خپل جائیداد په هغو وویشلو. ١٣ لږه موده پس هغه کشر زوی ئے خپل
ټول جائیداد خرڅ کړو،پیسے ئے پرے نغدے کړے اَوُ چرته لرے وطن ته لاړو اَوُ هلته ئے خپل مال په
بد چلنئ دُوره کړو، ١٤ اَوُ هر څهٔ ئے ضائع کړل. کله چه په هغه وطن سخت قحط راغے اَوُ هغهٔ ته ئے
هم تاؤ ور ورسیدو، ١٥ نو هغه لاړو اَوُ دَ هغه ملک دَ یو زمیندار سره نوکر شو اَوُ هغهٔ هغه پټی ته واستولو
چه خنزیران وڅروی. ١٦ دَ هغهٔ ډیر زړهٔ کیدو چه دَ هغه پلو نه ګیډه ډکه کړی کُوم چه به دے خنزیرانو
خوړل خو هیچا هم هغهٔ ته دا نهٔ ورکول. ١٧ بیا هغه په هوش کښے شو اَوُ وئے وئیل،زما دَ پلار څومره
نوکران دَ خپل ضرورت نه زیاته ډوډئ لری اَوُ زهٔ یم چه دلته دَ لوږے مرم! ١٨ زهٔ به لاړ شم خپل پلار ته
به ووایم چه پلاره! زهٔ هم دَ خُدائے اَوُ ستا په مخکښے ګُناه ګار یم. ١٩ نور زهٔ دَ دے قابل نهٔ یم چه تهٔ
ما ته خپل زوئے ووائے،ما تهٔ دَ خپلو نوکرانو په شان شماره. ٢٠ اَوُ په دے نیت هغه دَ خپل پلار کور ته
روان شو.

خو لا هغه ډیر لرے وُو چه دَ پلار نظر پرے پریوتو اَوُ زړهٔ ئے پرے وسوزیدلو. هغهٔ وردؤ کړو اَوُ ور تر غاړه

وتو اَؤ کښېنل ئے کړو. ۲۱ خو زوی ووئيل،پلاره! زۀ دَ خُدائے اَؤ ستا په مخکښې گُناه گار يم. پس دَ دے
زۀ ستا دَ زوی بللو لايق نۀ يم. ۲۲ خو پلار ئے خپلو نوکرانو ته ووئيل،زر شئ! زما غوره چُوغه راوړئ اَؤ
دۀ ته ئے ورواغوندئ اَؤ گوته ور پلاس کړئ اَؤ څپلئ ور پښو کړئ. ۲۳ يو څورب څخے راولئ اَؤ حلال
ئے کړئ اَؤ راځئ چه خوشحالی وکړُو! ۲۴ ځکه چه زما دا مړ زوئے بيا راژوندے شو،دَئے خو ورک
شوے وُو اَؤ بيا مُوندے شو. اَؤ دغه شان خوشحالی شروع شوه.

۲۵ مشر زوے ئے په دغه وخت کښې په پټی کښې وُو اَؤ چه واپس راتلو اَؤ کور ته رانزدے شو نو هغۀ دَ
ساز اَؤ گډا آواز واؤريدلو. ۲۶ هغۀ يو نوکر راوبللو اَؤ تپوس ئے ترے وکړو چه دا څۀ چل دے؟ ۲۷ نوکر
ورته ووئيل،ستا ورور کورته راغلے دے اَؤ ستا پلار څورب سخے حلال کړے دے ځکه چه هغه ئے روغ
رمټ بيا مُوندلے دے.

۲۸ خو مشر زوے غصه شو اَؤ کور ته دَ ننوتو نه ئے اِنکار وکړو. دَ هغۀ پلار بهر راغے اَؤ هغه ئے په خبره
پوهه کړو. ۲۹ خو هغۀ ورته په جواب کښې ووئيل،دا دومره کالُونه ما ستا څومره تابعداری کړے ده اَؤ
کله مے هم ستا دَ حُکم نه مخ نۀ دے اړولے اَؤ تا ما ته کله هم يو ورغُومے قدر نۀ دے راکړے چه ما
ړے خپلو دوستانو ته ميلمستيا کړے وَئے! ۳۰ خو چه اوس ستا دا زوئے راغے چه ستا مال ئے په ډمو
والوزوو نو تا هغۀ ته څورب سخے حلال کړو! ۳۱ پلار ئے ووئيل،زما زويه! تۀ خو مُدام ما سره يئے اَؤ څۀ
چه زما دی هغه ټول ستا دی. ۳۲ نو په دے ښۀ ورځ به مُونږ خوشحالی ولے نۀ کوُو؟ ستا دا ورور مړ وُو
اَؤ بيا راژوندے شو،دَئے ورک وُو اَؤ بيا ومُوندے شو.“

## لُوقا باب ۱۶

## دَ بد ديانته ناظر مِثال

۱ عيسیٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل چه”يو دولتمند سړی ته دَ هغۀ دَ ناظر په سر چا شکايت وکړو چه هغه
ستا مال بربادوی. ۲ نو هغۀ هغه راوبللو اَؤ ورته ئے ووئيل،دا ستا په حقله زۀ څۀ خبرے آؤرم؟ خپل
حساب کتاب راوړه ځکه چه دَ دے نه پس به تۀ زما ناظر نۀ يئے. ۳ ناظر دَ ځان سره ووئيل،زما دا
نائيک چه مے دَ نوکرئ نه وباسی نو اوس به زۀ څۀ کوم؟ زۀ خو دومره تکړه نۀ يم چه خاورے وکنم اَؤ
نۀ خير غوښتے شم ځکه چه شرميږم. ٤ اوس پوهه شوم چه ما ته څۀ کول په کار دی! کله چه مے دَئے
دَ نوکرئ نه لرے کړی نو داسے څوک به وی چه ما په کور کښې وساتی. ٥ هغۀ دَ خپل مالِک
قرضداری ځان ځان له راوبلل اَؤ وړُومبی ته ئے ووئيل چه زما دَ مالِک په تا څومره قرض دے؟ ٦ هغۀ
جواب ورکړو،دَ ښوئۀ سل اوړی تيل. هغۀ ورته ووئيل چه دا ستا کهاته ده،کښېنه اَؤ زر ئے پنځوس وليکه.
۷ بيا ئے بل ته ووئيل،اَؤ په تا څومره پور پاتے دے؟ هغۀ ورته ووئيل،سل بوجئ غنم. هغۀ ورته ووئيل،خپله
کهاته واخله اويا بوجئ وليکه.

۸ اَؤ مالک دَ خپل بد ديانته ناظر دَ دے هوښيارتيا ستائنه وکړه ځکه چه دَ دے دُنيا خلق دَ رڼا له زامنو نه
دَ خپلے پيړئ دَ پاره زيات هوښيار دی.

۹ نو ځکه زۀ تاسو ته وایم چه دَ دُنیا ناجائز دولت دَ دوستانو جوړولو دَ پاره ولګوئ ځکه چه هر کله چه
دولت ستاسو سره نۀ وی نو تاسو به دَ تل په کوټو کښې قبُول کړے شئ. ۱۰ کُوم سړے چه په وړو وړو
څیزُونو کښې دیانتدار وی، هغه به په لویو لویو څیزُونو کښې هم دیانتدار وی اَؤ کُوم سړے چه په وړو وړو
څیزُونو کښې بد دیانته وی، هغه به په لویو لویو څیزُونو کښې هم بد دیانته وی. ۱۱ نو که چرے تاسو
ځان دَ دے دُنیا په دولت کښې دیانتداره ثابت نۀ کړو نو په حقیقی دولت کښې به په تاسو باندے
څوک اِتبار وکړی؟ ۱۲ اَؤ که چرے تاسو په پردی څیز کښې ځان بد دیانته ثابت کړے وی نو بیا به
داسے څوک وی چه تاسو له به ستاسو څیز درکړی؟

۱۳ یو نوکر هم دَ دوؤ مالِکانو خِدمت نۀ شی کولے ځکه چه یا به هغه دَ وړُومبی نه کرکه کوی اَؤ دویم
سره به مینه لری اَؤ یا به دَ وړُومبی وفادار وی اَؤ دویم به په څۀ کښې نۀ شماری. تۀ په یو ځائے دَ خُدائے
اَؤ دولت سره مینه نۀ شے کولے."

## شریعت اَؤ دَ خُدائے بادشاهت

**(متی ۱۱: ۱۲ - ۱۳، ۵: ۳۱ - ۳۲،مرقوس ۱۰: ۱۱ - ۱۲)**

۱٤ اَؤ فریسیان څوک چه په مال مین وُو هغوئ چه دا خبرے واؤریدے نو په عیسیٰ پورے ئے خندا
وکړه. ۱۵ عیسیٰ ورته ووئیل،"هم تاسو خلق خپل اولس په دے غُلوئ چه ګنی تاسو صادِقان یئ خو
خُدائے ستاسو زړُونه ښۀ پیژنی. ځکه چه کُوم څیزُونه چه دَ خلقو په نظر کښې دَ ستائینے وی،هغه دَ
خُدائے په نظر کښې لعنت وی.

۱٦ دَ یحییٰ تر وخته شریعت اَؤ نبیان راتلل. دَ هغوئ نه پس دَ خُدائے دَ بادشاهئ دَ زیری وعظ آورولے شو
اَؤ هر سړے په هغے کښې په زوره داخلیدل غواړی. ۱۷ دَ مزکے اَؤ آسمان ختمیدل آسان دی خو دا
خبره آسانه نۀ ده چه دَ شریعت یوه نقطه هم ورانه شی.

۱۸ کُوم سړے چه خپله ښځه طلاقه کړی اَؤ دَ بلے سره وادۀ وکړی نو هغه زِنا کوی اَؤ هغه سړے چه
څوک دَ طلاقے شوے ښځے سره وادۀ وکړی نو هغه هم زِنا کار دے.

## مالدار سړے اَؤ لعزر

۱۹ یو مالدار سړے وُو چه ریښمینے جامے ئے آغوستے وے اَؤ هره ورځ به ئے ډیر په شان شوکت
دغوتُونه کول. ۲۰ اَؤ یو عاجز سړے چه لعزر نُوم ئے وُو اَؤ په وجُود ئے ډیرے دانے راختلے وے،دَ هغۀ
په دروازه کښې پروت وُو. ۲۱ اَؤ ډیر په خوشحالئ به ئے هغه ټکړے خوړے کُومے چه به دَ دے مالدار
سړی نه پاتے شوے وے،بلکه سپی به هم راتلل اَؤ دَ هغۀ زخمُونه به ئے څټل. ۲۲ آخر یوه ورځ هغه
عاجز سړے مړ شو اَؤ فرښتو یوړو اَؤ دَ ابراهیم په جولئ کښې ئے کینبودو. هغه مالدار سړے هم مړ شو اَؤ
ښخ کړے شو، ۲۳ اَؤ په عالم ارواح کښې په عذاب کښې ګیر شو. هغۀ چه پورته وکتل نو لرے ئے لعزر
دَ اِبراهیم سره ولیدو. ۲٤ هغۀ چغے کړے،اَئے ابراهیمه! زما پلاره! په ما رحم وکړه! دا لعزر راواستوه چه
خپل دَ ګوتے سر په اوبو کښې لُوند کړی چه زما ژبه یخه شی ځکه چه زۀ په دے اور کښې ډیر په

عذاب کښې يم! ۲۵ خو اِبراهيم ورته ووئيل چه واوره زويه! په دُنيا کښې ټول نعمتُونه ستا په نصيب وُو اَؤ
ټولې بد بختئ دَ لعزر په برخه وې. اوس هغه دلته په آرام دے اَؤ تهٔ په عذاب کښې يئې. ۲۶ خو بله
خبره دا ده چه زمُونږ اَؤ ستا تر مينځه يوه لويه کنده ده چه دَ هغې نه نهٔ څوک درپورې وتے شی اَؤ نهٔ
ترې څوک دے خوا راپورې وتے شی. ۲۷ مالدار سړی جواب ورکړو چه بيا نو پلاره! تهٔ به دَئې زما دَ
پلار کره واستوې ۲۸ چرته چه زما پنځهٔ ورونړه دی چه هغوئ خبردار کړی،هسې نهٔ چه هغوئ هم دَ
عذاب ځائې ته راشی. ۲۹ خو اِبراهيم ورته ووئيل چه دَ هغوئ سره مُوسىٰ اَؤ نور نبيان شته،په کار دی چه
دَ هغوئ واؤری. ۳۰ خو هغهٔ جواب ورکړو چه نه،اِبراهيمه پلاره! که دَ مړو نه څوک هغوئ ته لاړ شی نو
هغوئ به هله توبه گار شی. ۳۱ اِبراهيم جواب ورکړو،که چرې هغوئ دَ مُوسىٰ اَؤ نورو نبيانو خبرے ته
غوږ نهٔ ږدی نو که څوک دَ قبر نه ورپاځی هم نو هغوئ به ئې هيڅ پرواه ونهٔ کړی."

## لُوقا باب ۱۷

## دَ عيسىٰ مسيح يو څو خبرے

**(متی ۱۸: ۶ - ۷، ۲۱ - ۲۲، مرقوس ۹: ۴۲)**

۱ عيسىٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل،"تيندکُونه به خامخا راځی خو چه دَ چا دَ لاسه دا راځی،دَ هغهٔ په حال
اَفسوس دے! ۲ دَ هغهٔ دَ پاره به دا ښهٔ وی چه دَ هغهٔ په غاړه کښې دَ ژرندے پل واچولے شی اَؤ په
درياب کښې وغورزولے شی،په ځائې دَ دے چه په دے وړو کښې يو له تيندک ورکړی. ۳ خپل ځان
ساتئ!

که چرې ستاسو ورور څهٔ گُناه وکړی نو وئې رټئ اَؤ که هغه پښيمانه شی نو وئې بخښئ. ۴ اَؤ که چرې
هغه په ورځ کښې اُووهٔ ځله ستا خلاف گُناه وکړی اَؤ بيا اُووهٔ ځله درته راشی اَؤ داسې ووائی چه زهٔ توبه
کوم نو ته ئې معاف کړه."

۵ مُريدانو مالِک ته ووئيل چه"زمُونږ ايمان زيات کړه!"

۶ اَؤ مالِک ورته جواب ورکړو،"که چرې ستاسو ايمان دَ شړشمو دَ دانې هومره وی نو که تاسو دَ تُوت
دے ونې ته ووايئ چه دَ بيخه وُوزه اَؤ په سمندر کښې نهاله شه! نو دا به سمدستی ستاسو حُکم ومنی.

۷ فرض کړئ چه دَ چا يو نوکر وی چه يوی کوی يا گډې سمبالوی. اَؤ هر کله چه هغه دَ پټی نه بيرته
راځی نو ولې دَئې به ورته دا وائی چه دے خوا راشه اَؤ خوراک ته کښينه؟ ۸ ولې هغه به ورته دا نهٔ وائی
چه زما ډوډئ تياره کړه،ملا ترلې ودريږه اَؤ زما دَ ډوډئ خوړو پورې زما خدمت کوه اَؤ چه زهٔ ډوډئ
وخورم نو پس له هغې به تهٔ هم وخورې؟ ۹ ولې هغه په دے وجه دَ نوکر شُکر گُزار وی چه دَ دهٔ دَ
حُکم تعميل ئې کړے دے څهٔ؟ ۱۰ دغه حال ستاسو هم دے. هر کله چه تاسو خپل ټول کارُونه چه
حُکم ئې درته شوے دے،پُوره کړئ نو ايله ووايئ چه مُونږ دَ شاباش لائق نهٔ يُو ځکه چه مُونږ خو تش
خپل فرض پُوره کړے دے."

## دَ لسو جُزامیانو روغول

۱۱ کله چه عیسیٰ بیتُ المُقدس ته روان وُو نو هغه دَ سامریه اَؤ دَ ګلیل په حد راتیریدو. ۱۲ کله چه هغه
یو کلی ته ور دَ ننه کیدو نو لس کسان جُزامیان ئے ولیدل. هغوئ په څۀ فاصله ودریدل، ۱۳ اَؤ عیسیٰ ته
ئے نعرے کړے،"اَئے مالِکه! په مُونږ رحم وکړه." ۱۴ هر کله چه هغۀ هغوئ ولیدل نو وئے وئیل،"لاړ
شئ اَؤ خپل ځان کاهنانو ته وښایئ".

اَؤ کله چه هغوئ په خپله لاره روان وُو نو هغوئ پاک کړے شول. ۱۵ په هغوئ کښے یو تن خپل ځان
روغ ولیدو نو راستُون شو اَؤ په چغو چغو ئے دَ خُدائے ثنا ووئیله. ۱۶ هغه دَ عیسیٰ په پښو کښے پریوتو اَؤ
دَ هغۀ شکریه ئے ادا کړه. اَؤ هغه یو سامری وُو. ۱۷ په دے سره عیسیٰ ووئیل چه"ولے لس واړه پاک نۀ
کړے شول؟ نو هغه نور نهه څۀ شول؟ ۱۸ بے له دے یو مُسافر نه بل یو هم داسے نۀ وُو چه هغه راغلے
وے اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے وئیلے وے؟" ۱۹ اَؤ عیسیٰ هغه سړی ته ووئیل،"پاڅۀ اَؤ لاړ شه،خپل ایمان تۀ
جوړ کړے."

## بادشاهت راتلل

**(متی ۲٤: ۲۳ - ۲۸، ۳۷ - ٤۱)**

۲۰ فریسیانو دَ عیسیٰ نه تپوس وکړو چه"دَ خُدائے بادشاهی به کله راځی؟"هغۀ ووئیل چه"تاسو په لیدلو دا
نۀ شئ وئیلے چه دَ خُدائے بادشاهی به کله راځی. ۲۱ داسے هم نۀ شئے وئیلے چه ګورئ دلته ده! یا
هلته ده! ولے چه ګورئ،دَ خُدائے بادشاهی ستاسو په مینځ کښے ده."

۲۲ عیسیٰ مُریدانو ته ووئیل چه"وخت به راشی چه تاسو به دَ اِبنِ آدم دَ ورځو نه دَ یوے ورځے دَ لیدو
شوق لرئ خو تاسو به ئے لیدے نۀ شئ. ۲۳ هغوئ به تاسو ته وائی چه وګورئ هغه هلته دے! وګورئ
دلته دے! خو هلته لاړ نۀ شئ اَؤ مه په هغوئ پسے منډے وهئ. ۲٤ لکه دَ آسمان بریښنا چه دَ مزکے دَ
یو سر نه تر بله سره رسی،دغه شان به اِبنِ آدم په خپله ورځ وی.۲۵ خو اول به هغه خامخا ډیر مصیبت
وزغمی اَؤ دا پیړئ به ئے رد کوی ۲٦ اَؤ لکه چه دَ نوح په زمانه کښے څنګه شوی وُو،هم هغه شان به دَ
اِبنِ آدم په ورځو کښے وشی. ۲۷ هغوئ تر هغے ورځے پورے خوړل څښل اَؤ وادُونه ئے کول تر څو چه
نُوح په خپله کِشتئ کښے ونۀ ختلو اَؤ طوفان رانۀ غے اَؤ دوئ ئے ټول غرق نۀ کړل. ۲۸ اَؤ لکه چه دَ
لُوط په زمانه کښے شوی وُو هغوئ هم خوړل څښل اَؤ سوداګری ئے کوله اَؤ بُوټی ئے کرل اَؤ ودانئ ئے
کولے. ۲۹ خو په کُومه ورځ چه لُوط دَ صدُوم نه ووتو نو دَ آسمان نه اور اَؤ ګُوګړ وریدل شروع شول اَؤ
دوئ ئے ټول هلاک کړل. ۳۰ هم دغسے به دَ اِبنِ آدم دَ ظهُور په ورځ وشی.

۳۱ په هغه ورځ هر څوک چه دَ کوټے دَ پاسه وی اَؤ سامان ئے ښکته وی نو هغه دِ دَ سامان اُوچتولو دَ
پاره هیڅ کله هم ښکته رانۀ شی اَؤ هغه څوک هم چه په پټی کښے وی هغه دِ بیرته کور ته لاړ نۀ شی.
۳۲ دَ لُوط ښځه رایاده کړئ! ۳۳ هر څوک چه خپل ځان ساتی،هغه به ځان بائیلی اَؤ هر څوک چه ځان
بائیلی،هغه به ځان بیا وساتی. ۳٤ زۀ تاسو ته وایم چه په هغه شپه به په یو کټ کښے دوه سړی وی،یو به
واخستلے شی اَؤ بل به پریښودلے شی. ۳۵ اَؤ دوه ښځے به په یو ځائے مینځن کوی،یوه به واخستلے شی

اَؤ بله به پريښودلے شى. ٣٦ دوه سړى به په پټى کښې وى،يو به واخستلے شى اَؤ بل به پريښودلے شى.“

٣٧ هغوئ چه دا واؤريدل نو تپوس ئے وکړو،”کُوم خوا مالِکه؟“

عيسىٰ ورته ووئيل،”چرته چه مُرداره وى هلته به ګنجئ راټوليږى.“

# لُوقا باب ١٨

## دَ يوے کُنډے اَؤ دَ يو قاضى مِثال

١ عيسىٰ هغوئ ته يو مِثال ووئيلو،اَؤ ورته ئے دا وښودل چه هغوئ دِ تل دُعا غواړى اَؤ زړهٔ دِ نه بائيلى. ٢
وئے وئيل چه”په يو ښار کښې يو مُنصف وُو چه نهٔ ورسره دَ خُدائے ويره وه اَؤ نهٔ دَ بنده پرواه دار وُو. ٣
اَؤ هم په دغه ښار کښې يوه کُنډه وه چه هغه به بيا بيا هغهٔ ته راتله اَؤ ورته به ئے وئيل چه زما دَ مُخالفينو
اَؤ زما تر مينځه اِنصاف وکړه! ٤ ډيره مُوده به هغهٔ اِنکار کوُو خو آخر ئے په زړهٔ کښې ووئيل،حقه خو دا
ده چه زهٔ نهٔ خو دَ خُدائے نه ويريږم اَؤ نهٔ دَ بنده پرواه دار يم، ٥ خو دا کُنډه زما دَ پاره داسے بلا جوړه
شوے ده اَؤ زهٔ به دَ دے حق دے له ورکړم،داسے نهٔ چه په آخر کښې ما تر پوزو راولى.“

٦ بيا مالِک عيسىٰ ووئيل،”تاسو واؤريدل چه دے بے اِنصافه مُنصف څهٔ ووئيل. ٧ نو ولے خُدائے دَ خپلو
غوره شوو بدل وانهٔ خلى څوک چه ورته شپه اَؤ ورځ په زارئ وى اَؤ هغه ئے ډير په صبر آؤرى؟ ٨ زهٔ
تاسو ته وايم،هغه به ډير زر دَ هغوئ نه بدل واخلى. خو هر کله چه اِبن آدم راځى،نو ولے هغه به په مزکه
ايمان مُومى څهٔ؟“

## دَ فريسى اَؤ يو محصُولچى مِثال

٩ عيسىٰ هغه خلقو ته چه په خپل ځان ئے توکل کاوو چه مُونږ صادِقان يو اَؤ نور ئے سپک ګڼل،دا مِثال
ووئيلو، ١٠ ”دوه سړى دَ دُعا دَ پاره دَ خُدائے کور ته لاړل،يو فريسى وُو اَؤ بل محصُولچى. ١١ فريسى
ودريدلو داسے دُعا ئے وکړه،اَئے خُدايه! ستا شُکر دے چه زهٔ دَ نورو خلقو په شان نهٔ خو حِرصناک،نهٔ
بد ديانته،نهٔ زِناکار اَؤ نهٔ لکه دَ دے محصُولچى په شان يم. ١٢ زهٔ په هفته کښې دوه ځله روژے نيسم اَؤ
څهٔ چه ګټم دَ هغے نه لسمه ورکوم. ١٣ خو محصُولچى لرے ولاړ وُو اَؤ پاس آسمان ته ئے ونهٔ کتل خو
خپله سينه ئے وهله اَؤ وئيل ئے،”اَئے خُدايه! په ما رحم وکړه! زهٔ ډير ګُناه ګار يم! ١٤ زهٔ تاسو ته وايم چه
هم هغه سړے دَ هغه وړُومبى نه زيات صادِق شوے کور ته بيرته لاړو،ځکه هر څوک چه ځان اُوچتوى
،هغه به غريب کړے شى اَؤ څوک چه ځان غريبوى،هغه به اُوچت کړے شى.“

## ماشُومانو له برکت ورکول

**(متى ١٩: ١٣ - ١٥،مرقوس ١٠: ١٣ - ١٦)**

١٥ هغوئ عيسىٰ ته خپل ماشُومان راوستل چه هغه پرے لاس کيږدى. کله چه مُريدانو دوئ وليدل نو وئے
رټل. ١٦ خو عيسىٰ هغه ماشُومان راوبلل اَؤ وئے وئيل،”ماشُومان ما ته راپريږدئ،دوئ مه منع کوئ ځکه

چه دَ خُدائے بادشاهی دَ دغسے خلقو ده. ١٧ تاسو ته رښتيا وايم،هر څوک چه دَ خُدائے بادشاهی لکه دَ
ماشُوم قبُوله نۀ کړی،هغوئ به هيڅکله په دے کښے داخل نۀ شی.“

## مالدار حاکِم

**(متی ١٩: ١٦ - ٣٠،مرقوس ١٠: ١٧ - ٣١)**

١٨ دَ حاکِمانو نه يو حاکِم عيسیٰ نه دا تپوس وکړو،”نيکَه اُستاذه! دَ تل ژوندون گټلو دَ پاره ما ته څۀ
کول په کار دی؟“

١٩ عيسیٰ هغۀ ته ووئيل،”تۀ ما ته نيک ولے وائے؟ دَ يو خُدائے نه بغير بل هيڅوک نيک نِشته. ٢٠ تا ته
حُکمُونه معلُوم دی،«زِنا مه کوه،قتل مه کوه،غلا مه کوه،دَ دروغو شاهدی مه کوه اَؤ دَ خپل مور پلار
عزت کوه.»

٢١ سړی جواب ورکړو چه”ما دَ هلکوالی نه په دے هر څۀ عمل کړے دے.“

٢٢ دَ دے په آؤريدو عيسیٰ ورته ووئيل چه”په تا کښے اوس هم دَ يو څيز کمے لا شته. هر څۀ چه درسره
دی،هغه خرڅ کړه اَؤ په خوارانو ئے ووېشه،اَؤ تۀ به په آسمان کښے خزانه ومُومے. بيا راشه اَؤ په ما پسے
شه.“ ٢٣ په دے خبرو دَ هغۀ زړۀ په ډوبيدو شو ځکه چه هغه ډير مالدار سړے وُو.

٢٤ عيسیٰ چه دا وليدل نو وئے وئيل،”دَ دولت مند سړی دَ پاره دَ خُدائے په بادشاهئ کښے داخليدل
څومره گران کار دے! ٢٥ دَ يو اُوښ دَ پاره دَ ستنے په سُوم کښے ننوتل په نسبت دَ يو مالدار سړی دَ
خُدائے په بادشاهئ کښے داخليدل آسان دی.“

٢٦ چا چه دا واؤريدل نو تپوس ئے وکړو،”نو بيا به څوک خلاصُون مُومی؟“

٢٧ عيسیٰ جواب ورکړو،”څۀ چه دَ بنی آدم دَ پاره نامُمکن وی هغه خُدائے ته مُمکن وی.“

٢٨ پطروس ووئيل،”مُونږ خپل هر څۀ دَ دے دَ پاره پريښی دی‌چه ستا مُريدان شُو.“

٢٩ عيسیٰ ووئيل،”زۀ تاسو ته رښتيا وايم چه هيڅوک داسے نِشته چا چه دَ خُدائے دَ بادشاهئ دَ پاره خپل
کور،خپله ښځه،خپل ورُونه،خپل مور پلار اَؤ خپل بچی پريښی دی ٣٠ چه هغه به په دے دُنيا کښے په
څو چنده ومُومی اَؤ په بل جهان کښے به دَ تل ژوندُون بيا مُومی.“

## دريم ځل دَ عيسیٰ دَ مرگ اَؤ دَ بيا ژوندی کيدلو پيشن گوئی

**(متی ٢٠: ١٧ - ١٩،مرقوس ١٠: ٣٢ - ٣٤)**

٣١ عيسیٰ دولس مُريدان يوے ډډے ته کړل اَؤ ورته ئے ووئيل،”مُونږ اوس بيتُ المُقدس ته ځُو اَؤ دَ اِبن
آدم په حق کښے هر څۀ چه دَ نبيانو په وسيله ليکلی شوی دی،هغه به پُوره کيږی. ٣٢ هغه به غير قومُونو
ته حواله کړے شی،هغوئ به په هغۀ پورے ټوقے وکړی اَؤ بد سلُوکی به ورسره وکړی اَؤ لاړے به پرے

وتُوکی. ٣٣ هغوئ به ئے په بيتُونو ووهی اَؤ مړ به ئے کړی اَؤ په دريمه ورځ به هغه بيا ژوندے راپاڅی.“

٣٤ خو هغوئ په دے هيڅ ونۀ رسيدل اَؤ څۀ چه وئيلے شوی وُو،معنی ئے دَ هغو نه پټے وے ځکه چه
هغوئ ئے مطلب ته نۀ رسيدل.

## په يريحو کښے دَ يو ړُوند سړی بينا کول

**(متی ٢٠: ٢٩ - ٣٤،مرقوس ١٠: ٤٦ - ٥٢)**

٣٥ کله چه عيسیٰ يريحو ته نزدے شو نو يو ړُوند دَ لارے په غاړه ناست وُو اَؤ خير ئے غوښتو. ٣٦ هغۀ
چه دَ ګڼو خلقو دَ تيريدو ښکالو واؤريده نو تپوس ئے وکړو چه”دا څۀ چل دے؟“

٣٧ هغوئ خبر کړو چه”عيسیٰ ناصری په دے لار تيريږی.“

٣٨ نو هغۀ چغے کړے،”اَئے عيسیٰ دَ داؤد زويه! په ما رحم وکړه!“

٣٩ مخکښے چه کُوم خلق روان وُو،هغوئ ورته ووئيل چه”چُپ شه.“خو هغۀ لا نورے هم چغے ايستلے
چه”اَئے دَ داؤد زويه! په ما رحم وکړه!“

٤٠ عيسیٰ ودريدو اَؤ سړو له ئے حُکم ورکړو چه”دے ماته راولئ.“ کله چه هغه راغے نو تپوس ئے ترے
وکړو، ٤١ ”تۀ څۀ غواړے چه زۀ ستا دَ پاره څۀ وکړم؟“

هغۀ ووئيل،”مالِکه! چه زۀ بيا بينا شم.“

٤٢ عيسیٰ هغۀ ته ووئيل چه”بينا شه! تۀ خپل ايمان بچ کړلے.“

٤٣ سمدستی دَ هغۀ سترګے وغړيدے اَؤ هغه په عيسیٰ پسے روان شو اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے ئے وئيله. اَؤ ټولو
خلقو چه دا ننداره وليده نو دَ خُدائے ثنا ئے ووئيله.

# لُوقا باب ١٩

## عيسیٰ اَؤ زکائی

١ عيسیٰ يريحو ته ننوتو اَؤ دَ ښار په مينځ کښے تيريدو. ٢ هلته زکائی نُومے يو سړے وُو. دَئے دَ
محصُولچيانو سردار اَؤ ښۀ مالدار وُو. ٣ دَ هغۀ دا تلوسه وه چه عيسیٰ به څنګه سړے وی،خو په قد
مَندرے وُو اَؤ دَ ګڼو خلقو له وجے ئے ليدلے نۀ شو. ٤ نو هغۀ دؤ کړو اَؤ دَ اينځر يوے ونے ته وختلو چه
هغه ووينی،ځکه چه هغه هم په دغه طرف روان وُو. ٥ اَؤ چه عيسیٰ هغه ځائے ته راورسيدو اَؤ پورته ئے
وکتل نو وئے وئيل چه”اَئے زکايه! زر راکُوز شه! زۀ نن خامخا ستا په کور کښے پاتے کيږم.“

٦ هغه زر راکُوز شو اَؤ ډير په مينه ئے ورته هر کلے ووے. ٧ هغوئ چه دا وليدل نو ټول وګُوريدل اَؤ وئے

وئیل،"هغه دَ یو گُناه گار سړی کره ورغے چه دَ هغهٔ میلمه شی."

۸ خو زکائی ودریدلو اَؤ مالِک ته ئے ووئیل،"مالِکه! هم په دے ځائے زَهٔ خپل نیم مال خوارانو له ورکوم
اَؤ که ما له چا نه په دوکه باندے څهٔ اخستی وی نو هغهٔ ته ئے هم یو په څلور ورکوم."

۹ عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل چه"هم نن دے کور ته خلاصُون راغلے دے ځکه چه دے هم دَ اِبراهیم زوئے
دے. ۱۰ اَؤ اِبنِ آدم دے له راغلے دے چه ورک شوی ولټوی اَؤ بچ ئے کړی."

## دَ لسو سِکو مِثال

**(متی ۲۵: ۱۴ - ۳۰)**

۱۱ دَ هغو لا دے ته غوږ وُو چه عیسیٰ ورته یو مِثال ووے ځکه چه هغه اوس بیتُ المُقدس ته رانزدے وُو
اَؤ دَ هغوئ دا گمان وُو چه دَ خُدائے بادشاهی اوس په ښکاره کیدو ده. ۱۲ هغهٔ ووئیل،"دَ یوے لوئے
کورنئ یو سړے په اُوږد سفر یو بل ملک ته لاړو دَ دے دَ پاره چه هغه بادشاهت حاصل کړی اَؤ بیا بیرته
راشی. ۱۳ خو اول هغهٔ خپل لس نوکران راوبلل اَؤ هر یو ته ئے په دے وینا دَ سرو زرو یوه سِکه ورکړله
چه دوئ سوداگری کوی تر څو چه زَهٔ رانهٔ شم. ۱۴ خو دَ هغه وطن خلقو ورسره کینه کوله اَؤ په هغهٔ
پسے ئے یوه جرگه سمدستی په دے وینا واستوله چه مُونږ دا سړے خپل بادشاه کیدل نهٔ غواړو.

۱۵ خو بیا هم دَ بادشاه په حیثیت بیرته راغے اَؤ کُومو نوکرانو ته چه ئے پیسے ورکړے وے هغوئ ته ئے
سوال جواب ولیږو چه دا معلُومه کړی چه په دوئ کښے هر یو څومره گټه کړے ده. ۱۶ وړُومبے راغے اَؤ
وئے وئیل، صاحبه! ستا دَ سرو زرو سِکے لس نورے گټلے دی. ۱۷ هغهٔ جواب ورکړو،شاباش! تهٔ ډیر ښهٔ
نوکر یئے! تا په ډیر واړهٔ څیز کښے خپل ځان دیانتدار ثابت کړو،تهٔ دَ لسو ښارُونو حاکِم شه. ۱۸ بیا دویم
راغے اَؤ وئے وئیل، چه ستا دَ سرو زرو سِکو پنځهٔ نورے گټلی دی. ۱۹ اَؤ هغهٔ ته ئے هم ووئیل چه تهٔ هم
دَ پنځو ښارُونو حاکم شه ! ۲۰ بیا بل نوکر راغے اَؤ وئے وئیل،مالِکه! دا ستا دَ سرو زرو سِکه ده. ما دا په
رومال کښے نغښتے وه اَؤ سمباله کړے مے وه. ۲۱ زَهٔ ستا نه ویریدم ځکه چه تهٔ یو سخت سړے یئے اَؤ
هغه څهٔ حاصلوے کُوم چه تا چرے نهٔ وی ورکړی اَؤ هغه څهٔ ریبے چه کُوم دِ نهٔ وی کرلی. ۲۲ هغهٔ
جواب ورکړو،اَئے بد تمیزه! زَهٔ به هم ستا په خُلهٔ ستا سره اِنصاف وکړم! تا ته دا معلُومه وه چه زَهٔ یو
سخت سړے یم اَؤ هغه څهٔ وصُولوم چه کُوم ما نهٔ وی ورکړی اَؤ هغه څهٔ ریبم چه کُوم ما نهٔ وی کرلی؟
۲۳ نو بیا تا ولے زما دَ سرو زرو سِکه دَ صرافانو سره نهٔ ده ایښے چه بیا ما په واپس راتلو کښے سره دَ
سُود آخستے وے. ۲۴ هغهٔ حاضرینو ته مخ راواړَوو اَؤ وئے وئیل چه دغه دَ سرو زرو سِکه دَ دهٔ نه واخلئ
اَؤ هغهٔ ته ئے ورکړئ چه دَ چا سره چه لس دی. ۲۵ هغوئ جواب ورکړو چه مالِکه! دَ هغهٔ سره خو لس
دَ آگاهو نه دی! ۲۶ هغهٔ وئیل،زَهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ کُوم سړی سره چه څهٔ وی،هغهٔ ته به نور هم
ورکولے کیږی خو چه دَ چا سره چه څهٔ نهٔ وی،دَ هغهٔ نه به هغه څهٔ هم آخستے شی،چه ئے لری. ۲۷
خو زما هغه دُښمنانو چه زَهٔ بادشاه کیدل نهٔ غوښتم،هغوئ راولئ اَؤ زما په وړاندے ئے قتل کړئ."

## په بیتُ المُقدس کښے په فتح مندانه طور داخلیدل

**(متی ۲۱: ۱ - ۱۱،مرقوس ۱۱: ۱ - ۱۱،یوحنا ۱۲: ۱۲ - ۱۹)**

۲۸ دَ دے سره عيسىٰ وړاندے لاړو اَؤ بيتُ المُقدس ته په ورختو شو. ۲۹ هر کله چه هغه بيت فګے اَؤ
بيت عنياه ته ورنزدے شو کُوم چه دَ ښونانو په غرۀ ودان دى نو هغۀ دوه مُريدان دَ دے هداياتو سره
واستول چه ۳۰ "دے مخامخ کلى ته ورشئ اَؤ تاسو چه کله دے کلى ته ورننوزئ نو کُوچے به تړلے
ومُومئ چه تر اوسه پرے هيڅچا لا سورلى نۀ ده کړے. هغه پرانزئ اَؤ دلته ئے راولئ. ۳۱ اَؤ که څوک درنه
دا پوښتنه وکړى چه تاسو دا کُوچے ولے پرانزئ نو ورته ووايئ چه زمُونږ دَ مالِک په کار دے."

۳۲ دواړه په مخه لاړل اَؤ هم هغه شان ئے ومُوندل لکه چه عيسىٰ ورته وئيلى وُو. ۳۳ اَؤ کله چه هغوئ
کُوچے راپرانستو نو دَ دے مالِکانو تپوس وکړو چه"تاسو دا کُوچے ولے پرانزئ؟"

۳٤ هغوئ جواب ورکړو چه"دا زمُونږ دَ مالِک په کار دے." ۳٥ اَؤ هغوئ کُوچے عيسىٰ له راوستو،بيا
هغوئ په کُوچى باندے خپلے جامے واچولے اَؤ عيسىٰ ورباندے سور شو. ۳٦ اَؤ خلقو په لاره کښے هم
ورته خپلے جامے وغوړولے په کُومه لاره چه هغه تيريدو.

۳۷ اوس څۀ وخت چه هغه دَ ښونانو دَ غرۀ نه مخ په کُوزيدو وُو نو ټولو ملګرو اَؤ مُريدانو ئے په هغه ټولو
قوتناکو کارُونو چه هغوئ ليدلى وُو دَ خُدائے ثنا ووئيله. ۳۸ «مُبارک دے هغه راتلُونکے بادشاه چه دَ رب
په نامه راځى! سلامتى دِ وى په آسمان کښے اَؤ جلال دِ وى په اُوچت آسمان کښے.»

۳۹ ځنو فريسيانو په دے ګڼه کښے عيسىٰ ته ووئيل،"اُستاذه! خپلو مُريدانو ته ووايه چه غلى شى!"

٤۰ عيسىٰ جواب ورکړو،"زۀ تاسو ته وايم که چرے هغوئ غلى پاتے شنو ګټے به په چغو سر شى."

## دَ عيسىٰ ژړل دَ بيتُ المُقدس په حال

٤۱ هر کله چه هغه نزدے راغے،ښار ئے وليدلو نو هغۀ په دے باندے وژړل، ٤۲ اَؤ وئے وئيل،"که چرے
نن ورځ تا ته دا معلُومه وے چه کُومه دَ خير لاره ده،خو نه! دا ستا دَ نظر نه پټه ده ! ٤۳ يو وخت به په
تا ته داسے راشى چه ستا دُښمنان به ستا مُحاصره وکړى،هغوئ به ستا نه چاپير شى اَؤ دَ هر اړخ نه به دِ
راګير کړى. ٤٤ اَؤ په مزکه به دِ راګُزار کړى اَؤ تۀ اَؤ ستا بچى به ستا په ديوالُونو کښے دَ ننه وى اَؤ ستا
يوه ګټه به هم دَ ګټے دَ پاسه پرے نۀ ږدى ځکه چه تا دَ خُدائے هغه مُقرر وخت ونۀ پيژندلو،هر کله چه
هغه راغے!"

## دَ خُدائے کور پاکول

**(متى ۲۱: ۱۲ - ۱۷،مرقوس ۱۱: ۱٥ - ۱۹،يوحنا ۲: ۱۳ - ۲۲)**

٤٥ بيا عيسىٰ دَ خُدائے کور ته ننوتو اَؤ دَ سوداګرو په بهر راويستو ئے لاس پورے کړو. ٤٦ اَؤ دا ئے ورته
ووئيل،"صحيفے وائى چه «زما کور به دَ عبادت ځائے وى»،خو تاسو ترے دَ ډاکوانو کنډر جوړ کړے
دے."

٤۷ دَ خُدائے په کور کښے به هره ورځ عيسىٰ تعليم ورکولو. اَؤ مشران کاهنان اَؤ دَ شرعے عالمان دَ دۀ دَ
ژولو په تلاش کښے وُو چه دَ اُولسى مشرانو مرسته هم ورسره وه. ٤۸ خو هغوئ په دے کښے بے وسه وُو

ځکه چه دَ خلقو دَ هغۀ په خبرو يقين وُو.

# لُوقا باب ۲۰

## دَ عيسىٰ دَ اِختيار په باره کښې تپوس

**(متى ۲۱: ۲۳ - ۲۷،مرقوس ۱۱: ۲۷ - ۳۳)**

۱ يوه ورځ چه عيسىٰ دَ خُدائے په کور کښې خلقو ته تعليم ورکولو اَؤ ورته ئے زيرے آؤرولو نو مشران
کاهنان،دَ شرعې عالمان اَؤ اولسى مشران راغلل. ۲ اَؤ هغوئ ووئيل،”مُونږ ته ووايه چه دا تۀ په کُوم اِختيار
داسې کارُونه کوے لګيا يئے؟ دا واک اِختيار تاله چا در کړے دے؟“

۳ عيسىٰ هغوئ ته جواب ورکړو،”زۀ هم له تاسو نه يوه پوښتنه کوم،ما ته وښيئ ۴ چه آيا دَ يحيىٰ بپتسمه
دَ آسمان نه وه يا دَ بنى آدمو نه؟“

۵ په دے هغوئ دَ يو بل سره په بحث شول،”که چرے مُونږ ووايو چه له آسمان نه،نو دے به راته ووائى
چه بيا تاسو په هغۀ ايمان ولے رانۀ وړو؟ ۶ اَؤ که چرے مُونږ ووايو چه دَ بنى آدمو دَ طرفه وه،نو خلق به
ټول مُونږ سنګسار کړى ځکه چه هغوئ په دے خبره قايل دى چه يحيىٰ يو نبى وُو.“ ۷ نو هغوئ جواب
ورکړو چه”مُونږ هيڅ نۀ شو وئيلے.“

۸ اَؤ عيسىٰ هغوئ ته ووئيل،”بيا به زۀ هم دا درته ونۀ ښيم چه زۀ دا کار په کُوم اِختيار کوم.“

## دَ انګُورو باغ اَؤ دَ باغوانانو مِثال

**(متى ۲۱: ۳۳ - ٤٦،مرقوس ۱۲: ۱ - ۱۲)**

۹ نو بيا عيسىٰ خلقو ته دا مِثال تير کړو چه”يو سړى دَ انګورو باغ ولګولو اَؤ باغوانانو ته ئے ورکړو اَؤ يو
بل ملک ته دَ ډيرے مودے دَ پاره لاړو. ۱۰ کله چه موسم راغے نو هغۀ يو نوکر باغوانانو ته ورواستولو چه
ترے نه دَ هغۀ دَ پيداوار حصه راؤړى خو باغوانانو هغه ووهو اَؤ خالى لاس ئے واپس وليږلو. ۱۱ هغۀ بيا بل
نوکر ورواستولو خو هغه ئے هم بد بد ووهلو،بے عزته ئے کړو اَؤ تش لاس ئے واپس راوشړلو. ۱۲ هغۀ بيا
دريم سړے ور واستوو خو هغه ئے هم زخمى کړو،په تيښته ترے راغے. ۱۳ بيا دَ انګُورو دَ باغ مالِک
ووئيل چه اوس ما ته څۀ کول په کار دى؟ زۀ به خپل خوږ زوئے ورواستوم. کيدے شى چه دَ دَۀ مخ
وکړى. ۱٤ خو هر کله چه باغوانانو هغه وليدو نو يو بل ته ئے ووئيل،دا ئے وارث دے،راځئ چه مړ ئے
کړو چه ميراث ئے مُونږ ته پاتے شى! ۱۵ نو هغوئ هغه دَ انګُورو دَ باغ نه بهر راوويستو اَؤ مړ ئے کړو.

نو اوس ووايئ چه دَ انګُورو دَ باغ مالِک به دَ هغوئ سره څۀ سلوک وکړى؟ ۱٦ هغه به راشى اَؤ دا ټول
باغوانان به مړۀ کړى اَؤ دَ انګورو باغ به بل چا ته ورکړى.“

هر کله چه هغوئ دا واؤريدل نو وئے وئيل،”خُدائے مه کړه!“

۱۷ خو هغهٔ ورته ځير ځير وکتل اَوْ وئے وئيل،”نو بيا دَ صحيفو دَ دے عبارت څهٔ مطلب دے؟

«کُوم کاڼے چه ګلکارانو رد کړے وُو

هم هغه دَ کوټ سر ګاڼے شو.»

۱۸ هر څوک چه په دے کاڼی راوغورزيږی هغه به ذرے ذرے شی اَوْ که چرے دغه کاڼے په چا
راپريوځی نو هغه به هم ريز مريز شی.“

۱۹ دَ شرعے عالمانو اَوْ مشرانو کاهنانو غوښتل چه هغهٔ ته هم په هغه ځائے کښے لاس ورواچوی ځکه
چه هغوئ په دے ورسيدل چه دا مِثال دَهٔ په هغوئ پورے ووے خو هغوئ دَ خلقو نه ويريدل.

## قيصر له محصُول ورکول

**(متی ۲۲: ۱۵ - ۲۲،مرقوس ۱۲: ۱۳ - ۱۷)**

۲۰ نو هغوئ په دے لټُون کښے وُو چه څنګه به ئے راګير کړُو. نو جاسُوسان ئے پټ دَ صادِقانو په جامه
کښے ورواستول چه دَ هغهٔ څهٔ داسے خبرے راونيسی دَ کُومو په بهانه چه هغه ونيولے شی اَوْ دَ حاکِم
زور اَوْ اِختيار ته وسپارلے شی. ۲۱ هغوئ په هغهٔ يو سوال وکړو اَوْ ورته ئے ووئيل،”اُستاذه! مُونږ په دے
خبر يُو،څهٔ چه تهٔ وائے اَوْ دَ څهٔ تعليم چه ورکوے هغه حق دے. تهٔ دَ چا مخ ملازه نهٔ کوے خو په
رښتيا هغه څهٔ وايے چه دَ خُدائے لار ده. ۲۲ ولے مُونږ ته قيصر له خراج ورکول په کار دی اَوْ که نه؟“

۲۳ عيسیٰ دَ هغوئ په چل پوهه شو اَوْ ورته ئے ووئيل،۲۴ ”ما ته دَ سپينو زرو يوه سِکه وښايئ. په دے دَ
چا تصوير دے اَوْ دَ چا نُوم؟“

هغوئ جواب ورکړو چه”دَ قيصر.“

۲۵ عيسیٰ ووئيل چه”ښه ده،قيصر ته خپل حق ورکړئ اَوْ خُدائے له خپل.“

۲۶ دغه شان دَ خلقو په وړاندے دَ دوئ دا کوشش چه هغه په خبرو کښے راونيسی کامياب نهٔ شو اَوْ دَ
هغهٔ په جواب هغوئ حق حيران غلی پاتے شول.

## دَ بيا ژوندی کيدلو په باب کښے تپوس

**(متی ۲۲: ۲۳ - ۳۳،مرقوس ۱۲: ۱۸ - ۲۷)**

۲۷ بيا څنے صدُوقيان وړاندے راغلل. دا هغه خلق دی څوک چه دَ قيامت دَ ورځے نه مُنکر دی. ۲۸
هغوئ دا سوال وکړو چه”اُستاذه! مُوسیٰ مُونږ ته دا ښائيلی دی چه که دَ چا ورور مړ شی اَوْ ښځه ئے
پاتے شی اَوْ بچی ئے نهٔ وی نو بل ورور دِ هغه کونډه وادهٔ کړی اَوْ دَ هغهٔ نسل دِ پيدا کړی. ۲۹ نو اوس
اُووهٔ ورُونه وُو. وړُومبی وادهٔ وکړو اَوْ بے اولاده مړ شو. ۳۰ بيا دويم هغه ښځه واخسته، ۳۱ بيا دريم هم
دغه شان اُووهٔ واړه مړهٔ شول خو دَ يو هم اولاد ونهٔ شو. ۳۲ وروستو دغه ښځه هم مړه شوه. ۳۳ دَ قيامت

په ورځ به دغه ښځه دَ چا وی؟ ځکه چه اُوو واړو دَ هغې سره وادۀ کړے وُو.“

۳۴ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل،”دَ دے دُنیا سړی اَوْ ښځې وادۀ کوی، ۳۵ خو هغه څوک چه دَ بل جهان
لائق ګڼلے شوی دی،هغوئ به دَ بیا راژوندی کیدو نه پس وادۀ نۀ کوی. ۳٦ ځکه چه دَ هغې نه پس به
هغوئ نۀ مری،هغوئ به دَ فرښتو په شان وی. هغوئ دَ خُدائے زامن دی ځکه چه هغوئ په بیا راژوندی
کیدو کښې حصه دار دی. ۳۷ اَوْ دا چه مړی به راژوندی کولے شی،دا مُوسیٰ په خپله هم دَ جاړو دَ
سوزولو په واقعه کښې بیان کړے دی چرته چه دَ مالِک په باب کښې وائی،«دَ اِبراهیم خُدائے،دَ اِسحاق
خُدائے اَوْ دَ یعقوب خُدائے.» ۳۸ نو خُدائے دَ مړو خُدائے نۀ دے،دَ ژوندو خُدائے دے. دَ هغۀ په نزد
ټول ژوندی دی.“

۳۹ په دے څنو دَ شرعې عالمانو ووئیل،”اُستاذه! ډیر ښۀ دِ ووئیل.“ ٤۰ ځکه چه دَ دے نه پس دَ چا دا
مجال نۀ وُو چه په هغۀ باندے بل سوال وکړی.

## دَ داؤد دَ زوئے په باب کښې تپوس

**(متی ۲۲: ٤۱ - ٤٦،مرقوس ۱۲: ۳۵ - ۳۷)**

٤۱ عیسیٰ هغوئ ته ووئیل،”هغوئ څنګه دا وئیلے شی چه مسیح دَ داؤد زوئے دے؟ ٤۲ ځکه چه داؤد په
خپله په زبُور کښې وائی چه

« مالِک زما مالِک ته ووئیل،زما ښی لاس ته کښېنه،

٤۳ تر څو چه زۀ ستا دُښمنان ستا دَ پښو لاندے نۀ کړم.»

٤٤ داؤد خو په خپله هغۀ ته مالِک وائی،نو بیا هغه دَ داؤد زوئے څنګه کیدے شی؟“

## دَ شرعې عالمان ملامته کول

**(متی ۲۳: ۱ - ۳٦،مرقوس ۱۲: ۳۸ - ٤۰)**

٤۵ دَ ټولو خلقو په وړاندے عیسیٰ خپلو مُریدانو ته ووئیل، ٤٦ ”دَ شرعې دَ عالمانو نه ځان ساتئ څوک
چه په لویو لویو چُوغو کښې ګرځی اَوْ په بازارونو کښې دَ عزت په سلامُونو ډیر خوشحالیږی اَوْ په عبادت
خانو اَوْ په میلمستیاؤ کښې دَ مشرئ په ځائ کښیناستل خوښوی. ٤۷ هم دا هغه خلق دی چه دَ کونډو
مال خوری خو په ظاهره اُوږدے اُوږدے دُعاګانے کوی اَوْ دوئ ته به بدترینه سزا ورکړلے شی.“

# لُوقا باب ۲۱

## دَ کونډے شُکرانه

**(مرقوس ۱۲: ٤۱ - ٤٤)**

۱ عیسیٰ چه پاس وکتل نو وئے لیدل چه مالدار خلق دَ خُدائے دَ کور په خزانه کښې خپلے شُکرانے

اچوی. ۲ اَوْ هغۀ یوه خواره کونډه ولیده چه دوه پیسے ئے ورواچولے. ۳ هغۀ ووئیل،”زۀ تاسو ته دا وایم
چه دے خوارے کونډے دَ نورو ټولو نه زیات واچول. ٤ ځکه چه دے نورو چه په شُکرانے کښے څۀ
واچول هغوئ دَ مال دَ زیات والی په سبب واچول خو دَ هغے سره چه دَ خپلے گُزارے نه هم کم وُو،هغه
ټول ئے واچول.“

## دَ خُدائے دَ کور دَ بربادیدو په باره کښے پیشن گوئی

**(متی ٢٤: ١ - ٢،مرقوس ١٣: ١ - ٢)**

٥ ځنے خلقو دَ خُدائے دَ کور اَوْ دَ هغے دَ ښکلو کاڼو اَوْ په ورکړو شوو نذرانو چه داښایسته کړے شوے
وُو، ورپورے خبرے وکړلے. عیسیٰ ورته ووئیل چه ٦ ”دا څیزُونه چه تاسو وینئ،وخت به راشی چه په
دے کښے به یو کاڼے په کاڼی پاتے نۀ شی،ټول به ونړولے شی.“

## تکلیفُونه اَوْ زورونه

**(متی ٢٤: ٣ - ١٤،مرقوس ١٣: ٣ - ١٣)**

٧ دوئ عیسیٰ ته ووئیل،”اُستاذه! دا هر څۀ به کله کیږی؟ اَوْ دَ دے دَ کیدو نخښے به څۀ وی؟“

٨ عیسیٰ ووئیل،”پام کوئ چه څوک مو گُمراه نۀ کړی ځکه چه ډیر به راځی اَوْ زما دَ نُوم دعویٰ به
کوی اَوْ وائی به چه زۀ هغه یم! اَوْ وخت نزدے راغلے دے خو ورپسے مه ځئ. ۹ اَوْ کله چه تاسو دَ
جنگُونو اَوْ دَ جگړو واورئ نو وار خطا کیږئ مه ځکه چه دا څیزُونه به خامخا اول کیږی خو اَنجام په
سمدستی ورپسے نۀ وی.“

۱۰ بیا هغۀ دا ووئیل،”قامُونه به دَ قامُونو سره جنگیږی،بادشاهئ دَ بادشاهئ سره. ۱۱ لوئے لوئے زلزلے به
راځی،قحطُونه،وباگانے به په ډیرو ځایُونو کښے راځی اَوْ په آسمان به هیبتناکے اَوْ لوئے نخښے ښکاره
کیږی. ۱۲ خو دَ دے هر څۀ نه آگاهو به هغوئ په تاسو پسے شی اَوْ تاسو به عذابوی. تاسو به عبادت
خانو ته حواله کیږئ اَوْ بندی خانو ته به اچولے کیږئ. تاسو به دَ بادشاهانو اَوْ حاکمانو په وړاندے زما دَ
نُوم په سبب ودرولی کیږئ. ۱۳ اَوْ دا به ستاسو دَ پاره دَ شهادت موقع وگرزی. ۱٤ خو یاد لرئ چه دَ
آگاهو نه په خپله صفائی کښے دَ جواب ورکولو فکر ونۀ کړئ، ۱٥ ځکه چه زۀ به په خپله تاسو ته دَ وینا
داسے طاقت اَوْ حِکمت درکړم چه یو مُخالف به هم دَ دے قابل نۀ وی چه دے ته ټینگ شی یا ئے
دروغ ثابت کړی. ۱٦ تر دے چه ستاسو مور پلار،ستاسو ورُوڼه،ستاسو خپلوان اَوْ دوستان به مُو هم په
حواله کړی،په تاسو کښے به ځنے مړۀ کړے شی، ۱۷ اَوْ زما دَ نُوم په سبب به ټول تاسو سره کینه لری.
۱۸ خو ستاسو دَ سر یو ویښتۀ قدرے به هم ورکیږی نه، ۱۹ اَوْ دَ خپل صبر په سبب به خپل ژوندُون
وگټئ.

## دَ بیتُ المُقدس دَ بربادیدو په باره کښے پیشن گوئی

**(متی ٢٤: ١٥ - ٢١،مرقوس ١٣: ١٤ - ١٩)**

۲۰ ”خو هر کله چه تاسو دا ووینئ چه دَ بیتُ المُقدس نه فوځُونه راچاپیر شوی دی نو تاسو پوهه شئ چه
دَ هغۀ بربادی رانزدے ده. ۲۱ نو بیا هغه څوک چه په یهودیه کښے وی،غرُونه ته دِ وتښتی اَوْ څوک چه

په ښار کښې وی،هغوئ دِ دَ ښار نه بهر وځی اَؤ څوک چه دَ ښار نه بهر په کلو کښې وی هغوئ دِ ښار
ته دَ ننه لاړ نۀ شی. ٢٢ ځکه چه هم دا به دَ بدل آخستو ورځې وی اَؤ هر څۀ چه ليکلی شوی دی،هغه
به پُوره کيږی. ٢٣ اَفسوس دے په هغه ښځو څوک چه په هغه ورځو کښې اُميدوارے وی اَؤ يا چه بچو
ته تے ورکوی! ځکه چه په مزکه به ډير لوئے مُصيبت خور وی اَؤ په دے خلقو به لوئے غضب وی. ٢٤
هغوئ به په تُوره ټوټې ټوټې کيږی اَؤ ټولو ملکُونو ته به قيديان بوتللے کيږی اَؤ تر هغې ورځې پورے به
بيتُ المُقدس دَ غيرو قومُونو تر پښو لاندے کيږی تر څو چه دَ هغو وخت تر سره شوے نۀ وی.

## دَ اِبن آدم راتلل

**(متی ٢٤: ٢٩ - ٣١،مرقوس ١٣: ٢٤ - ٢٧)**

٢٥ په نمر،سپوږمئ اَؤ په ستورو کښې به نخښې ښکاريږی. دَ سمندر دَ شرار اَؤ دَ چپو نه به په مزکه
قومُونه پرشان وی. ٢٦ په خلقو کښې به په مزکه دَ پيښيدُونکو واقعاتو دَ ويرے له کبله په اِنسان کښې
ساه نۀ پاتے کيږی ځکه چه آسمانی قوتُونه به وجړقولے شی. ٢٧ اَؤ بيا به هغوئ دا ووينی چه اِبن آدم به په
وريځو کښې ډير شان اَؤ شوکت اَؤ ډيرے لوئئ سره راځی. ٢٨ هر کله چه دا هر څۀ پيښيدل شروع شی
نو نيغ شئ اَؤ خپل سرُونه اُوچت کړئ ځکه چه ستاسو خلاصُون نزدے دے.“

## دَ انځر دَ ونے سبق

**(متی ٢٤: ٣٢ - ٣٥،مرقوس ١٣: ٢٨ - ٣١)**

٢٩ عيسىٰ هغوئ ته دا مِثال تير کړو چه”دَ انځر ونے ته وګورئ يا ټولو ونو ته. ٣٠ هر کله چه دا غوټئ
وسپړی نو تاسو په خپله وينئ اَؤ پوهه شئ چه اوړے رانزدے دے. ٣١ هم دغه شان چه تاسو دا ټولے
خبرے په کيدو وينئ نو پوهه شئ چه دَ خُدائے بادشاهی نزدے راغلے ده.

٣٢ زۀ تاسو ته دا رښتيا وايم چه دا پيړئ به ختمه نۀ شی تر څو چه دا ونۀ شی. ٣٣ آسمان اَؤ زمکه به
پاتے نۀ شی خو زما کلام به تل تر تله پاتے وی.

## دَ بيدار اوسيدلو تاکيد

٣٤ خيال ساتئ اَؤ پام کوئ! خپل زړُونه په بدمستئ،نشو اَؤ دُنياوی غمُونو مه آخته کوئ ځکه چه هغه
ورځ ناڅاپی تاسو لکه دَ لټ راګير نۀ کړی. ٣٥ ځکه چه هغه ورځ به هر چا چه په دے ټوله دُنيا کښې
دی،دغسے راتلُونکے ده. ٣٦ هر وخت بيدار اوسئ اَؤ دُعا غواړئ چه قوت ومُومئ اَؤ دَ دے پيښبو نه بچ
پاتے شئ اَؤ چه دَ اِبن آدم په وړاندے دَ ودريدو جوګه شئ.“

٣٧ عيسىٰ دا ورځے دَ خُدائے په کور کښې په تعليم ورکولو تيرولے اَؤ بيا به هغه دَ شپے تيرولو دَ پاره دَ
ښونانو غرۀ ته تلو. ٣٨ اَؤ سحر وختی به ټول خلق دَ خُدائے کور ته راټوليدل چه دَ هغۀ خبرے واؤری.

# لُوقا باب ٢٢

## دَ عیسیٰ دَ قتل سازش

**(متی ۲۶: ۱ - ۵،مرقوس ۱۴: ۱ - ۲،یُوحنا ۱۱: ۴۵ - ۵۳)**

۱ اوس دَ پتیرے ډوډئ دَ اختر ورځ،چه ورته دَ فسح ورځ وائی،نزدے وه. ۲ اَوَ مشرانو کاهنانو اَوَ دَ
شرعے عالمانو دا کوشِش کاوو چه څهٔ داسے بهانه ولټوی چه عیسیٰ قتل کړی،ځکه چه هغوئ دَ خلقو
نه ویریدل.

۳ خو بیا شیطان په یهُوداه اِسکریوتی کښے ورننوتو چه په هغه دولسو مُریدانو کښے یو وُو. ۴ اَوَ یهُوداه دَ
مشرانو کاهنانو اَوَ دَ خُدائے دَ کور دَ افسرانو سره مشورے ته لاړو چه داسے څهٔ بهانه پیدا کړی چه
عیسیٰ څنګه ورته په حواله کړی. ۵ هغوئ ډیر خوشحاله شول اَوَ دَ هغهٔ سره ئے دَ پیسو لوظ وکړو. ۶
هغه رضا شو اَوَ دَ دے موقعے په لټُون کښے شو چه هغه په ټګئ هغوئ ته په حواله کړی.

## دَ فسح دَ اختر تیاری

**(متی ۲۶: ۱۷ - ۲۵،مرقوس ۱۴: ۱۲ - ۲۱،یُوحنا ۱۳: ۲۱ - ۳۰)**

۷ بیا دَ پتیرے ډوډئ ورځ راغله په کُومه ورځ چه دَ فسح قُربانی کیدُونکی وه. ۸ اَوَ عیسیٰ بیا پطروس اَوَ
یوحنا دَ دے هدایاتو سره واستول چه”لاړ شئ اَوَ زمُونږ دَ پاره دَ فسح ډوډئ تیاره کړئ چه وئے خورُو.“

۹ هغوئ تپوس وکړو چه”تهٔ په کُوم ځائے کښے غواړے چه مُونږ دا تیاری وکړُو؟“

۱۰ هغهٔ جواب ورکړو چه”څنګه چه تاسو ښار ته ننوزئ نو تاسو به یو سړے ووینئ چه دَ اوبو منګے به
وړی. هغه چه کُوم کور ته ورننوزی نو هم هغه کور ته ورپسے ننوزئ. ۱۱ اَوَ دَ کور خاوند ته دا پیغام
ورکړئ،اُستاذ وائی چه هغه دَ میلمانو کمره کُومه ده چرته چه به زهٔ دَ مُریدانو سره دَ فسح ډوډئ خورم؟
۱۲ نو هغه به تاسو ته یوه لویه تیاره کړے شوے بالا خانه وښیی،نو هلته تیاری وکړئ.“

۱۳ هغوئ لاړل اَوَ هلته ئے هر څیز دَ هغهٔ دَ وینا په مُطابق ولیدلو. هغوئ دَ فسح دَ پاره تیاری وکړه.

## دَ عشا ربانی مُقررول

**(متی ۲۶: ۲۶ - ۳۰،مرقوس ۱۴: ۲۲ - ۲۶،اول کورنتیان ۱۱: ۲۳: ۲۵)**

۱۴ اَوَ چه وخت راغے نو عیسیٰ سره دَ خپلو رسُولانو ډوډئ ته کښیناستو. ۱۵ اَوَ هغوئ ته ئے ووئیل
چه”زما دا خومره خواهش وُو چه دَ خپل مرګ اَوَ مُصیبت دَ زغملو نه وړُومبے تاسو سره دَ فسح دا ډوډئ
وخورم. ۱۶ ځکه چه زهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ دے نه پس به زهٔ تر هغے بیا دا ډوډئ هیچرے ونهٔ خورم
تر څو چه دَ خُدائے په بادشاهئ کښے دَ دے مقصد پُوره نهٔ شی.“ ۱۷ بیا عیسیٰ یوه پیاله واخسته اَوَ دَ
شُکر کولو نه پس ئے ووئیل،”دا واخلئ اَوَ په خپلو کښے ئے وویشئ. ۱۸ ځکه چه زهٔ تاسو ته دا وایم چه
دَ دے ساعت نه پس به زهٔ دَ انګُورو رس بیا تر هغے ونهٔ څښم تر څو چه دَ خُدائے بادشاهی رانهٔ شی.“

۱۹ بیا هغهٔ ډوډئ واخستله،شُکر ئے پرے وکړو اَوَ ماته ئے کړه اَوَ هغوئ له ئے ورکړه اَوَ وئے وئیل،”دا
زما بدن دے چه ستاسو دَ پاره ورکړے کیږی. زما دَ یادګار دَ پاره هم دغسے کوئ.“ ۲۰ اَوَ هم دغسے

ئے دَ ډوډۍ نه پس پيالۍ واخستله اَؤ وئے وئيل چه"دا پيالۍ زما په هغه وينه چه ستاسو دَ پاره تويولے
کيږی،نوے لوظ دے.

۲۱ خو گورئ! زما دَ مُخبر لاس هم ما سره په ميز باندے دے! ۲۲ ځکه چه اِبن آدم څنگه چه مُقرر
شوے دے،هغه شان به ځی،خو اَفسوس دے په هغه سړی دَ چا په مُخبرئ چه هغه په حواله کيږی!"

۲۳ په دے خبره هغوئ په خپلو کښے په بحث شُو چه په مُونږ کښے به دا کار څوک کوی.

## دَ لوئی په باره کښے بحث

۲٤ بيا په هغوئ کښے تکرار وشو چه په هغوئ کښے به څوک دَ ټولو نه لوئے وگڼلے شی. ۲٥ خو عيسیٰ
ووئيل چه"دَ قومُونو بادشاهان په خپلو خلقو حکُومت کوی اَؤ څوک چه پرے اِختيار لری هغوئ ته دَ
ملک خيرخواه وئيلے کيږی. ۲٦ خو په تاسو کښے دِ داسے نۀ وی. په تاسو کښے دِ دَ ټولو نه لوئے ځان
دَ ټولو نه وړُوکے گڼی اَؤ ستاسو مشر دِ ستاسو خدمتگار وی. ۲۷ ځکه چه په دے کښے څوک لوئے
دے؟ هغه چه ډوډۍ ته ناست وی اؤ که هغه څوک چه خدمت کوی يقينًا هغه څوک چه ډوډۍ ته
ناست وی. خو زَۀ دلته ستاسو په مينځ کښے دَ خدمتگار په شان يم.

۲۸ تاسو هغه خلق يئ چه زما په آزميښتُونو کښے ما سره مضبُوط ولاړ وئ. ۲۹ اَؤ اوس زَۀ هغه بادشاهی
ستاسو دَ پاره مُقرروم چه زما پلار زما دَ پاره مُقرره کړے ده. ۳۰ تاسو به زما په بادشاهئ کښے زما په ميز
خورئ،څښئ اَؤ دَ مُنصفانو په شان به په تختُونو کښينئ چه دَ اِسرائيل دَ دولسو قبيلو تر منيځه اِنصاف
وکړئ.

## دَ پطروس دَ اِنکار کولو په باره کښے پيشن گوئی

**(متی ۲٦: ۳۱ - ۳٥،مرقوس ١٤: ۲۷ - ۳۱،يُوحنا ١۳: ۳٦ - ۳۸)**

۳۱ "شمعُونه! اَئے شمعُونه! گوره،خبردار شه! شيطان تاسو ټول وغوښتلئ چه هغه تاسو لکه دَ غنمو دَ دانو
وځنډی. ۳۲ خو ما ستا دَ پاره دا دُعا کړے ده چه ستا ايمان لاړ نۀ شی اَؤ هر کله چه تۀ راوگرزے نو تۀ
خپل ورُونه مضبُوط کړه."

۳۳ پطروس جواب ورکړو چه "مالِکه! زَۀ تا سره قيد خانے اَؤ مرگ ته تيار يم!"

۳٤ عيسیٰ ووئيل،"پطروسه! زَۀ تا ته وايم چه نن شپه به چرگ تر هغے بانگ ونۀ وائی تر څو چه تۀ زما دَ
پيژندگلو نه درے ځله اِنکاری نۀ شے."

## بټوے،کڅوړے اَؤ تُوره

۳٥ عيسیٰ خپلو مُريدانو ته ووئيل،"هر کله چه ما تاسو بے څپلو اَؤ تش لاس بے له بټوے استولی وئ،ولے
تاسو دَ څۀ څيز حاجتمند شوئ؟"

۳٦ هغوئ جواب ورکړو چه"نه"

هغۀ ووئیل چه”اوس دَ چا سره بټوے وی،هغه دِ دَ ځان سره واخلی اَؤ خپلے کځوړے دِ هم ورسره وی
،اَؤ که تُوره ورسره نۀ وی،نو هغه دِ خپل قمیس خرڅ کړی خو تُوره دِ واخلی. ۳۷ ځکه چه صحیفے
وائی چه «هغه په باغیانو کښے حساب کړے شو،» اَؤ دا الفاظ به ضرُور زما په حقله پُوره کیږی بے
شکه هر څۀ چه زما په باب کښے لیکلی شوی دی،هغه به پُوره کیږی.“

۳۸ هغوئ ووئیل،”گوره مالِکه! مُونږ سره دا دوه تُورے دی!“

هغۀ ووئیل،”کافی دی!“

## دَ ښونانو په غرۀ کښے دُعا

**(متی ۲۶: ۳۶ - ٤٦،مرقوس ١٤: ۳۲ - ٤۲)**

۳۹ بیا عیسیٰ بهر ووتو اَؤ دَ خپل دستُور په مُطابق دَ ښونانو غرۀ ته لاړو اَؤ مُریدان هم ورسره وُو. ٤۰ هر
کله چه هغه ځائے ته ورسیدو نو هغوئ ته ئے ووئیل،”دُعا غواړئ چه په آزمیښت کښے پرے نۀ وزئ.“

٤۱ هغه په خپله دَ هغوئ نه یو څو قدمه لرے لاړو،په زنګنُونو شو اَؤ دُعا ئے شروع کړه. ٤۲ ”اَئے پلاره!
که دا چرے ستا رضا وی نو دا پیاله له مانه لرے کړه خو زما رضا نه،ستا رضا دِ پُوره شی.“ ٤۳ اَؤ په
دغه وخت کښے یوه فرښته دَ آسمان نه رانازله شوه،چه ئے مضبُوط کړی. ٤٤ اَؤ چه سخت عذابیدو نو لا
ئے هم په جوش کښے دُعا وکړله اَؤ دَ هغۀ خوله دَ وینو دَ څاڅکو په شان په مزکه څڅیدله.

٤٥ هر کله چه عیسیٰ دَ دُعا نه پاڅیدو اَؤ خپلو مُریدانو ته راستُون شو نو هغوئ ئے غم زپلی اُودۀ ومُوندل.
٤٦ هغۀ ووئیل،”دا تاسو ولے اُودۀ یئ؟ پاڅئ اَؤ دُعا وغواړئ چه تاسو په آزمیښت کښے پرے نۀ وزئ.“

## په عیسیٰ مُخبری اَؤ نیول

**(متی ۲٦: ٤٧ - ٥٦،مرقوس ١٤: ٤۳ - ٥۰،یُوحنا ١٨: ۳ - ١١)**

٤٧ هغه ساعت چه عیسیٰ لا دا خبرے کولے نو ګڼ خلق راغلل. اَؤ یهُوداه نُومے سړے څوک دَ دولسو
مُریدانو نه یو وُو،دَ هغوئ نه مخکښے وُو. هغه عیسیٰ له راغے چه کښُل ئے کړی. ٤٨ خو عیسیٰ
ووئیل،”یهُوداه! تۀ دَ اِبن آدم مُخبری په کښُلولو کوے څۀ؟“

٤٩ کله چه دَ عیسیٰ ملګرو دا ولیدل چه څۀ کیږی نو هغوئ ووئیل،”مالِکه! مُونږ دَ خپلو تُورو نه کار
واخلُو څۀ؟“ ٥۰ اَؤ په هغوئ کښے یو دَ مشر کاهن په نوکر ګُزار وکړو اَؤ دَ هغۀ ښئ غوږ ئے پرے کړو.

٥١ خو عیسیٰ جواب ورکړو،”پریږدئ چه هغوئ خپل کار وکړی!“ بیا هغۀ دَ هغه سړی په غوږ لاس
کیښودو اَؤ روغ ئے کړو.

٥٢ بیا عیسیٰ مشرانو کاهنانو اَؤ دَ خُدائے دَ کور حفاظت کوُونکو افسرانو اَؤ اُولسی مشرانو ته مخ راواړَوو
چه دَ هغۀ په نیولو پسے راغلی وُو. هغۀ ووئیل،”ولے تاسو ما یو ډاکو ګڼئ چه تُورے کوتک په لاس زما

په ګرفتارئ پسے راوتی یئ څۀ؟ ٥٣ هره ورځ چه زۀ تاسو سره دَ خُدائے په کور کښے وم نو تاسو ما ته
لاس ونۀ چولو خو اوس دا ستاسو وخت دے اَؤ دَ تورے تیارے اِختیار.“

## دَ پطروس دَ عیسیٰ نه اِنکار

**متی ٢٦: ٥٧ - ٥٨، ٦٩ - ٧٥،مرقوس ١٤: ٥٣ - ٥٤، ٦٦ - ٢٦،یُوحنا ١٨: ١٢ - ١٨، ٢٥ -)**
**٢٧)**

٥٤ بیا ئے عیسیٰ ګرفتار کړو اَؤ بوئے تلو اَؤ دَ مشر کاهن کور ته ئے ننویستو اَؤ پطروس وړپسے وروستو
وروستو روان وُو. ٥٥ هغوئ دَ غولی په مینځ کښے اور بل کړو اَؤ ګیر چاپیره ترے کښیناستل اَؤ پطروس
هم دَ هغوئ په مینځ کښے کښیناستو. ٥٦ بیا یوے وینځے چه دَ اور په رڼا کښے هغه ولیدو اَؤ ورته ئے
نیغ وکتل نو وئے وئیل،”دا سړے خو هم ورسره وُو!“

٥٧ خو پطروس دَ دے نه اِنکار وکړو. هغۀ ووئیل،”اَئے ښځے! زۀ ئے څۀ پیژنم؟“

٥٨ لږه شیبه پس بل ولیدو اَؤ وئے وئیل چه”تۀ خو هم په هغوئ کښے یو یئے!“

خو پطروس ووئیل چه”نه! هغه زۀ نۀ پیژنم!“

٥٩ یوه ګینټه به تیره وه چه یو بل تن نور هم په کلکه ووئیل چه”بے شکه،دا سړے هم ورسره وُو ځکه
چه دے هم ګلیلی دے!“

٦٠ خو پطروس ووئیل،”سړیه! زۀ خبر نۀ یم چه دا تۀ لا څۀ وایئے!“

په دے ساعت کښے چه هغۀ لا خبرے کولے نو چرګ بانګ ووے. ٦١ اَؤ بیا مالِک مخ راواړَوو اَؤ
پطروس ته ئے وکتل اَؤ پطروس ته دَ مالِک خبرے رایادے شوے چه”هم په دے شپه دَ چرګ دَ بانګ
وئیلو نه مخکښے به تۀ درے ځله زما نه اِنکاری شے.“ ٦٢ نو هغه بهر لاړو اَؤ په چغو چغو ئے وژړل.

## دَ عیسیٰ سپکاوے اَؤ وهل

**(متی ٢٦: ٦٧ - ٦٨،مرقوس ١٤: ٦٥)**

٦٣ کُومو خلقو چه دَ عیسیٰ څوکئ کوله،هغوئ ورپورے ټوقے وکړلے اَؤ وئے وهلو. ٦٤ سترګے ئے ورله
وتړلے اَؤ تپوسونه ئے ترے شروع کړل،”اوس نبوت وکړه! تۀ چا ووهلے؟ دا راته ووایه!“ ٦٥ اَؤ دغه شان
هغوئ دَ هغۀ نور هم سپکاوے کولو.

## عیسیٰ دَ جرګے په مخ کښے

**(متی ٢٦: ٥٩ - ٦٦،مرقوس ١٤: ٥٥ - ٦٤،یُوحنا ١٨: ١٩ - ٢٤)**

٦٦ اَؤ چه ورځ شوه نو اولسی مشران،مشر کاهنان اَؤ دَ شرعے عالمان راټول شو اَؤ عیسیٰ ئے دَ خپلے
جرګے وړاندے پیش کړو. ٦٧ هغوئ ووئیل،”مُونږ ته ووایه چه تۀ په رښتیا مسیح یئے؟“

هغۀ جواب ورکړو،”که زۀ درته وايم نو تاسو به په ما يقين ونۀ کړئ. ۶۸ اَؤ که زۀ درنه تپوسُونه وکړم نو
تاسو به ځواب رانۀ کړئ. ۶۹ خو دَ دے ساعت نه پس به اِبن آدم دَ حق تعالىٰ ښى لاس ته ناست وى.“

۷۰ هغوئ ټولو ووئيل،”نو بيا تۀ دَ خُدائے زوئے يئے څۀ؟“

هغۀ جواب ورکړو،”دا تاسو وايئ چه زۀ يم.“

۷۱ هغوئ ووئيل،”ولے دَ نور شهادت څۀ حاجت شته؟ مُونږ دَ دۀ دَ خپلے خُلے نه په خپله دا واؤريدل!“

# لُوقا باب ۲۳

## دَ پيلاطوس په مخکښے دَ عيسىٰ پيشى

**(متى ۲۷: ۱ - ۲، ۱۱ - ۱٤،مرقوس ۱۵: ۱ - ۵،يُوحنا ۱۸: ۲۸ - ۳۸)**

۱ دَ دے سره ټوله غونډه پاڅيده اَؤ عيسىٰ ئے پيلاطوس ته بوتلو. ۲ اَؤ په دے وينا ئے دَ هغۀ خلاف
دعوىٰ شروع کړه،”مُونږ داسے سړے وليدلو چه زمُونږ دَ قوم خلق بدراه کوى اَؤ قيصر ته دَ خراج ورکولو
نه خلق منع کوى اَؤ وائى چه زۀ مسيح يعنى بادشاه يم.“

۳ پيلاطوس دَ هغۀ نه تپوس وکړو،”ولے تۀ دَ يهُوديانو بادشاه يئے څۀ؟“

هغۀ ووئيل چه”دا ستا وينا ده.“

٤ نو بيا پيلاطوس مشرانو کاهنانو اَؤ حاضرو خلقو ته ووئيل چه”زۀ دَ دے سړى په جواب کښے هيڅ جُرم
نۀ وينم.“

۵ خو هغوئ اِصرار وکړو چه”دَ هغۀ تعليمات په ټوله يهُوديه کښے دَ خلقو په زړونو کښے کرکه اَؤ نفرت
پيدا کوى. دا دَ ګليل نه راشروع شو اَؤ تر دے ښاره راخور شو.“

## دَ هيروديس په مخ کښے دَ عيسىٰ پيشى

۶ کله چه پيلاطوس دا واؤريدل نو تپوس ئے وکړو چه”ولے دا سړے ګليلى دے څۀ؟“ ۷ اَؤ چه دَ دے نه
خبر شو چه عيسىٰ دَ هيروديس دَ رعيت سړے دے نو هغۀ دا مُقدمه هيروديس ته واستوله ځوک چه په
خپله په هغه ورځو کښے په بيتُ المُقدس کښے ديره وُو. ۸ کله چه هيروديس عيسىٰ وليدو نو دَ هغۀ په
ليدو ډير خوشحاله شو ځکه چه دَ هغۀ په حقله ئے آؤريدلى خو وُو اَؤ دَ ډير وخت نه ئے دا تلوسه وه چه
هغه ووينى اَؤ په دے طمع وُو چه دَ هغۀ دَ لاسه څۀ مُعجزه په خپله ووينى. ۹ هيروديس دَ عيسىٰ نه ډير
تپوسُونه وکړل خو هغۀ هيڅ جواب ورنۀ کړو. ۱۰ خو مشران کاهنان اَؤ دَ شرعے عالمان راغلل اَؤ ډير په
زور سره ئے دَ هغۀ برخلاف مُقدمه شروع کړه. ۱۱ بيا هيروديس اَؤ دَ هغۀ سپاهيانو دَ هغۀ سپکاوى وکړو
اَؤ بے عزته ئے کړو اَؤ په ځليدُونکو جامو کښے ئے پيلاطوس ته واپس واستوو. ۱۲ هم په هغه ورځ

هیرودیس اَوْ پیلاطوس دوستان شول ولے چه تر دغه وخته پورے دَ هغوئ دواړو په مینځ کښې دُښمنی
وه.

## په عیسیٰ دَ مرګ فتویٰ

**(متی ۲۷: ۱۵ - ۲۶،مرقوس ۱۵: ۶ - ۱۵،یُوحنا ۱۸: ۳۹ - ۱۹: ۱۶)**

۱۳ پیلاطوس اوس مشر کاهنان،مشران اَوْ ځنې خلق راوبلل، ۱۴ اَوْ ورته ئې ووئیل،"تاسو دا سړے ما ته دَ
خلقو دَ بدراه کولو په اِلزام کښې راوستے دے خو لکه چه تاسو ګورئ ما په خپله ستاسو په وړاندے دَ
هغهٔ تحقیقات وکړل اَوْ په هغهٔ کښې مے هغه جُرم ونهٔ مُوندلو چه تاسو پرے دَ کُوم دعویٰ کړے ده. ۱۵
اَوْ نهٔ هیرودیس په کښې څهٔ ومُوندل ځکه چه هغهٔ هغه بیرته مُونږ ته راولیږلو. ښکاره ده چه هغهٔ داسے
څهٔ جُرم نهٔ دے کړے چه دَ مرګ لائق وی. ۱۶ ځکه زهٔ دا تجویز کوم چه دَ یو څو کوړو سزا ورکړم اَوْ
پرے به ئې ږدم." ۱۷ دَ اختر په موقع به هغهٔ ته دا اِجازت وُو چه دَ هغوئ په وینا یو قیدی آزاد کړی.

۱۸ خو ټولو په جمع چغے کړے،"دا سړے لرے کوه! مُونږ ته برابا آزاد کړه!" ۱۹ دا سړے په ښار کښې
دَ بغاوت اَوْ قتل په اِلزام کښې قید کړے شوے وُو.

۲۰ پیلاطوس هغوئ ته بیا مُخاطب شو اَوْ دا ئې غوښتل چه عیسیٰ آزاد کړی. ۲۱ خو هغوئ چغے
کړے،"دَئې په سولئ کړه! دَئې په سولئ کړه!"

۲۲ هغهٔ په دریم ځل بیا هغوئ ته ووئیل،"ولے؟ دهٔ څهٔ ګُناه کړے ده؟ ما هغه دَ څهٔ غټ جُرم مُجرم نهٔ
دے مُوندلے،ځکه به ئې زهٔ دَ کوړو په سزا آزاد کړم."

۲۳ خو هغوئ په ټینګه اَوْ په چیغو ووئیل چه"عیسیٰ دِ په سولئ کړے شی!"اَوْ دَ هغوئ مُطالبه ومنلے
شوه. ۲۴ نو پیلاطوس دا فیصله وکړه چه دَ هغوئ دَ خوښے کار دِ وشی. ۲۵ هغهٔ هغه سړے آزاد کړو چه
هغوئ غوښتو،هغه سړے دَ بغاوت اَوْ قتل په جُرم کښې قید شوے وُو، اَوْ عیسیٰ ئې دَ هغوئ مرضئ ته
وسپارلو.

## دَ عیسیٰ په سولئ کیدل

**(متی ۲۷: ۳۲ - ۴۴،مرقوس ۱۵: ۲۱ - ۳۲،یُوحنا ۱۹: ۱۷ - ۲۷)**

۲۶ چه هغوئ عیسیٰ په سولئ کولو ته بوتلو نو شمعُون کرینی نومے سړے ئې راونیولو چه له میرے نه
راتلو،سولئ ئې هغهٔ ته په اوږه کړه اَوْ هغه ئې په عیسیٰ پسے سولئ په اوږه روان کړو.

۲۷ ډیر خلق ورپسے شول چه په کښې ښځے هم وے،چه سینے ئې وهلے اَوْ دَ هغهٔ په حال ئې ویر
کولو. ۲۸ عیسیٰ هغوئ ته مخ راواړوو اَوْ ورته ئې ووئیل،"اَئے دَ بیتُ المُقدس لُوڼو! په ما پسے ژړا مه
کوئ خو په خپل ځان اَوْ په خپل اَوْلاد وژاړئ. ۲۹ ځکه چه هغه ورځے بے شکه راتلُونکے دی چه هغوئ
به وائی چه بختورے دی شنډے چه کله ئې هم بچی نهٔ دی راوړی اَوْ تے ئې هم نهٔ دے ورکړے. ۳۰
بیا به هغوئ غرُونو ته وائی چه په مُونږ راورغړئ! اَوْ غونډیو ته به وائی چه مُونږ پټ کړئ! ۳۱ ځکه چه که

دا کار دَ شنے ونے سره کیږی نو دَ وچے ونے سره به څۀ چل کیږی؟“

۳۲ دَ عیسیٰ سره دوه بدمعاشان هم وُو څوک چه په سولئ کولو ته بوتلے شول. ۳۳ اَؤ کله چه هغوئ
کپړئ نومے ځائے ته ورسیدل نو هغه ئے هلته په سولئ کړو اَؤ بدمعاشان هم ورسره چه یو ئے ښی لاس
اَؤ بل ئے په گس لاس وُو. ۳٤ عیسیٰ ووئیل،”پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چه هغوئ نۀ پوهیږی چه څۀ
کوی.“

هغوئ دَ عیسیٰ جامے په خپلو کښے په خسنی وویشلے. ۳۵ اَؤ خلق ئے تماشے ته ولاړ وُو اَؤ دَ هغوئ
حاکمانو په هغۀ پورے ټوقے کولے،”هغۀ نور خلق بچ کول،اوس دِ ځان بچ کړی که چرے په رښتیا دَ
خُدائے غوره شوے مسیح وی!“

۳٦ سپاهیان هم په دے ټوقو کښے ورسره ملگری شول اَؤ رامخکښے شول اَؤ هغۀ له ئے سرکه ورکړه. ۳۷
اَؤ وئے وئیل،”که چرے تۀ دَ یهُودیانو بادشاه یئے نو خپل ځان بچ کړه!“

۳۸ اَؤ دَ هغۀ دَ سر دَ پاسه یوه تختئ وه چه پرے لیکلی وُو چه”دا دَ یهُودیانو بادشاه دے.“

۳۹ دَ بدمعاشانو نه یو چه هلته ځوړند وُو عیسیٰ ته پیغور ورکړو،”ولے تۀ مسیح نۀ یئے څۀ؟ نو بیا خپل
ځان اَؤ مُونږ هم بچ کړه!“

٤۰ خو دویم هغه ورټلو اَؤ ورته ئے ووئیل چه ”تۀ دَ خُدائے نه نۀ ویریږے څۀ؟ تا ته هم دَ دۀ په شان سزا
درکړے کیږی. ٤۱ زمُونږ سره خو اِنصاف شوے دے. مُونږ خو دَ خپل عمل بدل بیا مُوندو،ولے دے
سړی خو هیڅ بد کار نۀ دے کړے.“ ٤۲ اَؤ هغۀ ووئیل،”اَئے عیسیٰ! هر کله چه تۀ خپلے بادشاهئ ته
راشے نو ما یاد کړه!“

٤۳ عیسیٰ جواب ورکړو،”زۀ تا ته دا رښتیا وایم چه تۀ به نن ما سره په جنت کښے یئے.“

## دَ عیسیٰ مرگ

**(متی ۲۷: ٤۵ - ۵٦،مرقوس ۱۵: ۳۳ - ٤۱،یُوحنا ۱۹: ۲۸ - ۳۰)**

٤٤ قریبًا دَ غرمے وخت وُو اَؤ په ټول ملک کښے تیارۀ شوه اَؤ دَ ماسپښین تر دریو بجو پورے وه. ٤۵ نمر
پټ شو اَؤ دَ خُدائے دَ کور پرده په مینځ دوه ټوټے شوه. ٤٦ نو بیا عیسیٰ یوه اُوچته چغه وویسته اَؤ وئے
وئیل،”اَئے پلاره! زۀ خپل رُوح ستا په لاس کښے سپارم!“اَؤ دَ دے وینا سره ئے ساه ورکړه.

٤۷ اَؤ صوبه دار دا هر څۀ ولیدل اَؤ دَ خُدائے ثنا ئے بیان کړه.هغۀ ووئیل چه”بے شکه چه دا سړے
صادِق وُو!“

٤۸ خو هغه ټولو خلقو چه تماشے ته راغونډ شوی وُو چه هغوئ دا واقعه ولیده نو سینے ئے ووهلے اَؤ
کورُونو ته بیرته لاړل. ٤۹ دَ عیسیٰ ټول واقفان لرے ولاړ وُو اَؤ کُومے ښځے چه دَ گلیل نه ورپسے راغلے
وے،هغه هم ولاړے وے اَؤ دا هر څۀ ئے ولیدل.

## دَ عیسیٰ ښخیدل

**(متی ٢٧: ٥٧ - ٦١،مرقوس ١٥: ٤٢ - ٤٧،یُوحنا ١٩: ٣٨ - ٤٢)**

٥٠ هلته یُوسف نومے یو سړے وُو چه دَ جرګے ممبر هم وُو،یو نیک اَوُ صادِق سړے وُو. ٥١ هغه دَ هغوئ
په دے عمل اَوُ په صلاح کښے ورسره مُتفق نهٔ وُو. هغه دَ یهُودیانو دَ اریمتیه دَ ښار نه وُو اَوُ دَ خُدائے دَ
بادشاهئ په اِنتظار وُو. ٥٢ نو دا سړے پیلاطوس ته لاړو اَوُ دَ عیسیٰ لاش ئے ترے وغوښتو. ٥٣ دَ سولئ نه
ئے راکُوز کړو اَوُ په مهینه لټه کښے ئے ونغښتو اَوُ په ګټ کښے ئے په کنستی شوی قبر کښے کیښودو
چه دَ دے نه وړاندے په کښے بل څوک نهٔ وُو کیښودے شوے. ٥٤ دا دَ جُمعے ورځ وه اَوُ دَ سبت
ورځ شروع کیده.

٥٥ کُومے ښځے چه ورسره دَ ګلیل نه راغلے وے هغوئ ورپسے وے اَوُ هغوئ قبر په نخښه کړو اَوُ دا ئے
کتل چه دَ عیسیٰ لاش څنګه کیښودے شوے وُو. ٥٦ بیا هغوئ کور ته لاړلے اَوُ عُود اَوُ لُوبان ئے تیار
کړل اَوُ دَ شریعت په مُطابق ئے دَ سبت په ورځ آرام وکړو.

# لُوقا باب ۲۴

## دَ عیسیٰ بیا ژوندے کیدل

**(متی ٢٨: ١ - ١٠،مرقوس ١٦: ١ - ٨،یُوحنا ٢٠: ١ - ١٠)**

١ خو دَ اِتوار په ورځ سحر وختی ښځے قبر ته راغلے اَوُ هغه تیار کړے خُوشبوئ ئے دَ ځان سره راوړے.
٢ اَوُ دَ قبر نه ئے کاڼے رغړیدلے ولیدو. ٣ هغوئ دَ ننه ورغلے خو دَ مالِک عیسیٰ لاش ئے هلته ونهٔ
مُوندلو. ٤ دوئ لا په دے واقعه حیرانے ولاړے وے چه ناڅاپې دوه سړی په بریښناکو جامو کښے دَ
هغوئ خوا کښے ولاړ وُو. ٥ هغوئ وویریدلے اَوُ خپل سرُونه ئے مزکے ته ټیټ کړل خو هغوئ ورته ووئیل
چه"ژوندے په مړو کښے څله لټوئ؟ ٦ هغه دلته نِشته،هغه پاڅیدلے دے. تاسو رایادے کړئ هغه خبرے
چه په ګلیل کښے ئے درته کړے وے ٧ چه اِبن آدم په څنګه دَ ګُناه ګارو سړو په لاس حواله کیږی اَوُ په
سولئ به شی اَوُ په دریمه ورځ به ژوندے پاڅی."

٨ بیا هغوئ ته دَ عیسیٰ خبرے وریادے شوے، ٩ اَوُ دَ قبر نه په واپسئ ئے دا ټولے خبرے هغه یوولسو
مُریدانو اَوُ نورو ټولو خلقو ته واؤرولے. ١٠ هغه ښځے مریم مګدلینی،یوانه اَوُ دِ یعقُوب مور مریم وے اَوُ
دوئ دَ هغه نورو ښځو سره رسُولانو ته دا خبرے وکړلے. ١١ خو دا خبرے هغوئ ته عبث ښکاره شوے
اَوُ هغوئ پرے باور ونهٔ کړو. ١٢ خو پطروس پاڅیدلو اَوُ قبر ته ئے په منډه لاړو اَوُ چه ټیټ شو اَوُ دَننه ئے
وکتل نو دَ تش کفن نه سیوا ئے نور هیڅ ونهٔ لیدل اَوُ هغه په دے شوی کار اریان دریان کور ته لاړو.

## اِماؤس ته تلل

**(مرقوس ١٦: ١٢ - ١٣)**

١٣ هم په هغه ورځ اِماؤس نومے کلی ته دَ دوئ نه دوه کسان روان وُو چه دَ بیتُ المُقدس نه خوا اَوُ شا

اَووۀ ميله لرے دے. ١٤ اَؤ په خپلو کښے ئے په دے واقعاتو خبرے کولے. ١٥ اَؤ هغوئ دَ يو بل سره په
دے بحث کښے لګيا وُو نو عيسیٰ په خپله راغے اَؤ دَ هغوئ سره ملګرے شو. ١٦ خو دَ هغوئ سترګے
بندے کړے شوے وے چه هغه ونۀ پيژنی. ١٧ هغۀ له هغوئ نه تپوس وکړو چه”دا تاسو په تلو تلو کښے
په څۀ بحث کولو؟“

هغوئ غم زپلی ودريدل. ١٨ نو کليوپاس نومے سړی ورته جواب ورکړو،”ولے تۀ په بيتُ المُقدس کښے
يکی يو مُسافر يئے چه دَ دے واقعے نه خبر نۀ ئے چه په تيرو څو ورځو کښے هلته څۀ شوی دی؟“

١٩ هغۀ ورته ووئيل چه”څۀ شوی دی؟“

هغوئ جواب ورکړو چه”دَ عيسیٰ ناصری په حقله چه دَ خُدائے په وړاندے په کلام اَؤ عمل دواړو کښے
يو زورَور نبی وُو. ٢٠ اَؤ زمُونږ مشرانو کاهنانو اَؤ حاکمانو اَؤ ټولو خلقو هغه حواله کړو چه دَ مرګ حُکم
پرے وشی اَؤ په سولئ ئے کړو. ٢١ خو زمُونږ دا طمع وه چه هم دا سړے به بنی اِسرائيل خلاص کړی!
خو يوه غټه خبره په کښے دا وشوه چه نن دريمه ورځ ده چه دا واقعه شوے ده. ٢٢ اَؤ اوس زمُونږ دَ ډلے
يو څو ښځو مُونږ په دے خبره حق حيران کړُو چه سحر وختی دَ هغۀ قبر ته تلے وے. ٢٣ خو دَ هغۀ لاش
ئے ونۀ مُوندو اَؤ دَ دے خبر سره بيرته راغلے چه هغو ته فرښتے ښکاره شوے اَؤ ورته ئے ووئيل چه هغه
خو ژوندے دے. ٢٤ نو زمُونږ يو څو کسان قبر ته لاړل اَؤ څۀ چه هغه ښځو وئيلی وُو هغه شان ئے وليدل
خو هغه ئے ونۀ مُوندو.“

٢٥ عيسیٰ جواب ورکړو چه”اَئے ناپوهه خلقو اَؤ دَ نبيانو په ټولو خبرو ايمان راوړلو ناراسته زړُونو! ٢٦ ولے دَ
مسيح دَ پاره دا مُقرر نۀ وُو چه هغه به دا زحمتُونه وزغمی اَؤ په خپل جلال کښے به داخل شی؟“ ٢٧ بيا
عيسیٰ له مُوسیٰ نه اَؤ له ټولو نبيانو نه هغه خبره واخسته چه څومره خبرے دَ هغۀ په حقله په صحيفو
کښے راغلے دی اَؤ هغوئ ته ئے بيان کړه.

٢٨ په دے وخت کښے هغوئ چه کُوم کلی ته تلل،هغۀ ته نزدے وُو اَؤ عيسیٰ لا په مخه روان وُو. ٢٩
خو هغوئ هغۀ ته په کلکه ووئيل چه”مُونږ سره پاتے شه ځکه چه ماښام کيدُونکے دے اَؤ ورځ په تيريدو
ده.“ نو هغه دَ ننه لاړو اَؤ دَ هغوئ سره پاتے شو. ٣٠ اَؤ کله چه هغه دَ هغوئ سره خوراک ته کښيناستو
نو ډوډئ ئے راواخستله،شُکر ئے پرے وويستو،ټکړے ئے کړه اَؤ هغوئ ته ئے ورکړه. ٣١ بيا دَ هغوئ
سترګے وغړيدے اَؤ هغه ئے وپيژندلو خو هغه دَ هغوئ دَ نظر نه غائب شو. ٣٢ هغوئ يو بل ته
ووئيل،”کله چه په لاره هغۀ زمُونږ سره خبرے کولے اَؤ دَ صحيفو تشريح ئے کوله نو څنګه زمُونږ زړُونه دَ
جوشه ډک شوی وُو!“

٣٣ بيا هغوئ هغه ساعت پاڅيدل اَؤ بيرته بيتُ المُقدس ته روان شول. هلته هغوئ هغه يولس مُريدان اَؤ
نور ملګری چه راټول وُو،وليدل. ٣٤ اَؤ وئيل ئے،”دا رښتيا دی چه مالِک پاڅيدلے دے اَؤ شمعُون ته
ښکاره شوے دے!“

٣٥ نو بيا هغوئ ورته دَ خپلے لارے قيصه تيره کړه اَؤ ورته ئے ووئيل چه هغوئ څنګه مالِک دَ ډوډئ

ماتولو په وخت وپيژندلو.

## په مُريدانو ښکاره کيدل

**(متى ٢٨: ١٦ - ٢٠،مرقوس١٦: ١٤ - ١٨،يُوحنا ٢٠: ١٩ - ٢٣،اعمال ١: ٦ - ٨)**

٣٦ کله چه مُريدان په دے خبرو لګيا وُو نو عيسىٰ په خپله دَ هغوئ په مينځ کښے ودريدو اَوُ ورته ئے
ووئيل،"السلام عليکم."

٣٧ هغوئ ويرے اَوُ هيبت واخستل اَوُ دا ګمان ئے کاوو چه ګنی پيرے دے. ٣٨ خو هغۀ ورته ووئيل
چه"تاسو داسے وار خطا ولے يئ اَوُ ستاسو په زړُونو کښے دا قِسم قِسم وسوسے ولے پيدا کيږی؟ ٣٩ زما
لاسُونو اَوُ پښو ته وګورئ چه دا زَۀ يم. ماله لاس راوړئ اَوُ وګورئ،دَ پيری غوښه اَوُ هډُوکی نۀ وی لکه
چه تاسو وينئ چه زَۀ ئے لرم."

٤٠ دَ دے وينا نه پس ئے لاسُونه اَوُ پښے هغوئ ته وښودل. ٤١ دَ هغوئ اوس هم دَ خوشحالئ په وجه
باور نۀ کيدو اَوُ لا حيران وُو،نو هغۀ هغوئ ته ووئيل چه"ستاسو سره دلته دَ خوراک دَ پاره څۀ شته که
نه؟" ٤٢ نو هغوئ ورله دَ ماهی يوه ټکړه ورکړه چه هغوئ وريته کړے وه. ٤٣ هغۀ واخسته اَوُ دَ هغوئ په
وړاندے ئے وخوړله.

٤٤ عيسىٰ هغوئ ته ووئيل چه"دا زما هغه کلام دے چه کله زَۀ ستاسو سره وم نو درته به مے وئيل چه دَ
مُوسىٰ په شريعت کښے دَ نبيانو په صحيفو کښے اَوُ په زبُور کښے هر څۀ چه زما په حقله ليکلی شوی
دی، هغه به ضرُور پُوره کيږی."

٤٥ بيا هغۀ دَ هغوئ عقل روښانه کړو چه په صحيفو پوهه شی. ٤٦ هغۀ ووئيل چه"دا ليکلی شوی دی چه
مسيح به زحمت وزغمی اَوُ په دريمه ورځ به له مړو نه بيا ژوندے پاځی. ٤٧ اَوُ دَ هغۀ په نامه به ټولو
قومُونو ته دَ ګُناهونو نه دَ توبے اَوُ دَ معافئ وعظ کولے شی. تاسو دَ بيتُ المُقدس نه شروع شئ. ٤٨ هم
تاسو دَ دے هر څۀ ګواهان يئ. ٤٩ اَوُ دا ګورئ،زَۀ تاسو ته دَ خپل پلار کړے لوظ دراستوم،دلته په دے
ښار کښے تر هغے پاتے شئ تر څو چه په تاسو آسمانی قُوت نازل شی."

## دَ عيسىٰ آسمان ته ختل

**(مرقوس ١٦: ١٩ - ٢٠،اعمال ١: ٩ -١١)**

٥٠ بيا عيسىٰ هغوئ بهر دَ بيت عنياه پورے بوتلل اَوُ لاسُونه ئے اُوچت کړل اَوُ هغوئ له ئے برکت
ورکړو. ٥١ اَوُ داسے وشُو چه په برکت ورکولو هغه دَ هغوئ نه جُدا شو اَوُ آسمان ته پورته کړے شو. ٥٢
هغوئ ورته سجده وکړله اَوُ ډير په خوشحالئ بيتُ المُقدس ته واپس شول. ٥٣ اَوُ خپل ټول وخت ئے دَ
خُدائے په کور کښے دَ خُدائے په ثنا وئيلو کښے تيرولو.

This book from the Pashto Bible was downloaded from www.pashtozeray.org. Copyright Pashto Zeray, All Rights Reserved